## د «دوزخ په جنت کې» کیسه

ښه مې نه یادېږي چې د دې ناول لیکل مې کله پیل کړل خو مفکوره یې په ۲۰۱۲ کې ذهن ته راغله. هاغه مهال د لیکوالۍ نړۍوال پروګرام ته ورغلی وم چې په ترڅ کې یې د امریکا د متحدو ایالتونو مختلف ښارونه مو هم وکتل. په دې کې یو ښار شیکاګو و، د ارنسټ همېنګوې د زوکړې او اوسېدو ښار. هلته د سفر په نیمايي کې د زړه تنګون ځوروونکې څپه راباندې راغله. نور ملګري مې د ښار له چکرونو خوند اخیست خو زما لپاره هر څه غمبدلي وو. هلته دغه تصور را ته پیدا شو چې دوزخ مکان نه دی، زمان دی. د «دوزخ په جنت کې» مفکوره هماغه مهال ذهن ته راغله او نیت مې وکړ چې ناول به ورباندې لیکم.

وطن ته چې راستون شوم، څه موده وروسته مې ناول شروع کړ خو په کراتو داسې ځای ته ورسېدم چې نور وړاندې نه شوای تلی. بیا به مې په میاشتو میاشتو غرض پرې نه کاوه او بیا به مې لیکل شوې برخه له پیله تر پایه ولوسته چې بېرته هماغه فضا ته ورننوځم او ناول وغځولی شم. په دې منځ کې مې شپږ اوه نور کتابونه تکمیل او چاپ کړل خو دا یو هماغسې نیمګړی پاتې و تر دې چې نظام نسکور شو او هر څه را ته ختم شوي غونډې واېسېدل. ډارېدم چې زه به نه یم او دغه ناول به، چې ډېر راباندې ګران و، همداسې نیمګړی پاتې شي. د سقوط په اولو شپو کې مې هماغه نیمګړې نسخه راشد خټک، ابمل پسرلي، ډاکټر اکبر اکبر، او د داستاني بنډار د وټس اپ ګروپ نورو ملګرو ته ولېږله او ومې ویل چې که څه راباندې وشول، دا ناول به



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې همداسې نیمگړی چاپوئ. ملگرو ډاډ راکاوه خو پوهېدم چې دوی هم هماغومره ناهیلي وو څومره چې زه وم. خو دوی مې هسې غمجن کړي وو، څه پوهېدم چې اوه میاشتې وروسته به «دوزخ په جنت کې» په جرمني کې تکمیلېږي.

دغه ناول متفاوت دی. زما ادعا همدومره ده. دا چې له نورو ناولونو یې توپیرونه څه دي، تاسې او کره کتونکي به یې معلوموئ. په دې کې یوازې یو دوزخ او یو جنت نه دی، دوزخونه په کې دي او جنتونه په کې دي. ابمل پسرلي یو وار ویلي وو چې دی تصور کوي چې زموږ غږونه په فضا کې پاتې کېږي او ممکن یو وخت داسې وسایل پیدا شي چې د زرگونه کاله مخکې غږونه پرې ضبط شي او موږ یې واورو. په دې ناول کې غږونه او فکرونه لیدل کېږي، په مختلفو رنگونو او شکلونو. د ناول په یوه ځای کې راغلي دي: « هره ولې لکه غشی راباندې لگېده. لکه د ځنگله په منځ کې چې ولاړ یې او د هرې ونې هر ښاخ او هره څانگه غشی وي او درگرده د تا خوا ته گوزارېږي او ته نه ډال لرې، نه زغرې.» دغسې تشبیه مې د اروانښاد سلېمان لایق په منظوم داستان «مردی از کوهستان» کې لوستې وه. د ونې دغه تعریف چې «نباتات هغه موجودات دي چې زموږ فاضله مواد په مېوو بدلوي. موږ خپل فاضله مواد د ونو بېخ ته اچوو او دوی ورنه مېوې جوړوي.» زما د کشر زوی، مجیب الله، خبره ده. همدارنگه د زرو هېندارو کور د یوه حکایت یوه جمله هم په دې ناول کې راغلې ده: «هغوی د حقیقت یوه ټوټه موندلې ده او گومان کوي چې ټول حقیقت همدا دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ناول، بلکې د خپلو ټولو کیسو ډېره زیاته برخه مې په نیمو شپو کې لیکلې ده. د نیمې شپې مطلقه خاموشي د تخیل مرغه تـه د لوړو او اوږدو الوتنو ځواک ورکوي. د دغو خوندورو بې خوبیو مننـدوی یم. ها بله مې ورځ مې فیسبوک د ۲۰۲۰ د جون د ۲٦مې دغه پوسټ رامخې ته کړ: «بېګا مې بیا خوب تښتېدلی و. زه هم شاوخوا دوه بـجې پاڅېدم او تر سهاره کمپیوټر ته کېناستم. د «دوزخ په جنت کې» نـاول مې لړ وغځاوه. د دې ناول ډېرې برخې مې په نیمـو شـپو کـې لیکلـې دي. که بشپړ شو، خپلې بې خوبۍ ته به یې ډالۍ کړم.»

د «دوزخ په جنت کې» نطفه په شیکاګو کې راوټوکېده، په کابـل کې یې وده وکړه، په اسلام آباد کـې یـې اندامونـه تکمیـل شـول او پـه جرمني کې یې خپل جنیني عمر تکمیل کړ. ناول مې تر چاپ مخکې ښاغلي اېمل پسرلي او اسـتاد اسـدالله غضـنفر تـه لېږلـی و. کـور یـې ودان چې د ټایپي املایي تېروتنو د تصحیح په خوا کـې یـې د نـاول د بهترۍ لپاره ګټورې مشورې راکړې.

د قدرمن ډاکټر صاحب صادق ژړک مننه کوم چـې د دې کتـاب چـاپولو تـه یـې لاره هـواره کـړه. خـدای دې دی او ملګـري یـې روغ او خوشحاله لري. همدارنګه د ګران عمر اندېش پـر ګوتـو دې برکـت وي چې د کتاب پښتۍ یې ډیزاین کړې ده.

مینه او درنښت

محب الله زغم

۲۰۲۲ د جولای ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

د بې خوبۍ هغو شپېبو ته چې دا او نورې کيسې
يې راباندې وليکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوزخ په جنت کې

غواړو خوندونه ابدي وي خو داسې نه ده.

خوندور وږم مې احساس کړ. پوزه مې وسونځله. ښه لويه ساه مې واخيسته، ځومره هوا چې مې په سږو کې ځايېدلــه، هغــومره لويه. دغه خوشبويي راته اشــنا غونــدې وه، لکــه د ســنځلو او د گلابو وږم چې سره گډ شوي وي. خو داسې بوی پخــوا هېڅکلــه رابانديې نه و نښتی. خو زه «پخوا» ولې يــادوم؟ کومــه «پخــوا»؟ هېڅ! حافظه مې سپينه وه.

سترگې مې پرانيستلې. اسمان تك شين و، داسې روڼ لکــه لــه بارانه وروسته چې وي. لمره نېغه پر سر مې ولاړ وه. نه گرمي، نه يخني. داسې خوندوره هوا چې ما ويل کاش ټول عمــر همدغلتــه همدغسې پروت وای.

سر مې پورته او لاسونه مې ترې لاندې کړل چــې تکيــه شي. ورو ورو مې شاوخوا ته وکتل. چارچاپېره ونې وې، گــلان وو. د ونو پاڼې او د گلونو گلپاڼې داسې پاکې، داسې ځلېدونکې وې لکه يوه يوه چې دې په خپل لاس په رڼو اوبو مينځلــې وي او داســې زرغونه رڼا يې کوله چې ته وا پاڼې نه دي، ډېــوې دي، څراغونــه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېناستم. ټوله ځمکه په شنه چمن پوښلې وه، ته وا چا شين بخمل پرې غوړولی دی. د چمن له هر ډکي څخه خوشبويي داره وهله او لور په لور او هرې خوا ته خپرېدله.

ځان ته مې وکتل. نرۍ سپين کالي مې پر تن وو. لاس مې پر تېر کړ. داسې پوست او ښوی ولګېد لکه د ګلابو پر ګلپاڼې چې لاس تېروې. پخوا مې هېڅکله داسې کالي نه وو ليدلي. اورېدلي مې وو چې ورېښمين ټوکر همداسې نرم وي؛ خو ليدلی مې نه و. دا «پخوا» نو بيا له کومه شوه؟ لکه چې زما آزار ته يې ملا تړلې ده او نه مې پرېږدي چې پوره خوند واخلم. داسې نو نه کېږي، دا له ذهنه باید وشړم.

وږی وم، لکه د مياشتو مياشتو روژه چې مې وي. څنګ ته مې وکتل. د مڼو ونه، ډك ښاخونه، ولاړه وه. راولاړ شوم. بدن مې سپك و، لکه هوا، لکه خوشبو. د ونې ښاخونه لوړ وو. ما وې ونې ته به پسې وخېژم خو ښاخ پخپله ورو ورو راکښته شو، لاس ته مې برابر شو. ګورم چې په همدې يوه ښاخ کې زېړې، شنې، تورې او سرې رنګارنګې مڼې ځړېږي.

زيړې مڼې ته مې لاس ورووړ. پخپله له ښاخه راجلا شوه او په لپه کې راولوېده. خولې ته مې کړه. غاښونه مې په کې ښخ شول. د سپنج غوندې خورا نرمه وه. خورا خوږه وه.

په خوله کې مې داسې ژر ويلې شوه لکه شيريخ چې په خوله کې اوبه کېږي. ژويلو ته يې حاجت نه و. مڼې نه زړي لرل، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلی. د ایسته غورځولو هېڅ شی په کې نه و. ټوله مې پاکه وخوړه. د منې خوند بیخي بل وړ و. پخوا مې بیروتي، مارلینګ او جورسې منې خوړلې وې خو د دغې منې خوند په یوې کې هم نه و. اوووف! د دې «پخوا» له لاسه خو به لېونی شم. ډېر فکر مې ورته وکړ خو تر هغې شېبې مخکې چې خوندور وړم راویښ کړم، هېڅ شی مې رایاد نه شو. زما «پخوا» همدومره وه.

ښه نو، ما وې راځه دا توره مڼه وڅکه چې د دې خوند څنګه دی. ګورم چې د زېړې منې په ځای کې وار له واره بله منه راشنه شوې ده. تورې منې ته مې لاس یوور. لپه مې ترې لاندې ونیوه. دا هم پخپله راخطا شوه.

څو شېبې مې ښاخ ته کتل. د دې تورې منې پر ځای هم د سترګو په رپ کې تور ګل را وټوکېد، توره غوټۍ شوه، راغټه شوه، توره منه شوه. د تورې منې خوند له زېړې منې بېل و، تر هغې لا خوندوره خو دې منې ژدویل غوښتل. غاښونو مې له منې څخه په خرپ ایستلو عجب خوند اخیست.

شنه منه مې هم وخوړه. د یوې منې خوند تر بلې زیات و. بیخي په ځان پوه نه شوم چې څو دانې مې وخوړې.

د دې ونې تر څنګ د انارو ونه وه. خولې مې انارو ته اوبه وکړې. ورروان شوم. د انارو پوستکی لکه ښیښه داسې روڼ او شفاف و. د منځ سرې دانې یې جوتې ښکارېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه انار ته مې لپه ونيوه. لپه مې په انــار ډکــه شــوه. مــا وې پوستکی به ترې لرې کړم. په نوکانو مې چې څــومره وس وکــړ، خاشه ترې لرې نه شوه. خولې ته مې يووړ. په احتياط سره مــې غاښ پرې ټينګ کړ. غاښونه مې په کې داسې ننوتل لکــه ام چــې مې ټينګ کړی وي. د دانو تر منځ يې پردې نه وې. ژدويلو ته يې حاجت نه و، دانې به يې پخپله په خوله کې ويلــې کېــدې. د انــار خوند هم د هغو انارو غوندې نه و چې ما پخوا خوړلي وو. د دې خوند بيخي نوی و. خدای زده چــې دا «پخــوا» ولــې لکــه ســپۍ راپسې نښتې ده؟ چې څومره يې کورې کومه، بيا راځي.

انار مې هم پاك وخوړ او د ايسته غورځولو شی په کې پاتې نه شو. په خوند يې نه مړېدم. هر انار چې به مې وخوړ، پر ځای به يې بل انار راشين شو. چې هغه به مې وخوړ، بل به راشين شو. د انارو نرموالي ام را په ياد کړ.

ومې ليدل چې د دې ونې څنګ ته د امونو ونه ده.

چې په نوم مېوه مې پېژندله، هلته وه. لا داسې مېوې هــم وې چې پخوا مې نه وې ليدلې. د ټولو ميوو خوند خورا زيــات و. پــه خوړلو يې نه مړېدم. درګرده مې خوړلې، خوړلې، خوړلې.

پر نس مې لاس راتېر کړ. داسې سپك و لکه هېڅ شی چې مې نه وي خوړلی. د مېوو خوند يوه خوا او د حيرانۍ کيف بله خــوا، بلکې لا ډېر خوند خو په حيرانېدو کې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې چې تېرې شوې، خولې راباندې راغلې. له خولو مې د ټولو میوو ګډ بوی راالټېده.

لمرې ته مې وکتل. سترګې یې را ونه برېښولې. داسې مهربانه لمره مې کله هم نه وه لیـدلې. لمـره د داســې اور غونـدې وه چــې تودول خو کوي خو سوځول نه کوي.

ما ډېر وخت د مېوو په خوړلو او د باغ په چکر تېر کړی و خو لمره لا همغسې نېغه ولاړه وه او له خپله ځایه هېڅ خوځېـدلې نــه وه.

د لمرې د وړانګو هرې ذرې زما څرمن داسې نازوله لکه په یخ ژمي کې چې تودې سقاوې ته ورننـوځې او د سرو اوبــو تــاوده بخار درباندې ولګېږي او بیا تودې اوبه پر ځان راخوشې کړې او بدن دې ټکور ټکور شي.

هی هی! خوند اخیستل نو خورا لوی نعمت دی خو ارمان چې ابدي وای.

ځمکې ته مې وکتل. ونو سیوري نه لرل. د ځــان پــه ســیوري پسې وګرځېدم خو زما سیوری هم نه و. ته وا ټول بـدن مــې لــه ښیښې جوړ شوی. حیران شوم چې دا نو کوم ځای دی؟ هر څــه په کې آشنا وو خو هر څه نا آشنا وو. ګومان مې کاوه چې دا ځای به مې ډېر پخوا، په لرې زمانو کې لیدلی وي. ښایي په ماشومتوب کې، ښایي تر ماشومتوبه مخکې. یا به دا هسې زما ګومان و. کله چې یو څوک، یو ځای، یا یو شی دې خوښ شي، ګومان کوې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پخوا دې ورسره رابطــه وه او يارانــه مــو زړه ده. ســړی څــه پوهېږي، ښايي همداسې وي.

په خوندونو کې دې خوا ها خوا گرځېدم. لښتيو ته ورسېدم. د مالوچ په رنگ تکې سپينې اوبه په کــې بهېــدې. ورنــژدې شــوم. گورم چې اوبه نه دي، شيدې دي.

شيدو ته وهوسېدم. لپه مې ورنژدې کړه خو له لښتي څخــه د شيدو يوه داره راپورته شوه. مخامخ مې خولې ته راغله. خولې ته څه چې دغسې نېغې معدې ته مــې تېرېــدلې. د شــيدو د تېرولــو لپاره د ساه بندول نه وو په کار. ما بې غمه، آرام آرام ساه ايســتله او شيدې مې له ستوني څخه پخپله تېرېدلې.

ښه مې تنده پرې ماته کړه. لږه ها خوا په بل لښتي کې ټينــگ خو اوبلن زېــړ بخــون شی ســوکه ســوکه بهېــده. خــوا تــه يــې وروخوځېدم. د شاتو لښتی و، خو داسې روڼ چې لاندې د لښتي تل راښکارېده.

خوله مې ورته خلاصه ونيوه. د شاتو داره مې خولې ته راغله. واه! عجيبه خوند يې و. داسې مهربان خوږلــت چــې ســتونی دې هېڅ نه تخنوي.

چې هرې خوا ته تلم، بس خوندونه وو او زه وم. د وخت پتــه راته نه لگېده خو بيخي ډېر گرځېدلی وم. لمرې ته مې وکتل. لا هم هماغسې نېغه ولاړه وه.

حيران شوم چې نو دا څه چل دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیوری نشته او لمره ځای پر ځای ولاړه ده.

خوب راغی. چې ځنگه وغځېدم، یو دم لمره ورکه شــوه. تــوره شپه شوه او سم له واره خوب یووړم.

څومره وخت ویده وم؟ شپږ ساعته، اته ساعته، لس ساعته که لا زیات؟ ښایي څو شپې یا څو اونۍ، نه پوهېږم خو هرې شــېبې یې جلا خوند درلود. یو وخت مې یو خوږ وږم احساس کړ. لویــه ساه مې واخیسته. خوشبویي مې ټول سږي راډک کړل.

د څه شي بــوی و؟ هــر څــه چــې و، راتــه آشــنا غونــدې و. خوشبویي له پاسته نري باد سره راتله او وار په وار سره زیاتېده. رایاده مې شوه. دا د سنځلو د عطرو خوشبویي وه.

سترگې مې هماغسې پټې وې. له ځان سره مې ویل چې کاش دا خوند ابدي وي. کاش تل دغسې پروت وای او دغه خوشــبویي مې بویولای. خو زه ولې د دې هر څه له ختمېدو ډارېږم؟ لا خــو هر څه خوندور دي نو ډار ولې؟ ولې کله «پخوا» سپیتانه کوي او کله د سبا وېره. دواړه به له ذهنه پسې واخلم. ځغلئ د سپي لوښو!

خوشبویي مې یوازې په پوزه نه احساسوله. په لاسونو، په ټټر او په اورمېږ مې، په سر او په ټول بدن مې خوشبویي حس کوله. لکه د بدن هر غړی مې چې د پوزې کار کوي. په تندي مې زیاتــه خوشبویي احساس کړه. سترگې مې پرانیستې. نری لاس مــې پــر تندي ایښودل شوی و. لاس د سپین نري پاچ د کمیس له لســتوڼي څخه راوتلی و. گوتې یې د هوا غوندې پستې وې. دومــره پســتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوتې چې ما يې يوازې خوشبويي حس کوله خو دروندوالی يې نه.

کميس يې دومره نری و چې ټول بدن يې تر لاندې داسې ځليده لکه فانوس کې څراغ. د ارت کميس له منځه راوتلې يوه لوېشت اوږده غړۍ، زنه نرۍ، سور سپين مخ. نه. سور نه، ګلابي، داسې تت ګلابي رنګ چې له سپين سره ګډ وي. ته ودرېږه، څه ښه يې ويلي وو. امممممم ... هو، ويلي يې وو:

مخ دې په سپين کې سرخي وايي

لکه خاصه چې پر ګلاب وغوړوينه

بالکل همدغسې مخ يې و. په اننګو کې يې سرخي لږه زياته وه او څومره چې د تندي او زنې خوا ته ورتلې، هماغومره په کې سپين زياتېده.

سترګې د آسمان په رنګ، نيلي. په رانجو نرۍ تورې شوې. باڼه د لومړۍ شپې سپوږمۍ. پزه نرۍ، سپږمې وړې، د پوزې څوکه لږه پورته خوا ته ښويه توږل شوې. پاسنۍ شونډه يو څه نرۍ او لاندنۍ لږه غوښنه خو د ګلابو په رنګ.

سر يې ټيټ کړ. د خرما په رنګ، د وربښمو په پوستوالي، د سنځلو د ګلو په خوشبويي ول ول زلفې يې پر مخ راولګېدې. سر يې نور هم راټيټ کړ. لاس يې له څنګله قات شو. شونډې يې پر شونډو راکېښودې. بدن مې تود شو. ښايسته اور راپورې بل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې وروسته يې په غېږ کې داسې ستړې ستومانه پروت وم چې ته وا ښه لوی پټی به مې اړولــی وي. سر مــې د هغــې د سينې پر چپه خوا لګېدلی و او ستمی مې کېده.

اخخخخخ! دومره خوند مې هېڅکله نه و ليدلی.

پستې ګوتې يې په ويښتو کې راتېرې کړې. ويې ويل: بس؟

اخ! څومره خوږ آواز يې و. په آواز کې يې ترنم و، موسيقي په کې وه. په همدې يوې خبرې کې يې بلا ډېر خوندونه پراته وو.

سر مې د هو په مانا وښوراوه.

ساه مې تېزه تېزه اخيسته او لــه هــرې ســاه سره مــې د دې خوشبويي احساسوله. کاش چې دا خوندونه ابدي وای!

ناڅاپه يې وويل: زنا دې وکړه؟

اوچت پورته شوم. پر ګونډو کېناستم.

بې اختياره مې له خولې ووتل: استغفرالله، استغفرالله، توبــه خدايه ، توبه خدايه!

دا هم کېناسته. نيلي سترګو يې مخامخ راوکتل. پــه کــټ کــټ خندا کې يې وويل: هاهاها، ليونيه! مه وېرېږه. دلته ګنــاه نشــته. دلته هر څه بس ثواب ګڼه.

له خندا نه يې د سنځلو د ګلو وږم بادېده.

زما لاسونه يې د خپلو لاسونو په منځ کې ونيول.

لاس مې پوزې ته نژدې کړ. د سنځلو د ګلو عطر پرې نښتی و.

بيا يې ښه خوشبويه مستانه خندا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه مې وکړه: ته څوک يې؟

ويې ويل: ستا لپاره حقه، حلاله.

نرۍ گوتې يې راغلې، پر تندي مې ولگېدې. پر سترگو مې راتېرې شوې. د پوزې له يوه اړخه مې کښته راغلې. شونډې يې رالمس کړې او بيا لرې شوې.

ولاړه شوه. زلفو ته يې څنډ ورکړ. د سنځلو د گلو د خوشبويۍ تېزه څپه په فضا کې گډه شوه.

مخ يې واړاوه. روانه شوه. له هر پله سره يې په فضا کې خوشبويي خورېدله. د زرغون چمن په منځ کې يې د پښو خاپونه اوچت ښکارېدل.

ورپسې رهي شوم.

چېرته چې به دې قدم ايښی و، هلته د سنځلو خړ او ژېړ واړه واړه گلونه ټوکېدلي وو.

پرې غږ مې کړ: ودرېږه! ته څوک يې؟

مخ يې راواړاوه، ويې ويل:

مه سپړه رازونه چې خراب به شې

پاتې وي خوندونه، په عذاب به شې

بېرته يې خپله لاره ونيوه.

زه هم ورپسې شوم.

دې وخت کې مې ځان ته پام شو. لوڅ لغړ وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای پر ځای کېناستم. لاسونه مې له زنګنو راتاو کړل. شا و خوا ته مې وکتل. هره خوا ځمکه داسې هواره وه چې هېڅ شی د چا له سترګو پټ نه پاتې کېده. هرې خوا ته مې سترګې وغړولې خو هلته هېڅوک نه وو.

کرار کرار راولاړ شوم. زه په دې ارته ځمکه کې یوازې وم.

هغه هم را نه لرې تللې وه.

بېرته راوګرځېدم. وږی وم. خواږه شي ته مې زړه وشو. خواږه نه، ترسکون چې تروه او خواږه په کې ګډ وي.

مخې ته مې د انارو لښته راوټوکېده. په درنګ شېبه کې رالویه شوه، څانګې یې وکړې، ونه شوه. ګلونه یې راوسپړل، میوه یې را لویه شوه، غټ انار شو خو پوستکی یې د ښیښې غوندې داسې شفاف چې سرې دانې یې له ورایه معلومېدې.

یو دانه انار پرانیستل شو. دانې یې یوستوې خولې ته مې راغلې. د انار هره دانه چې مې خولې ته لوېدله، په مدار مدار ویلې کېدله. لکه واوره چې په اوبو کې واچوې. هره شېبه یې خوندوره. ویلې کېدل یې، تر ستونې تېرېدل یې، په معده کې ګرځېدل یې. ته وا ټول بدن مې د خولې غوندې خوندونه حس کولای شي.

ټوله ونه مې وخوړه خو نس مې دومره هم درووند نه شو، لکه د یوې ګولې په خوړولو چې درنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرې خوا ته خوشحالۍ وې. د لمرې هره وړانګه چې پر بـدن مـې لګېدله، په ټول وجود کې مې خوشحالي راټوکېدله. هره ساه مـې خوشحالي وه. هر قدم مې د خوښيو زېږوونکی.

د چمن وږم له خوشحاليو ډک و، نرۍ شمال له خوشـحاليو سره.

يو دم مې په ذهن کې يوه پوښتنه پيدا شوه: زه څوک يم؟

په ځان کې ډوب شوم. خوشحالۍ مې هېرې شوې. سر مې سپک و، لکه هېڅ ماغزه چې په کې نه وي.

ډېر فکر مې ورته وکړ خو ځواب مې پيدا نه کړ.

زه څوک يم؟

هېڅوک.

هېڅکله مې ځان نه و ليدلی.

که زه څوک نه يم، نو دا لفظونه څه دي؟

له هغې ښکلې سره مې خبرې څنګه وکړې؟

خبرې مې چېرې زده کړې دي؟ له چا مې زده کړې دي؟

دا اوس چې وربانديې فکر کوم، دغه توري مـې لــه کومــه ځايــه راوړي دي؟

که زه څوک نه يم نو دا فکر څنګه کوم؟

د هغې ښکلې خبره مې رايادې شوه:

مه سپړه رازونه چې خراب به شې

پاتې وي خوندونه، په عذاب به شې

دا خبره يې ولې را ته وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر مې نه خلاصېده. هېڅ نتيجې ته ونه رسېدم.

ځان سره مې وويل: راځه، د هغې ومنه. رازونه مه سپړه، يـوازې خوند واخله.

په زړه کې مې راوګرځېدل: کاشکې الوتلی شوای.

له غبرګو تخرګونو نه مې څـه راوټوکېـدل. وار لــه واره يـې وده وکړه. لوی لوی وزرونه شول. وزرونه مې سوکه سـوکه ورپـول. پښې مې له ځمکې راجلا شوې. پورته شوم. په هوا شوم.

شېبه په شېبه له ځمکــې لـرې کېـدم او څـومره چـې بـره تلـم، هماغومره مې لا زيات خوند اخيست.

ښی لاس مې کښته کړ، ښي لوري ته تاو شومه. چپ لاس چې مې کښته کړ، چپې خوا ته ولاړمه. پښې مې په هـوا کـې لــه شـا راپسې څکېدې، لکه د اوبو پر سر يا پر هواره ځمکه چې څکېـږم، هماغسې هوار.

سر مې کښته کړ. د ځمکې خوا ته رهي شوم. چې پورته مــې کړ، د آسمان خوا ته.

د سمندر د څپو په شان ټيټېدم او جګېدم. وخــت د خونــدونو ټال و، هره ټالۍ يې د خوندونو څپه، هره شــېبه يــې د خونــدونو نړۍ. زړه مې غوښتل چې تل تر تله په هوا کې پاتې شم. زړه مې غوښتل چې دا خوندونه ابدي وای.

ځمکې ته مې وکتل. د لوېشت قدر ځای هم په کې سپېره نه و. هرې خوا ته شنېلي، چمن او ونې، باغونه، ګلونه، غرونه، غونډۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ډېر سيندونه. خو غونډۍ او غرونه هم د سمې غونډې سمسور. ته وا په غرونو کې ډبرې نه دي، بوټې دي، گلونــه دي. ونــې وې شنې زرغونې، د ونو پاڼې د رنگونو باران. زېړې، زرينــې، سرې، زرغونې، گلابي، زمردي، نارنجي، نيلي، سپينې، د اوبو غونډې بې رنگې او شفافې، بس چې څومره رنگونه پېژنې او لا يې نه پېژنې، په هماغومره رنگونو پاڼې په کې وينې.

پر يوه سيند ورکښته شوم. اوبه يې داسې رڼې وې چې په تل کې يې د شگو هره سپينه، هره زېړه ذره ډېره صفا راښکارېدله.

کاش ماهي وای او په سيندونو کې گرځېدلای. لاسونه مې مخې ته وغځول. سيند ته ورننژدې شوم. وزرې مې شاه‌پرې شوې. په اوبو کې ورننوتم. سترگې مې خلاصې وې. هر څه مې صــفا ليــدل. د سيند تر تله لاړم. موټی مې له پستو شگو را ډک کړ. جالبــه دا وه چې په اوبو کې مې ساه نه ډوبېده. لکه د ځمکې پر سر چــې بــه وم، هماغسې مې آزاده ساه ايستلی شوای.

اوبه ترمې وې، پستې وې، معطرې. گومان مې کــاوه چــې د اوبو هر څاڅکی مې په پوستکي ننوځي او لکه خوږمن غړی چې ټکور ته خوشحالېږي، د بدن هرې ذرې مې ترې نه خوند اخيست.

څنگه چې په هوا کې به کله بره کله کښته تلمه، په ســيند کــې هم، کله يې تل ته کوزېدم او کله د اوبو سر ته راوتلــم. هــره ذره، هره شېبه يې د خوندونو نړۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره چې وړاندې تلمه، سیند هماغومره پراخېده. یــو وخــت نو داسې ځای ته ورسېدم چې هرې خوا ته مې اوبه وې، اوبه وې او اوبه وې، خو هماغسې رڼې.

په سمندر کې نو بیخي بله دنیا وه. ښه په کې تر ژورو پــورې لاړم. تل ته یې نږدې شوم. څه کافرې رڼاګــانې؟ رنــګ پــه رنــګ بوټي لکه ډېوې. شنه رڼا، ژېړه رڼا، سره رڼا، سپینه رڼا. له هر یو بوټي څخه د هماغه بوټي په رنګ رڼا خپرېدله. هره رڼــا یــې پــر سترګو داسې لګېدله، لکه په سره ګرمۍ کې چې پر ســترګو یخــې اوبه تېرې کړې.

لا ورنژدې شوم. شین بوټی له شنو غمیو ډک و، په سره بوټي کې سره غمي، هر بوټی مالامال و په غمیو د خپل رنګ او غمي یې وو د لمر غوندې ځلانده. کاش هغه ښکلې هم راسره وای!

کله چې ښایسته شی وینې او یو څوک دریــادېږي او غــواړې چې هغه یې هم ووینې؛ نو پوه شه چې هغه له زړه نــه دربانــدې ګرانه ده. کله چې ښه خوراک خورې، بیــا دې هــم هماغــه کــس سترګو ته درېږي او زړه دې غواړې چې په هغه یې هم وخــورې. چې ښه منظره وینې، غواړې چې هغه دې هم په څنګ کې ولاړه یا روانه وي او دغه خوند ورسره ووېشې. نو هغه به تر ټولو زیاتــه دربandې ګرانه وي. ما ته په هر ځای کې ښکلې رایادېدله نو هغه به راباندې تر ټولو زیاته ګرانه وي. جالبه دا ده چې پــه یــو ځــل لیدو څنګه راباندې دومره ډېره ګرانه شوه. نه یې نوم را ته معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، نه يې پته؛ خو داسې مينه مې پرې راغلې ده چې ته وا د ډېر عمر يارانه به مو وي. رښتيا، زه خو همدغه يــو كــس پېــژنم. بــل څوک كله پېژنم! له دې نه پرته خو مې څوک لا ليــدلي نــه دي. زه خو لا ځان هم نه پېژنم. زه څوک يم؟ خدای زده. خو ولې به مــې سر خوږوم؟ ښكلې رښتيا ويله چې: «مه سپړه رازونه چې خــراب به شې/ پاتې وي خوندونه، په عذاب به شې.» دا خوندونه به ولې په هسې پوښتنو خرابوم. خو كه زه نور څوک نه پېــژنم نــو هغــه خبره څنگه را نه وشوه چې د هر خوندور شي په ليدو تــر ټولــو گران كس دريادېږي؟ كسان بايد ډېر وي چې يو يې تر ټولو گران شي.

اووف! دغه لعنتي پوښتنې نو ولې رانه لاس نه اخلي؟

ځان مې د غميو په ليدلو بوخت كړ. دا غمي بــه د ښــكلې پــه غاړه كې څومره ښــه ښــكاره شي. د هغــې دنگــه غــړۍ او دغــه پرقېدونكي غمي. رنگ رنگ غمي مې راټول كړل. هــار مــې ځنــې جوړ كړ. هار مې په غاړه كې واچاوه چې خپلې گرانې ښــكلې تــه يې يوسم.

د اوبو سر ته راوختم. لاسونه مې پورته ونيول. له اوبو نــه را بهر شوم. وزرونه مې بېرته راپيدا شول. په الوتو شوم. هېڅ ساړه مې ونه شول. بدن مې يو مخ وچ و. ته وا بيخي اوبو ته لوېدلی نه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښېږه مې وه چې خپلې ښکلې ته ځان ژر ورسوم. له سيندونو، له باغونو، له غرونو او غونــډيو نــه را واوښــتم. د هغــې د پښــو خاپونه راښکاره شول. د هر پله په ځای کې يې د سـنځلو خــر او ژېړ واړه واړه گلونه. پسې ورغلم. وروستی پل يــې د يــوې رڼــې چينې پر غاړه و.

څو شېبې ورته کېناستم.

رانغله.

خوله مې خلاصه کړه چې را ويې بولم. خو په څه نامه يــې را وبولم؟ هغې خو خپل نوم نه و راښودلی.

فکر يووړم.

د سنځلو د گلو وږم مې د څټ په پوســتکي ولگېـد. مـخ مــې واړاوه. پخپله وه.

دا ځل مې يې سترگو ته په ځير وکتل. داسې نيلي سترگې مې هېڅکله نه وې ليدلې. سترگې يې ډېرې اثرناکې وې. گومــان مــې کاوه چې له سترگو يې پسته نيلي رڼا راوځــي او ټــول بــدن مــې نازوي. زړه مې غوښتل چې په سترگو کې يې ډوب شم. ورننوځم او هماغلته دېره شم.

په زړه کې مې دا خبره راتېره شوه چې: راشه او زما د نــاقرار زړگي قرار شه ته.

گورم چې هغه هم په ښکلي ترنم کــې وايــي: راشــه او زمــا د ناقرار زړگي قرار شه ته. راشه او زما د ناقرار زړگي قرار شه تــه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا لا–لا للــلا–لا للــلا– لا للالــلا؛ همهــم–همهههمهــم–همههمهــم–همههمهم همهم.

لاسونه يې راوغځول. په سينې پورې يې جوخت کړم. ټول بدن مې کرار شو. غېږه يې داسې وه لکه ډېر سترې يخ وهلــی ســړی چې په ګرم بستر ورننوځي او د بستر تودوخه يې ســوکه ســوکه ستوماني لرې کوي او چې راپاځي، خاشه ستړيا يې پاتې نه وي.

له ځانه سره مې ويل چې کاش دغه آرامي ابدي وای. خــو لــه دې خوند سره وېره ولې مله وه؟ وېره مې وه چــې هســې نــه دا خوند مې له لاسه وځي. هسې نه داسې وخت راشي چې يا خونــد نه وي يا زه نه وم.

موږ ډېر بد مرغه يو. د دې پر ځای چې د راحت او خوښۍ په وخت کې پوره پوره خوند واخلو، په دې ډارېږو چې هسې نه دغه خوند او خوښي څوک را نه واخلي يا دې موږ ورنه واخلي. ولې را ته ټوله دنيا د خپلې نېکمرغۍ دښمنه ښکاري؟

رښتيا زه خو سترې هم نه وم. هره شېبه مې په خوندونو کــې تېره کړې وه. په خپله حافظه کې چې څومره شا ته تلم، غيــر لــه خونده مې بل څه نه يادېده. نو ولې د داسې آرامۍ تږی وم؟ کــه سترې نه وم نو د ښکلې غېږې کومه ستړيا را نه لرې کړه؟

د ښکلې له هرې ساه سره مې سر کښته پورته کېده او لکــه دا مخکې چې په اوبو او په هوا کې به کلــه بــره، کلــه کښــته تلمــه، هماغسې يې خوند راکاوه. نه، هغسې نه و. دا خوند جلا غونــدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. په هېڅ شي کې دومره خوند نشته. دغه خوند په کلمو نه بيانېږي. په دې خوند يوازې هغه څوک پوهېږي چې يار په غېږه کې نيولى وي.

بيا هم يوې پوښتنې دغه خوند راځنې ولوټ: ښکلې څنګه کټ مټ هماغه جمله زمزمه کړه چې زما په زړه کې ګرځېده؟ دا زما په زړه څه خبره وه چې ويې ويل: راشه او زما د ناقرار زړګي قرار شه ته؟

دا خو هغه خبره وه چې زما په زړه کې ګرځېده خو لا مې له خولې نه وتلې نه وه.

لا مې دا پوښتنه په ذهن کې وه چې دې وويل: ګرانه! دغه پوښتنې دې له ذهنه وشړه. مه پرېږده چې خوندونه درنه هېر کړي. هاهاهاها

مه سپړه رازونه چې خراب به شې

پاتې وي خوندونه، په عذاب به شې

ور ومې کتل. پر شونډو يې مهربانه معطره موسکا خوره وه. لاس يې زما پر سترګو کېښود. ذهن مې کرار شو. هر څه مې هېر شول.

لاس يې ايسته کړ. سترګې مې پرانيستې. نړه ښکلا مې مخې ته ناسته وه.

نور هم را نژدې شوه. زما لاسونه يې خپلو ويښتانو ته يوړل. خو زما ګوتې يې له ويښتانو څخه ملا ته ور وښويېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېبه وروسته هر څه ختم شول.

د دې له مخه تود ورېم پورته کېده. د ګوتو سرونه يې د ويښــتانو په منځ کې او ورغوي يې غمبورو ته نيولي وو.  خوله يــې نيمــه غوړېدلې غوټۍ ته ورته شوې وه.

په کراره مې له ځانه لرې کړه.

ويې ويل: وحشي!

څنګ ته شوه. مخ يې د چينې خوا ته واړاوه. سر يــې پــر زنګانــه کېښود. اوږدې زلفې يې پر ولو او مټو را خورې شــوې او دا پــه خپلو خوشبيو زلفانو کې پټه شوه.

ساه مې سمه شوه.

کېناستم.

ورغږ مې کړ: ښکلې!

ځواب يې رانه کړ.

بيا مې وويل: ښکلې!

د زګيروي په شان کرار آواز سره يې وويل: وحشي!

دا خبره راته آشنا غوندې وه. غږ يې بل شان و او دغه نوی غــږ را ته آشنا ښکارېده. خو د چا غږ داسې و؟ دا غږ مې چېرته اورېدلی و؟

چا راته وحشي ويلي وو؟

هېڅ مې ذهن ته رانغلل.

ښکلې وخندل. بيا يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه سپړه رازونه چې خراب به شي
پاتې وي خوندونه، په عذاب به شي

دا ځل یې غږ خپل و. هماغه مترنم غږ، هماغه آهنګین او موسیقار غږ.

مخ یې را واړاوه. ویې ویل: زړه مې! هله! ژر کــوه، زمــا ســوغات راکه.

اوه! سوغات خو چور را نه هېر شوی و.

له غاړې نه مې د غمیو هار را وایست.

دې را ته شا کړه. غاړه یې هسکه ونیوله. اوږدې زلفې یې راټــولې کړې او په یوه لاس یې پورته ونیولې.

د غمیو غاړه‌کۍ مې په غاړه کې ور وتړله.

د هر غمي رڼا یې له څټ څخه په بېل بېل رنګونــو راوتلــه. تــه وا بدن یې له ښیښې جوړ شوی.

مخ یې را واړاوه. پر یوه یوه غمي یې ګوتې تېرې کــړې. پوښــتنه یې وکړه: زړه مې! په کوم رنګ ښایسته ښکارېږم؟

ومې ویل: اخخخ شیرینې! دا را نه مه پوښته چې کوم رنــګ کــې ښایسته ښکارېږم؛ رنګونه تا سره ښایسته ښکارېږي. ستا ښایست دی چې رنګونو ته ښکلا ورکوي.

زلفانو ته یې څنډ ورکړ او د سنځلو د ګلو عطر یې پــه هــوا کــې خپره کړه، به ناز یې وویل: دا خو ده.

ومې ویل: اوس خو دې نوم راوښییه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل: اوووف! زړه مې! اوس نه. لا يې وخت نه دی رسـېدلی. اوس يوازې خوند واخله. پوهېږې چې څه وايـم؟ خونـد واخلـه، خوند.

دې سره يې لاسونه زما پر اوږو کېښـودل. ورو ورو يــې لاســونه کښته خوا راوښويول.

د لاسونو هره برخه مې د هغې د لاسونو لګېدو ته منتظره وه. لکه روژتي چې د روژه ماتي دسترخوان ته ناست وي او مخې ته يــې خوندور خواړه پراته وي او دی د ماښام آذان ته انتظار کوي.

لاسونه يې همداسې کښته راتلــل. لــه څنګلــو مــې راتېــر شــول. مړوندونه يې رالمس کړل. ګوتې يې را ونازولې او يو دم يې شا ته ټوپ کړ.

شړق شو. په چينه کې ولوېده. لاړه، ډوبه شوه.

د چينې اوبه لکه هينداري شــوې او يــوازې زمــا څېــره پــه کــې برېښېده. لاندې هېڅ شی ترې نه ښکارېده.

راپاڅېدم. د باغ په لوري روان شوم.

د هغې خبرو اندېښنه را اچولې وه. که اوس يې وخت نه دی، نو د رازونو د سپړلو وخت به کله وي؟

«وحشي!»

«وحشي!»

دا کلمه ولې را ته آشنا غوندې ده؟

او ځوروي مې ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه یو څوک چې مې له نارینتوبه انکار کړی وي. لکه یو څوک چې پیغور راکړی وي چې ته چنداني نر نه یې او مزه‌ګۍ دې نشته.

ولې داسې فکر کوم؟ دا خبرې څه مانا؟

«دلته ګناه نشته، دلته هر څه بس ثواب ګڼه.»

نو ګناه چېرته وي؟

روان وم خو په چورتونو کې ډوب.

داسې مې احساس کړ چې څنګ ته مې بل څوک هم روان دی. ور ومې کتل. سیوری مې و. تر دې مخکې مې بیخي سیوری نه و خو اوس راپیدا شوی و. خو زما سیوری پر ځمکه نه و پروت. ولاړ و. په چپه خوا کې مې، زما په اندازه، سم را سره څنګ په څنګ روان و.

یو وخت مې پام شو چې بره خوا روان یم. پورته مې وکتل. مخې ته مې غونډۍ وه. د ځمکې په شان، په شنو چمنونو پوښلې. پر سر یې مرمرینه ماڼۍ.

تلوسه را ولوېده.

ګامونه مې چابک کړل. له خپل سیوري سره یوځای ور روان شوم.

د زرغونو مرمرو ښکلې ماڼۍ.

ورننوتم. له هرې خوا نه رڼا راتلله. سپینه، زرینه – ژېړه مهینه – توره او سره – شنه، ګلابي – نیلي، آبي – نارنجي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماڼۍ منځ کې لوړه ګنبده، پر پنځو ستنو ولاړه. هره ستن یې د مرمرو له بېل رنګه جوړه شوې. هرې ستنې نه د ځان په رنګ رڼا راوته او ټول رنګونه په مرکز کې بړبوکۍ غوندې په څرخ و نڅا.
پر غولي د دغو پنځو ستنو تر منځ یو پنځه ګوټې مرمرین ډنډ و، په ډنډ کې سرې اوبه وې، یا به سره شربت وو. خدای زده چې څه وو.

د پوړیو پر دوو پټو ور وختم.

د ډنډ پر غاړه زرین جام ایښی و. له شربتو مې را ډک کړ. خوندور وږم یې و. جام مې را پورته کړ. د ژبې څوکه مې په کې غوټه کړه. خوند یې را ته نوی و. دغه خوند نه خوږ، نه تریو و، نه هم تریخ و، نه اوبو غوندې بې خونده.

یو غړپ مې ځنې وکړ.

شربت سوکه سوکه د ژبې له سره د ستوني خوا ته تېر شول. بیا په مرۍ کې ورو ورو کښته خوا روان شول او معدې ته ورسېدل. ما یې د حرکت هره شېبه حس کوله. له هرې شېبې نه یې خوندونه ورېدل.

بل، بل، او بل غړپ.

جام مې تش کړ. سر مې سپک شو. نه، نه، سپک نه شو، لږ درووند شو. نه پوهېږم څه خېل وشو خو احساس مې خوندور و. اندېښنې کرار کرار را نه لرې شوې. وحشي، ګناه، ثواب ... هر څه مې هېر کړل. ځنګ ته مې وکتل. سیورې مې بیا ورک شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښکلې خبره مې را یاده شوه:

مه سپړه رازونه چې خراب به شې

له خولې نه مې دغه خبره بې اختیاره پر له پسې وتله خو هر ځل تر بل وار کشداره:

مسـ – پړه را – زونه، چې خرااب، به شې

مسسسسـ ـ پړه، را- زوووونه چې خرررر – ااب به – شې

ژبه مې درنه وه. لاسونه او پښې مې هم دغسې. بدن مــې تــود و. پوه نه شوم چې کله خوب یووړم؟ خدای زده چې خــوب وړی وم که بې سده شوی وم.

د سنځلو د ګلو عطر وښورولم او را بیدار یې کړم.

د هغې آرام خو له شوخۍ ډک آواز مې واورېد: شراب دې وڅښل؟ شرابخوره، خطاکاره! زناکاره! ګناهکاره!

اوچت را کېناستم.

خوله مې بې اختیاره توبې ته جوړه شوه.

خو هغې مې پر شونډو لاس کېښود: اششششش! دلته ګنــاه نشــته، دلته هر څه بس ثواب ګڼه. هاهاهاهاها.

په غېږه کې یې ونیولم.

زړه مې کرار شو. غېږه یې داسې را ته واېسېده لکه نه ماتېدونکې کلا چې هېڅ بلا په کې ننوتلی نه شي او سړی نو پــه کــې د آرام ساه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پوزې يې خوشبويه ساه راوته. توده سينه يې د ټکور غونـدې وه.

په غوږ کې يې ور وپسنېدم: ته څوک يې؟

ويې خندل: هاهاهاها. بېره نو ولې کوې؟ ګوره زړه مې! ګټه هغه کوي چې نه پوهېږي. ته به آخر په هر څه پوه شـې خـو بيـا بـه پښېمانه وې.

په خوبولي غږ مې پوښتنه وکړه: د څه شي نه به پښېمانه شم؟

- د پوهېدو نه.
- ولې؟
- بس، نو. ولې دې خوندونه پر ځان نه دي پېرزو؟

فکر مې وکړ چې رښتيا وايي. ولې به دا خپل بـې غمـه ذهـن پـه غمونو اړوم؟ ولې به خوند نه اخلم؟

د هغې په غېږه کې ډوب شوم. د بدن له هرې ذرې مـې يـې بـلا خوندونه واخيستل.

چې پاڅېده، ويې ويل: همدومره وو؟ هسې دې خرابه کړم.

دا روانه شوه خو غږ او خبره يې بيا را ته آشـنا غونـدې ښـکاره شول.

چا را ته داسې څه ويلي وو؟

څه شی همدومره و؟

دا مې خرابه کړې وه؟ څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څه بلا ده چې هم تسلي راکوي، هم مې په زړه کــې اندېښــنې اچوي؟

هم مې په ذهن کې د پوښتنو ویده بلا ویښوي، هم را ته وایي چې مه سپړه رازونه چې خراب به شې. نو داسې ولې کوي؟

دا څوک ده؟

ځان ولې نه را پېژني؟

دا غږ یې ولې کله را ته آشنا غوندې شي، کله پردی شی؟

دا د سنځلو د ګلو عطر یې ولې دومره ډېر را باندې ښه لګېږي؟

ورپسې وځغاستم. دا مخکې روانه، زه ورپسې په منډه.

نژدې ور رسېدلی وم. یوازې یو ګام ور نه وروسته وم چې چینې ته یې ورټوپ کړ.

لاس مې ور واچاوه.

ګوتې یې په لاس راغلې.

زه یې ور سره وښکولم.

دواړه په اوبو کې ډوب شوو.

دا لاندې وه زه باندې. د چینې د تل خوا تــه روان وو. درب شــو. پښې مې پر ځمکه ولګېدې. د چینې غولي ته ورســېدو. ودرېــدو. ځمکه وچه وه. پورته مې وکتل. لکه د کوهي له منځه چې پورتــه وګورې، خو پورته اوبه نه وې. هلته لرې پاس، د چینې پر سر یوه پېړه ګرده هینداره ښــکارېدله او لــه پاســه یــې شــینکی آســمان برېښېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبه نه وې خو موږ په اوبو کې کښته شوي وو.

ښکلې را وکتل. ويې ويل: د هېندارو ښاپېرۍ.

- څه شی؟
- تا هر وخت پوښتنه نه کوله چې ته څوک یې؟ زه د هېندارو ښاپېرۍ يمه.
- د هېندارو ښاپېرۍ؟
- هو. اوس نو راځه چې له هېندارو سره دې مخامخ کړمه. خو ګوره! بیا به ګیله نه را نه کوې. تا پخپله دغسې غوښتي دي.

زړه ته مې نا آشنا وېره ننوتله.

دا مخکې روانه شوه. زه يې تر لاس نیولی په ځان پسې څکولم.

لويه سمڅه وه خو د هېندارو. ښي لاس ته وګرځېده. د کوټې ور يې پرانيست.

ويې ويل: يوه شېبه همدلته ودرېږه. چې غږ مې درباندې وکړ، بيا را ننوځه.

شا و خوا ته مې وکتل. هرې خوا ته هېندارې وې، هېندارې وې. ټوله دنيا هېنداره هېنداره وه.

هماغه آشنا غږ چې مخکې مې څو وارې اورېدلی و، را ته وويل: را ننوځه.

ور مې ببېرته کړ. د کوټې دېوالونه ټول هېندارې. په تور حجاب کې ښځه، مخ يې دېوال ته، شا يې ما ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ودې پېژندلم؟

مخامخ هېندارې ته مې وکتل.

غنمرنګه نرى مخ يې و. تورې سترګې، اوږدې وروځې او نېغ بانه يې د نرۍ پوزې پر سر. څېره يې مکمله را ښکاره شوه.

ډېره را ته آشنا ښکارېده.

ويې ويل: په ياد دې دي چې اول ځل دې چېرته وليدم؟

چورت وړى وم. دا څوک ده چې دومره آشنا را ته ښکاري؟

ويې ويل: ګوره! لمونځ به قايموې. هر لمونځ چې کوې، الله تعــالى دې له دې لمانځه نه مخکې کړې ګناهونه ټول در معافوي.

له خولې مې ووتل: ښاپېرۍ؟

مخ يې را واړاوه: هو. زه پخپله يم. ښاپېرۍ يمه.

د وره خوا ته روانه شوه.

زه هم ورپسې شوم.

شا ته يې وکتل. ويې ويل: مه راځه! ته به همدلته پاتې کېږې. تــر هغه وخته پورې چې د خپلو پوښتنو ځوابونه دې نه وي موندلي، له دې ځايه راوتلى نه شې.

ولاړه. ور يې را پسې بند کړ.

حيرت اخيستى وم. دا څه رقم ځاى دى؟

ښاپېرۍ له کومه شوه؟

زه پخپله دلته څه کوم؟

چا دلته راوستى يم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کوم ځای دی؟

نو هغه د هېندارو ښاپېرۍ څه شوه؟

څو شېبې ځای پر ځای ولاړ وم.

یو وخت مې پام شو چې په مخامخ دېوال کې یو وړوکــی ور دی.

ور نږدې شوم. په کراره مې پرانیست.

ور ننوتم.

جومات و.

محراب او منبر یې له زرغونو مرمرو او گنبده یې له سپینو جــوړه وه. چت یې د درې پوړونو هومره لوړ و. په چت پورې غټې پکــې په اوږدو نلونو پورې ځړېدلې. سخته گرمي وه. همدا شــېبه مــې اودس کړی و خو اوس بیا په خولو کې لوند خیشت وم. له سر او مخ څخه مې خولې څڅېدې.

کالیو ته مې وکتل. پر فیروزه‌یي رنگه جامو باندې مــې د ســپینو سمنټو خاپونه ښکارېدل.

څلور رکعته سنت مې وکړ. جَمعې ته لا وخت پاتې و.

د جومات له بل سره په پاکو سپینو جامو، تور واسکټ او ســپینې پگړۍ کې یو نوراني سړی زما خوا ته راغی.

څنگ ته مې داسې کېناست لکه د لمانځه په قعده کــې چــې څــوک کېني. په لویه ږیره کې یې گوتې وهلې. ویې ویل: مهاجر یې؟

- هو.
- خه، خه، خه، خه. ماشأالله، ماشأالله. سه روزگار کیې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ټاپيلونو په فيکټرۍ کې مزدوري کوم.
- ډېر خه کوې. حصول رزق حلال عبادت هې. حصول رزق حلال سه دې؟ عبااادت دی. خو گـوره بچيـه! د دنيـا د کارونو ختمېدا نيشتې. لگ لگ د آخرت کارونـه هـم کـوه کنه، سه پوی شوې؟
- هغه څنگه؟
- تبليغ وکه تبليغ. د نبي کريم صلی الله عليه و سلم سـنت. گوره ته خو خپله خه سړی يې چې مونز دې قـايم کـړې خو د نورو بنده گانو غم به هم کيې که نه. نورو ته به هم تبليغ کيې، امر بالمعروف و نهی عن المنکر به کيې. سه به کيې؟ امر بالمعروف و نهی عن المنکر به کيې.

ومې ويل: مولانا صيب! زه کله په دين پوهېږم چې تبليغ وکم. ولله که په خاورو هم خبر يم. ايله مې يو څو لنډ سورتونه زده کړي چې په لمانځه کې يې وايم. نور نو داسې وگڼه چې بېخي «ان پړهــ» سړی يم. قران شريف له رويه لا نه شم ويلی.

- هېس پروا نيشتې. دومره خو پوهېگې چــې مــونز فــرض دې، روژه فرض دې، زکات فرض دې، حج فرض دې. نو تبليغ خو بل سه نه دې، بس همدقه خبرې بــه خلقــو لــه کيې کنه.
- نو په دې خو هر څوک پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه، دا خو مې هسې به طور مثال تېر که. همدقــه خــبرې چې کیې آیتونه به ورسره وایې، حدیثونه به وایې و غیره. ته خو ماشاءالله ړوکی زوان یې، دماغ دې تازه پــه تــازه دې. دماغ دې سه دې؟ تازه په تازه دې. هــر ســه دې زر زده کیګي.

نه پوهېدم چې څه ووایم. غوښتل مې چې ځان ورنه خلاص کــړم نو ومې ویل: مولانا صیب! زه غریب سړی یم. خپله مــزدوري بــه کوم.

په خبرو کې مې راولوېد: خو زم درله همدا وایم کنه چــې مونګــه سره رایشه. په مزدوري چې سومره ګټې هغومره خرچه به درلــه درکوو. نورو زایونو له به دې لېګو. لاهور له، پېخور له، اسلام آباد له. که دې وخت راسره تېر کو، بیا دې ان یورپ له لېګو، امریکــې له دې لېګو. سوچ ورته وکه.

جمع ودرېده. نیت مې وکړ. یو وخت مې پام شو چې د لمانځه یــو رکعت تمام شوی دی او دوهم ته درېدلي یو. زه هېڅ پوه شوی نه وم چې څه مې په کې وویل. ټول فکر مې د مولانا په خــبرو کــې مشغول و. د ګناه نری غوندې احساس مې په زړه کې تېر شو خو بیا مې له ځان سره وویل چې الا بلا به ګردن ملا. اقتدا مــې چــې پسې وکړه نو هغه پوه شه کار یې پوه شه.

څومره خوند به یې کړی وای چې هر وخت همداسې وای، ته بــې غمه ګرځېدې او ستا د کارونو ځواب هم بل چا ویلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رښتیا شي له دې ژونده په تنګ وم. زما خــواري وګــوره او د نورو ناځواني. د کارخانې هغه پنجابی ټیکه دار یــادوم. هــا بلــه ورځ د ماښام آذان وشو. له لوږې، تندې مې سر راباندې ګرځېده. بېلچه مې پر ځمکه کېښوده. لاسونه مې وڅنډل.

ټیکه دار راباندې غږ وکړ: کیدر؟ خان صاب! کیدر جائیګا؟

ورته مې وویل چې زما خو روژه ده، ځم چې افطار وکم.

پرې یې نه ښودم. ویې ویل چې روژه دې خپل کار دی خو دا کار زما دی. چې څو پورې کار نه وي خلاص، چېرته هم تلی نه شې. دوی پخپله بې غمه روژه خوړله. دا خبره پــه کــې عامــه وه چــې «پټان جانې رمضان جانې» پټان پوه شه او رمضان پوه شــه. پــه کابل کې څومره ښه رواج و، په روژه کې بــه کــاریګر دوه بجــې رخصتېده چې آرام وکړي، خوب پوره کړي او روژه ورتــه آســانه شي خو دلته په کراچۍ کــې دا خــبرې نــه وې. ناچــاره وم. یــو ګېلاس اوبه مې وڅښلې او تر ماخوستنه مې ورسره کار وکــړ. د ټولې ورځې روژه یوه خوا، تر آذان وروسته لوږه بله خــوا. د زړه زور مې ختلی و. په پښو او لاسونو کې مې سېکه پاتې نه وه. څو ځله مې سر راباندې وګرځېد خو په بېلچه مې ځان تکیه کړ چــې ونه لوېږم.

له ځان سره مې وویل: ښه نو، نور نو څــه غــواړې! هــم خرچــه درکوي، هم به آسوده یې. هم به یو څه زده کــوې او هــم بــه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چکر وشي. نور ښارونه به وګورې او د کراچۍ په دې ګرمۍ کې به نه شرېږې.

د «السلام عليکم و رحمت الله» په اورېدو سره مې بېرته لمانځه ته پام شو. ښي او بيا چپ لوري ته مو سلام وګرځاوه. پاتې دوه رکعته سنت مې په دومره وخت کې وکړ چې نور کله به مې يو رکعت کاوه. لمونځ خلاص شو او د چورتونو لړۍ مې وشلېده. په مولانا پسې مې سترګې وغړولې. د جومات له دروازې د باندې له يوه ځوان سره ولاړ و.

ورغلم. مخې ته يې چوپه خوله ودرېدم.

را ويې کتل: جي، سنګه چل شو؟

- خوښه مې ده.
- شابه، شابه، د نر بچيه!

پر اوږه يې وټپولم.

يو کارډ يې راکړ: سبا له به رازې. پته په دې کارډ باندې شته.

د کارخانې ټيکه دار ته ورغلم. د يوې مياشتې تنخواه مې ورسره پاتې وه. د ورځې اويا کلدارې يې را ته منلې وې نو رخصتۍ چې ورنه وباسې، څه کم اوه‌لس سوه روپۍ کېدې.

سړي وويل: ته چې ځې، دا کار به څوک را ته کوي؟ اول به ما ته بل نفر پيدا کوې، بيا به ځې.

په ۲ نمبر ناظم آباد کې چاوله مارکېټ ته ولاړم. چاوله مارکېټ دوه دوه پوړيز بلاکونه دي. په اول پوړ کې يې دوکانونه دي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم چت کې يې کوټې. د ټولو کوټو دروازې اوږدې نرۍ برنډې ته خلاصېدې او د بلاک له دوو گوټونو څخه زينې ورختلـې وې. په ډېرو کوټو کې يې پنځه پنځه يا شپږ شپږ جره افغانان اوسېدل او په ځينو کې يې پنجابيان او سندهيان لـه خپلـو کورنيـو سره. لاندې دوکانونه تقريباً ټول د افغانانو وو. چا بـه ليلامـي جـامې خرڅولې، چا ليلامي پردې، نيالۍ او برېستنې، چا رختونه، چـا پـه گـاټونو کـې راغـلي د څرمنـو بکسـونه، بټـوې، دسـکولونه، او کمربندونه ...

په چاوله مارکېټ کې مې د انډېوال کوټه وه. حال مې ورته ووايه. هغه وويل چې يو ژنکی تازه له کابله راغلی. په کار پسې گرځـي. هغه ته به ووايو.

د برسات موسم و. شرکنده باران پيل شو. بـرق ولاړ. کوټـه لکـه تنور سره شوه. انډيوال مې وويل: راځه چې بام ته وخېژو.

ډېر خلک د بلاک بامونو ته ختلي وو او تر باران لانـدې ولاړ وو. انډيوال مې وويل: څه سر دې کښته اچولی، سيل وکه سيل. ما خو يوازې باران ته نه يې راوستی.

په سترگو يې د څنگ بلاک بام ته اشاره وکړه. سندهۍ او پنجابۍ ښځې نجونې په کاټن جامو کې د بام پر سر گرځېدې او د بام له غولي نه يې په لپو کې اوبه راخيسـتې، پـر يـو بـل بانـدې يـې شيندلې. جامې يې نرۍ وې او باران داسې خيشتې کړې وې چې د بدن ټول ځايونه يې صفا ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انډيوال مې وويل: هغه ټپه څنګه وه؟ امممم داسې ښه يې ويــل.
اها! را ياده مې شوه.

نور به نرۍ جامې و نه کړم
باران خيشته کړم جانان ټوله وليدمه

ور ته مې وويل: سختې مزې مو وکړې.

- هاهاهاها، دا خو ده. مزې دي مزې.
- هغه چې وايي چې

طالبه دوې ګټې دې وکړې
هم دې خير ټول کړ، هم دې وکړل ديدنونه
نو همدا تاسې به يادوي.

سترګې يې په يوې پنجابۍ پېغلې پورې ښخې وې. په داسې انداز لکه له بل چا سره چې لګيا وي، ويې ويل: دا خو ده. هم ور باندې د ليلام شيان يو په دوه خرڅوو، هم ور سره ګپ شپ لګــوو. هــم يې په باران کې د سمرقند تماشه کوو. ور وګوره! هی هی! عجبــه ننداره ده. بې ټکټه سيمنا ده.

بيا يې ما ته مخ واړاوه، ويې ويل: خدای دې تا هم وسي کي چــې دلته يو دوکان وکې، په مزو کې به غرق وې.

په زړه کې مې تېر شول چې په تبليغ کــې پيســې وګـټم بيـا بــه همدلته يو دوکان کوم. نيستي دې ورکه شي چــې ټولــه ورځ بــه بېلچه وهې او د پنجابي ټېکه دار نخرې به هم زغمې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انډیوال غږ له چورته وایستم: هغه نجلۍ وینې. څه کـېږ؟ د چـا پام خو نو ځان ته مه اړوه! ګوره، مخ دې سـوکه ور واړوه. هغـه سور کمیس والا چې په ملا یې ځان بوک کړی.

ور ومې کتل. کمیس یې لوند خیشت و. ګرېوان یې له بدنـه لـرې ځړېده. ټول بدن یې صفا را ښکارېده.

انډیوال مې وویل: ها بله ورځ زما دوکان ته راغلې وه. یـو سـینه بند یې کښته پورته کړ، بل یې وکوت، درېیم ته یـې چـې لاس ور ووړ، ما په ټوکو وویل چې اندازه یې نه ده درمعلومـه. لـه خنـدا شنه شوه. بیا مې وویل: دې خوا ته راشه چې زه یـې درتـه نـاب کړم. شا یې راواړوله. مټې یې له تخرګونو لرې کړې. لاسونه مـې ټټر ته ور تېر کړل. اوووف! عجب خوند یې وکو. دوه درې مېنټـه پرې اخته وم. بیا یې خدای وهلې مور را پیـدا شـوه او دا ورسره ولاړه. خو ویلي یې دي چې بله ورځ به بیا راځـي. ګـوره ورتـه! هاغه ده اوس یې هم اشاره راته وکړه.

مخ مې د بام په سر د اوبو کانکریټي ټانکۍ ته وګرځاوه. دېوالـه ته یې لږ ورنږدې شوم.

انډیوال مې وویل: څه کې؟ لکه چې وضعیت دې خراب دی. خیمه دې لکه کړې ده که څنګه؟ هاهاهاها.

ومې ویل: غږ مه کوه. ته راکه د کوټې کونجي راکه چې تشناب ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زینو چابک کښته شوم. ځان مې له ملا نه لږ کوږ کړی و چې ښکاره نه شي. کوټې ته ورننوتم. ور مې په ځان پسې قلف کړ. ښي لاس ته د تشناب ور و. ور ننوتم. جامې مې وایستلې. په لاس مې صابون وواهه. د بام صحنه مې سترګو ته درېدلې وه. ور وټکول شو. انډیوال مې غږ را وکړ: څه شوې وه هلکه؟ را وځه چې هغه ژبکی راغلی دی.

هلک مو ټېکه دار ته ور وست. هغه یې په کار ولګاوه خو زما تنخواه یې را نه کړه. ویې ویل چې اوس خو روپۍ نشته، بله هفته بیا ورپسې راشه.

یوه هفته مې د یوه جومات په حجره کې تېره کړه. د سهار له لمانځه وروسته به مو تر غرمې پورې خوبونه کول. په حجره کې پکي چالان وو، یخه هوا راباندې لګېده او دمه به مې داسې جوړه وه چې د تېرې میاشتې ټوله ستړیا یې را نه لرې کړه. د ماښام او ماخوستن لمونځونه به مو کله په یوه جومات کې کول، کله په بل کې. مولانا صاحب او نورو مشرانو به د ماښام او ماخوستن تر لمانځه وروسته تبلیغ کاوه او موږ به ورته غوږ وو. درې وخته سمه ډوډۍ رارسېدله، لوږه تنده نه وه، ستړیا نه وه. له خدایه به مې نور څه غوښتل.

بله هفته بیا کارخانې ته ورغلم. ټېکه دار نه و. د فیکټرۍ منشي ته ورغلم. هغه وویل چې ټېکه دار پنجاب ته تښتېدلی دی او د ټولو مزدورانو پیسې یې هم وړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل: زما يې څه چې تښتېدلی؟ ما خو کار ستا د فیکټـری د پاره کړی دی. پيسې به راکيې ګنې خير به دې نه وي.

- بدماشي کيې؟
- خوښه دې چې بدماشي يې بولې که بل څه خو پيسې بــه در نه اخلم، که په زور وي که په رضا.

منشی راپاڅېد. د مېز له شا څخه راووت او زما خوا ته روان شو. غلی مې له څنګه داسې تېر شو چې ته وا زه يې بيخي ليـدلی نــه وم.

له مټه مې را ونيو: چېرته کونه باسې؟ پيسې را وباسه، هله.

پورته يې را وکتل. شونډې يې رپېـدې. ويــې ويــل: ګــوره! خــان صاب، در ته ومې ويل چې پيسې دې هغه بهنچوت ټيکه دار وړې دي. په خبره ولې نه پوهېږې.

په چپ لاس مې يې له ګرېوانه ونيو. ښی لاس مې پورته کړ. موټی کړی لاس مې مخامخ ورته ونيو.

ناري يې کړې: سيکيوريټي! عدنان! طه! جلدي کرو، مجهې مارتــا هې!

څو پورې چې ګارډ را رسېده، د منشي خوله او پوزه مې په وينــو سره کړه. منډه مې واخيسته. د سميټو په بوجيو وختم. دېوال تــه مې ځان ورساوه. ايسته مې ټوپ کړ. تر يــوه ځايــه مــې منــډې وهلې. شا ته مې وکتل. څوک نه وو. کرار کرار د تبليغيــانو مرکــز ته ولاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت دوه به وتلي وو چې چا غږ وکړ: گلاب کون ہے؟

ور ومې کتل. پولیس وو. را پاڅېدم. ومې ویل: زه یم.

د پولیسو له شا څخه منشي ځان را ښکاره کړ. زما خــوا تــه یــې گوته ونیوه، پولیسو ته یې وویل: همدغه حرامونی دی.

تهانې ته یې بوتلم.

لا یې د تهانېدار کوټې ته نه وم ور وستولی چې مولانا صاحب را ورسېد.

پوښتنې شروع شوې: ولــې دې ســړی وهلــی؟ څــه دښــمني دې ورسره وه؟ نور بدماشان دې څوک دي؟ په کومه ډله کې یې؟ ...

ټوله کیسه مې ورته وکړه.

تهانېدار وویل: اوس به د بدماشۍ په خوند پوه شې. چې یو شپږ میاشتې دې په جېل کې واچوم، بیا به پوه شې چــې د چــا وهــل څنگه خوند کوي.

مولانا صاحب ورته وویل چې تهانېدار صاحب! گوزاره کوه. ځوان دی، جذباتي شوی. فېکټرۍ والا هم ملامت دی. د دې غریب حــق یې خوړلی و نو.

پولیس وویل: نو موږ څشته ناست یو؟ د آلوگانو خرڅولو ته خــو نه یو ناست. قانون د څه لپاره دی؟ ولې موږ ته رانغی. داسې خو نه کېږي چې هر څوک دې دلته بدماشي وکي.

مولانا صاحب وویل: خیر دی. دا ځل یې معاف کئ. زه یې ضامن یم چې بیا به داسې نه کیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تهانېدار وویل: بل ځل ته به یې بیا ګـورو خـو اوس بـه منشيـ صاحب سره هسپتال ته ځئ چې ډاکتران څه وايي. دی خو وایـي چې پوزه او غاښونه یې رامات کړي دي.

ډاکترانو منشي وکوت. څو رقمه اکسرې او د وینې معاینـات یـې ورته وکړل.

منشي د اکسرې والا په غوږ کې څه وویل. هغه موږ ته را وکتـل. خدای چې څه یې ورته وویل او ولاړ. بیا منشي د خلکو پـه مـنځ کې ځان ورک کړ. زه ورپسې شوم. کتل مې چې د ډاکټر کوټې ته ورننوت. زه هماغلته د وره شا ته ودرېدم. سړی بېرته راووت. چې له ما سره سترګې په سترګو شو، رنګ یې والوت. سترګې یې ټیټې شوې او د دهلېز په بل سر کې ولاړ پولیس خوا ته ولاړ.

معاینات سم را وختل، نه یې پوزه ماته وه، نه یـې غاښـونه مـات وو. مولانا صاحب د هر څه پیسې پرې کړې. د شـفاخانې رپـوټ مو واخیست او له پولیسو سره بېرته تهانې ته ولاړو.

اوس نو پولیس را ته بلا شو. ویل یې چې سړي درنه شکایت کړی او زه دې پرېښودلی نه شم. مولانا صاحب څه پیسې هم ورکـړې خو ویل یې منشي به راضي کوئ.

مولانا منشي له لاسه ونیو. ورته کړه یې: منشي صاحب! ته راځـه چې د باندې لږ خبرې وکو.

زه د پولیسو له مشر سره په دفتر کې پاتې شوم. اوف! چې له دې چنګو برېتو مې رانیولای او دا سر مې یې په مېز وهلای. ته یې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوسه خوله وګوره. ته يې دا توري شونډې وګوره. غاښونه خو يې د سړي خوا ګرځوي. برېتونه يې د مېړني خو مخ يې د دله انسان دی.

تهانېدار د مېز پر سر اېښی سويچ ټينګ کړ. لــه دهلېــزه د زنــګ شرنګا راغله. حوالدار راننوت او عسکري سلام يې وکړ. ده وويل: ورشه له دغه پان والا نه يو دانه رسيلي پان راوړه.

حوالدار چې ووت، مولانــا مخکــې او منشي- ورپســې دفــتر تــه راننوتل.

منشي وويل: تهانېدار صاحب! زه خپل شکايت بېرته اخلم.

د پوليس له شره خلاص شوم. خو تهانېدار وويل: ګوره! بيا بــه د فيکټرۍ له څنګه هم نه تېرېږې او د پيسو نوم به هــم نــه اخلــې. پوه شوې که پوه دې کم؟

چې راووتو، مولانا صاحب وويل: غم مه کوه، په ورز د قيامت بــه ورسره حساب وکې.

بيا نو له تبليغيانو سره دېره شوم. په اول سر کې به هسې ورسره ګرځېدم. مشرانو به په جوماتونو کې تبليغ کاوه، مــوږ بــه ورتــه غوږ نيوه. کرار کرار مې قران شريف زده کړ. لنډ لنډ سورتونه مې يو په بل پسې حفظ کړل.

چې هرې خوا ته به تلو، د لارې کرايه، خرڅ خوراک، هر څــه مــو مشرانو راکول. څو ورځې وروسته، مولانا صاحب وويل بله جمعه به لاهور ته ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوټې پخوانيو انډيوالانو تــه ولاړم چــې خــدای پامــاني ورسره وکړم. يوه انډيوال را ته وويل: دوا دې شه نو لاهور ته ځې. ګوره! زه به په لاهور کې د تبليغ يو ډېر ښه ځای درته وښيم. هلته چــې ولاړې، د هېرا منډيي پوښتنه وکړه.

نور انډېوالان مې کټ کټ په خندا شول خو ده را ته قسم وکړ چې ډېر ښه ځای دی.

بله ورځ مو بسترې په شا کړې او د بسونو اډې ته ولاړو. بسترې مو جنګلې ته پورته کړې او بيا بس ته وختــو. مولانــا صــاحب د ډرېور د څنګ پر څوکۍ کېناست، موږ شا ته. ډېــر اوږد مــزل و. اوولس که اتلس ساعته په لاره کې وو. ښه وو چې ډرېــوران دوه وو. يو به چې ستړی شو، بل به جلو ته کېناست. د موټر په چــت کې يې ځان ته د څملاستو ځای جوړ کړی و. په وار سره به هلته غځېدل او خوب به يې کاوه.

لاهور ته چې ورسېدو، دومره ستړي وو چې د خبرو حوصله هــم نه وه پاتې. مولانا صاحب وويل: شابه! نن او سبا آرام وکــئ. بلــه ورځ به ګورو.

بله ورځ چې مولانا صاحب راغی، ورته مې وويل چې هېرا منډيي ته به کله ځو؟

تندی يې تريو شو: سه شی؟

- يوه انډيوال مې وويل چې د تبليغ د پاره ښه ځای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تندي ګونځې يې ږنګې شوې، ويې ويل: ټوقه يې دربانديې کړې ده. سه يې کړې ده؟ ټووووقه يې کړې ده. پام چې نوم يې هم په خوله وا نه لې.

يوه ورځ د لاهور له يوه جوماته راووتو چې لــه لــرې مــې د تــره غونديې يو څوک وليد. چې رانږدې شو، پخپله و. وچــې شــونډې، راوتلې سترګې، خوار بدن.

ښځه يې ناروغه وه. علاج ته يــې راوســتې وه. ويــې ويــل چــې عمليات غواړي. پنځه زره کلدارې ورته په کار دي خو دی يې نــه لري.

د ده ناروادې چې مې يادې شوې، زړه کې مې وويل چې ښه شو چې خدای دغسې جزا درکړه خو بيا مې له ځان سره وويــل چــې وبال لري؟ که بد و، دی بد و، ښځه يې غريبه څه ګناه لري.

د ماښام لمونځ مو چې وکړ، مولانــا تــه مــې وويــل چــې دغســې مريضان لرو او حيران يو چې پيسې ورته له کومه کړو؟

ويې ويل: د ماخوستن مونز چې دې وکو، دوه رکعته نفل حاجــت وکه. سومره روپۍ دې په کار دي؟

- پنځه زره.
- بس، ته نو په اخلاص سره مونز وکه، خدای به دې حاجت پوره کي. سه پوی شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې مې وکړل. سهار چې لمانځه ته پاڅېدم، بستره مــې ټولولــه چې ومې کتل تر بالښت لاندې مې پیسې ایښــې دي. پــوره پنځــه زره کلداري.

سخت خوشحاله شوم. چې ځنګه مې لمونځ خــلاص شــو، د تــره کوټې ته ورغلم. پیسې مې ورکړې. دواړه هسپتال ته ولاړو. کاکـا ناوې مې ولیده او بېرته ځني راغلم.

سم دم شیخ را نه جوړ شوی و. پر پښو مې کڼاوې، پــه لاس کــې مې لرګینې تسبیح، په جېب کې مې لرګین ږمنځ او مسواک. جامې سپینې، پګړۍ سپینه، واسکټ تور. برېتونه خــرېیلي، نــرۍ نــوې راټوکېدلې ږیره پاکه منظمه.

هر څه مې سم شول خو یوازې د پوندو چاودې مې نه رغېدې. که مې له څپلیو سره جورابې هم په پښو کړې، ګټه یې ونه کړه.

مسألې مې زده کړې. کرار کرار به مشرانو موږ ته هم په تبلیغ کې برخه راکوله. په اولو وختونو کې به یې وړه موضــوع راکولــه، د پنځو یا لسو دقیقو. خبرې هماغه وې، تکراري خبرې خو د ویلــو انداز به مو وربدل کړ.

څه کم دوه کاله مې ورسره تېر کړي وو چې کابل آزاد شو. کابــل طالبانو ونیو. میاشت دوه وروسته، مولانــا صــاحب را تــه کــړه: کابلیه آشنا، سنګه چل دې؟ خوخه دې نه ده چې خپل وطن له دې ولېګمه. چېرته دې ولېګمه؟ خپل وطن له.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه کاله مخکې له کابله وتلی وم او بیا مې نــه و لیــدلی. ومــې ویل: هر رقم چې ستاسو خوښه وي.

ویې ویل: بس جامې مامې دې وتړه، سبا به له خیره زو.

کابل نو هغه کابل نه و چې ما لیدلی و. زه چې تلم، هاغه وخت هم کابل وران و خو داسې نه لکه اوس. د پلچرخۍ له تنگي چې تېــر شوو، د سړک دواړو غاړو ته د برق نړېدلې سمیټي پایې، ویشــتل شوي ټانکونه او سوځېدلي پېک اپ موټرونه، سړکونه کند کپر. که د موټر ښیښه کښته کوې، دوړې دې په عذابوي، کــه یــې پورتــه کوې، گرمي. د حربي پوهنتون د بلاکونو دېوالونه سوري سوري، ښیښې یې ماتې، د کړکیو چوکاټونــه یــې ورک. لویــه اوســپنیزه دروازه یې کږه وږه، سورۍ سورۍ. د دروازې په څنگ کې لویــه اوسپنیزه لوحه ولاړه وه: د مــلا عبــدالباري آخونــد او انــډیوالانو کوټه. تر لوحې لاندې دوه خیرن ځوانان په تورو جامو او ســپینو پگړیو کې چې د خیري په وجــه زېړبخــون ښــکارېدې، پــر زړو چوکیو ناست وو.

وړاندې د تخنیک اکاډیمي او د سرک سازۍ فابریکه تر دې بــدتر حالت کې. د گمــرک د انگرونــو یــوازې دېوالونــه پــاتې وو او د اوسپنیزو چتونو درک یې نه و. د درمل جوړولو هغه آلماني شرکت چې و، هوخست، هغه نو داسې هوار شوی و چــې تــه وا ســختـه زلزله پرې تېره شوې ده. لنډه دا چې تر میکرویانو پــورې همــدا حال د هر ځای و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میکرویانو د بلاکونو دېوالونه داسې زخمي زخمي لکه پر خټــې چې بړلۍ وربېدلې وي. هغه اپارتمانونه چې لږ روغ غونــدې وو، د کړکیو نه پورته ځایونه یې په لوګیو تور شوي وو. د بلاکونو مخې او شا ته ونې سپېرې وې. اکثره ونې یې وهل شوې وې او د هغو پخوانیو شنو چمنونو درک نه و.

د میکرویانو له پله څخه د زړو میکرویانو خوا ته تاو شوو. دلتــه نو بل رقم ویجاړي شوې وه. د سړک د غاړې درې بلاکونه داسې خچ پچ چې ته وا چــا د څلــورم منــزل پــر چــت آســماني کــاڼي غورځولي دي. یوازې د دوو خواوو سکلېټ یې پــاتې و نــور نــو چتونه او د سړک د خوا دېوالونه یې یو مخ نړېدلي وو. له دوهمه تر څلورم منزله پورې د ټولو منزلونو چتونه ببخي نه وو.

د عیدګاه جومات او د جادې ټول دوکانونه لوټې لوټې. لنډه دا چې کابل داسې خچ پچ و چې ته وا دا پنځه کاله مسلسل د ډېرو غټــو تیږو باران پرې وربېدلی وي.

مولانا صاحب په کابل کې یوه ټکسي غــواګۍ را تــه واخیســته او استاد یې را ته مقرر کړ چې ډرېوري را زده کړي.

ویې ویل: بس، نو دقلته به کار روزګار هم کیږي، تبلیغ به هم کیږي. په کابل کې یې د تبلیغیانو له مشرانو سره معــرفي کــړم. پخپلــه بېرته ولاړ.

ډرېوري را ته آسانه ښکارېده خو داسې نه وه. په اوله ورځ خو به شل وارې موټر را نه ګول شوی وي. موټر به مې ګېر ته واچــوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد مې ويل چې ورو ورو به کلچ خوشې کوې او اکسلېټر به ټينګوې. ما به چې همداسې کول، موټر به را نه ګول شو. بيا به مې نېټل کړ او بېرته به مې چالان کړ. د مني په هغه نرمه هوا کې داسې خولې وم چې ته وا د لاهور جون جولای دی.

دا خو مې زده کړل چې کلچ ورو ورو پرېږدم چې موټر ګول نه شي خو بيا به مې چې ځنګه موټر روان کړ، جټکه به يې وکړه. دا چل مې هم زده کړ. په دښته کې خو بيا هم کار آسان و خو اول وار چې سړک ته را ووتو، داسې سخت بوج راباندې و چې ما ويل پر اوږو مې لس منه بار پروت دی. هر موټر چې به را نږدې کېده، لاسونو به مې ربړد واخيست. دوهمه که دريمه ورځ وه چې پر سړک مې د ډرېوري تمرين کاوه چې يو موټر مې ووهه. مخې ته مو يوه زړه ټويوټا روانه وه. د برېک اشارې يې سرې شوې. استاد مې وويل: برېک، برېک!

ما د برېک پر ځای اکسلېټر ټينګ کړ. ګړز شو، د مخې موټر سره وجنګېدم.

ډرېوري مې په يو شواخون زده کړه خو د ژمي تر پيله پورې پوخ ډرېور شوم. ورو ورو د کابل کنډواله کورنه او ړنګ بازارونه، کند و کپر سړکونه، پرېمانه سوالګر او سوالګرې، غمجن مخونه، وچ کلک ډنګر سړي او خوارنجونکي هلکان را ته داسې عادي شول چې ته وا هر څه به له ازله همدغسې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر چا پر سر به یا په خولو او دوړو خیرنې سپینی خــولۍ یــا وړې لنګوټې او د هرې پیغلــې او ښــځې پــر سر چــادرۍ. هغــه وختونه چې خلک به مستانه ګرځېدل او د فروشګاه او جــاده لــه رستورانونو به د لتا، رفیع، مکېش او کېشور سندرې په لــوړ غــږ چالانې وې او لارې به له نر او ښځو ډکې وې ... هغه وختونه نور چا په خوب کې هم نه لیدل.

هره جمعه به مو په عیــدګاه، پــل خشــتي، کارتــه نــو یــا نــورو جوماتونو کې تبلیغــي غونــډې وې. مشرــانو بــه د تبلیــغ نــوې موضوعګانې راکولې. زما کار دا و چې هرې سپرلۍ ته د لمانځه د فضایلو، د روژې د احکامو، د عبادتونو د اجرونو ... تبلیغ وکړم.

ژمی ژر تېر شو. وچ ژمی. په ټول ژمــي کــې اېلــه یــو وار واوره وشوه، هغه هم د ګوتې د یوه بند په اندازه. ملایانو څو وارې پــر خلکو استسقأ لمونځونه وکړل، خو ته وا باران د نېکمرغۍ غوندې مرور شوی دی او کابل ته د راستنېدو نه دی.

یوه ورځ مې شېوه‌کۍ ته سپرلۍ یووړه. چې بېرته راوګرځېدم، په زړه کې مې تېر شول چې راځه د اکــا دوی پوښــتنه وکــړه. چــې رښتیا شي، د کور په خوړو پسې ډېر خپه وم. له پنځه کاله زیاته موده شوې وه چې په کور کې پاخــه شــوي خــواړه مــې نــه وو خوړلي.

د اکا کور د قلعه‌چې په یوه تنګه کوڅه کې و. موټر مــې د ســړک غاړې ته د بولاني فروش د کراچۍ څنګ ته ودراوه. بولاني فروش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مې کړه چې موټر ته دې پام وکړي او يو پنځه زريز نوټ مــې ورته ورکړ.

د کوڅې په سر کې يو سپېره دوکان و چې مخې ته يې د مڼو څو کرېټونه ايښي وو. يو من مڼې مــې واخيســتې. دوکانــدار داســې خوشحال شو لکه پيسې مې چې هسې ورکړې وي.

د کوڅې په سر کې کومې موسسې د اوبو بمبــه لګــولې وه. لــس دولس وړو نجونو او هلکانو د غوړيو سپين يا زېړ پلاستيکي ډبي په نوبت کې کتار ايښي وو. هر يوه ته چې به دې وکتل، په خيرو کې پټ و، سپېره ګونځې مخونه، خيرن چــاودلي لاســونه. اکــثره ماشومان تر خپلو جامو واړه ښکارېدل. ټولــو د مڼــو خلطــې تــه سترګې داسې ښخې کړې وې چې ته وا کوم عجيب شی يې ليدلی دی.

نه پوهېږم چې کوڅه ولې تر پخوا راته تنګه او وړه ښکارېده. هم راته آشنا ايسېده او هم داسې پردئ غوندې، لکه په خوب کې چې مې ليدلې وي خو پوره هغسې نه وي. د اول کور د انګړ د دېــوال پرچالونه د کنډاسې خولې غوندې ځای ځای لوېدلي وو او اوبو د لوېدلو پرچالونو لاندې د دېوال کاهګل وړی او خامې خښتې يــې شړولې وې. داسې ښکارېدل چې چا په دې څو کلونو کــې اخېــړ کړي نه دي. خو کناراب يې بيا نوی و او پخې خښتې هم په کــې کارېدلې وې. د کنــاراب ســنګکاري لــوړه او هنګــاف شــوې وه؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوري ته يې اوسپنيزه وړه دړه لګېدلې وه او د سنګکارۍ له پاسه يو نل هم و چې سر يې د ځمکې خوا ته کوږ شوی و.
پخوا به دلته د اکثرو کورونو د کنارابونو سوري چې د کوڅې خوا ته به وو، يا بېخي خلاص وو او مردارۍ به ورنه بهېدلې وې او يا به يې سوري د بوجۍ په يوه ټوټه پوښلي وو؛ يو نيم کس بــه د سوري مخې ته د قبر د تيږو غوندې هواره تېــږه لګــولې وه چــې مردارۍ کوڅې ته ونه بهېږي.
له هر ګام سره به مې د بوټانو له تليو نه پوټلنه دوړه پورته کېده. د کوڅې په منځ کې د لوېشت په اندازه نري کاږه واږه لښتي کــې ځای ځای خوسا بوينې اوبه ډنډ وې.
کنارابونه د ټولو کورونو نوي شوي وو. د هر کناراب په سر کې د هواکش غوندې سمټي بلول لګول شوی و چې سر يې پــه جــالۍ پوښلی و. د يوه تشناب پر دېوال مې د هبيتات د موسســې لوحــه وليده، نو پوه شوم چې دا تشنابونه موسسې ورته جوړ کړي دي.
د اکا کور ته چې ورسېدم، زړه نا زړه شوم چې ورشم کــه بېرتــه وګرځم. بيا مې وويل چې ځه نو اوس خو راغلــی يــې. د وره پــه ځای کې د پلاسټيکي ګونيو نه جوړه پرده ځړېدلې وه. د پردې په لاندې کونجونو کې يې تيږې تړلې وې چې باد يې پورته نه کړي. پرده مې لږ لرې کړه چې ور وټکوم خو ور مر نه و. ښه نــو اوس څه وکړم. که همداسې ورننوځم خدای خبر چې د اکا اولادونه بــه مې پېژني که نه. ناره مې وکړه: څوک شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکا ناوې له کړکۍ نه سر را وایست: چا سره دې کــار دی؟ څــوک یې؟

ومې ویل: اکاناوې! ګلاب یم.

چې څنګه یې زما نوم واورېد، په یبلو پښو یې د وره خوا ته منډې کړې.

انګړه ته ور ننوتم.

د ټیکري یو سر یې پر سر پروت و، بل سر یې په ځمکــه ځکېــده.

په غېږ کې یې ونیولم. ویې ژړل.

زما سترګې هم را ډکې شوې. مور را یاده شوه. خو ځان مې ټینګ کړ.

اکا ناوې وویل: راځه زویه!

انګړ یو مخ سپېره و. پخوا به مو په کې ترکارۍ کرلې، د ګلابو څو لوی بوټي مو هم درلودل خو اوس یې هېڅ درک نه و. د څا پر سر ګردونه پراته وو او خالي څرخ یې زنګن ښکارېده.

پنځه شپږ قد او نیم قد ماشــومانو د دالان لــه دروازې سرونــه را ایستلي وو.

اکا ناوې پرې غږ کړ: هلئ! د اکــا زوی مــو دی، ســترې مــه شي ورکئ.

یو بل ته یې سره وکتل او یو په بــل پســې ســوکه ســوکه را روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو پورې چې يو بل ته سره رسېدلو، د کور دېوالونه مې له نظره تېر کړل. چاودچاود وو او ځای ځای کاه‌گل يې رژېدلی و. د لګېدلو مرميو سوري په دېوالونو کې داسې ښکارېدل لکه د «کوي» يا چيچک د ناروغ مخ.

د اکا بچيانو مې لاسونه ښکل کړل.

اکا ناوې وويل: پلوشې! منده که، نيالۍ لږه وڅنډه چې دوړې ورباندې نه وي.

پر کړکيو خيرن، په لمر کې وراسته شوي پلاسټيکونه لګېدلي وو. لمر د کړکيو د لرګيو رنګ پيکه کړی و. يوازې د چوکاټ په ځينو ځايونو کې د سپين رنګ له نښو نه معلومېده چې يو وخت به په سپين روغني رنګ رنګېدلي وو.

د کوټې پر غولي نيلي رنګه پلاسټيکي ترپال وېړ و او په بر سر کې يې درې دانې نرۍ نيالۍ پرتې وې.

اکا ناوې مخکې شوه. تکيه يې را ته سمه کړه. ويې ويل: راشه زويه دلته کېنه.

هر څه بدل وو او بد رقم بدل وو.

د کوټې دېوالونه داسې خيرن چې اصلي رنګ يې ورک و او ډېر ځايونه يې ټاپ ټاپ. داسې ښکارېدله چې پلستر يې لوېدلی وي او بيا يوازې خټې پرې لګېدلې وي. چت ته مې وکتل. د منځ دوه لاړې (تيران) يې مات وو او لاندې خوا ته کاږه وو. پر سر يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونې ښاخونه اچول شوي وو. د مسطحې آثار هم په چت کــې نــه ښکارېده.

اکا ناوې ټوله کیسه را ته وکړه: زویه! ته چې کراچــۍ تــه ولاړې، دلته بیا جنګونه ډېر سخت شول. ګلبدین د دوستم او مــزاري سره یو خوا ته شو او رباني او مسعود او نور یــې بلــه خــوا. دلتــه د ګلبدین خلک وو او په بالاحصار کې دوستمیان وو. له هغې خوا د رباني کسانو زموږ کورونه ویشتل. د کوټې په چت باندې د هاوان مرمۍ ولګېده. دېوالونه یې سوري سوري کړي وو. مــوږ یــوازې سرونه وایستل، مال حال مو ټول همداسې پاتې شول. چې بېرتــه راغلو، یو پیاله هم نه وه راپاتې چې چای په کــې وڅښــو. زویــه کیسه یې اوږده ده څه سر به دې خوږوم. شکر چــې راغلــې. زه چې اوس ژوندۍ یمه، د تا له خیراته یم.

ومې ویل: خیر یوسې اکا ناوې. شکر چې ښه شوې او شکر چــې هر څه په خیر تېر شول.

ساعت لا نه و تېر چې اکا مې راغی. هغــه هــم د خپلــو اولادونــو غوندې وچ کلک و، ته وا یوازې هډوکي او پوستکی لري.

اکا ناوې د وطني چرګ ښوروا پخه کړې وه. هم یــې ډېــر خونــد راکړی و او هم مې له ستوني نه تېرېده چې دوی د سبا بېګــا نــه لري او ما ته یې چرګ پوخ کړی. چې دا به یې له کومه کړی وي.

خو د اکا ماشومانو داسې شخوند واهه چې ما یې په کتلو خونــد اخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډۍ مو چې وخوړه، اذان وشو. اودسونه مو وکړل.

اکا وویل: زه به جومات ته لاړم شم. کور ته چې راتلم، ملا صاحب وليدم. اوس که ورنه شم، بيا مې غير حاضروي.

ومې ويل: حاضري لرئ؟

- هههههه. هو وللــه. دې ظالمــانو پــه هــر جومــات کــې حاضري اچولې ده. که څوک جماعــت تــه ورنشيــ، بيــا طالبان کور ته ورپسې ځي، سپکوي يې. ها بله ورځ هغه دوکاندار چې د کــوڅې پــه سر کــې يــې دوکــان دی، د ماسپښين لمانځه ته نه و راغلی. ملا مو لــه دوو طالبــانو سره ورغی، مخ يې په سکرو ور تور کړ. د دوکــان مخــې ته يې درولی و. د کارټن په يوه ټوټه يې ليکلی و چې «هر کس که به نماز جماعت نيايد، جزايش مثل مــن ميباشــد.» بيا يې دغه کارټن په غاړه کې ور ځړولی و. بېچــاره يــې سخت زهير کړ.

لمونځ مو چې وکړ، اکا ته مې وويل: زه تر ښاره پــورې يــو چکــر ځم، بېرته راځم خو شپه درسره نه کوم.

هغه ډېر را ته ټينګ شو چې شپه وکړه، خو ومې نه منل.

د باغ قاضي منډيي ته ولاړم. يوه بوجۍ اوړه، څو منه ورېجې، يو ټيم غوړي، لږ چای او بوره، صابون او څه نور شيان مې په موټر کې واچول او بېرته ولاړم.

اکا او ښځې يې ډېرې دعاوې را ته وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما کار او بار هم چندان ښه نه و. ډېرو کمو خلکـو بـه دربسـته ټکسي نیوله. اکثره خلک پر بایسیکلو ګرځېدل. سړکونه هم ټـوک ټوک وو او کله د موټر جمپن خرابېده، کله یو ځای کله بـل ځـای خو بیا هم شکر پیسې مې لرلې او د کابل خلکو ته چـې بـه مـې کتل، ځان را ته خان څه چې پاچا ښکارېده.

زړه مې په دې کار داسې خوشحاله شـو چـې هـېڅ کلـه داسـې خوشحال نه وم. باور مې نه کېده چې په ښو کې دې دومره خوند وي. خو اکا ته مې غوسه هم راغلې وه. ته یې دغـې نیسـتۍ تـه وګوره او شپږ اولادونه یې وګوره. زه چې تلم، دوه بچي یې وو، په دې پنځو کلونو کې یې څلور نور زېږولي وو. په کراچۍ کې یـو خوار سوالګر و، اته اولادونه یې وو. د کوټې یوه ملګري مې چـې هغه ولید، را ته ویې ویل: «پوهېږې؟ د غریبۍ درې ډانګه دي. په یوه ډانګ دې په سر وهي چې لاره روده درنه ورکه شي او ماغزه دې هېڅ کار ونه کي چې ژوند څنګه جوړ کې. بل ډانـګ دې پـه نس لګېږي چې د دنیا خوراکونه په کې واچوې، دی نه ډکېږي. په درېیم ډانګ تر نامه لاندې ګوزار درکوي چې بس بل کـار دې نـه وي او درګرده به بچي زېږوې.» اوس چې اکا تـه ګـورم، هماغـه ټوکه پرې شوې ده.

د پسرلي آخرې ورځې وې. یوه ورځ د هوټخېلو پر سړک روان وم چې یوې ښځې لاس راکړ. موټر مې ودراوه. ویې ویـل چـې تـر میکرویانو پورې ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو خلکو به چې موټر دراوه، په چنو به يې سترګې کړم. که ما به ورته پنځوس زره افغانۍ ويله، دوی به ټينګ و چې دېـرش زره، پنځه دېرش زره ... خو دې ښځې ښېخي پوښتنه و نــه کــړه چــې کرايه دې څو روپۍ کېږي. چادرۍ او جامې يې نوې غوندې وې. موټر ته چې را وخته، د عطرو بوی يې راباندې ولګېده.

د اوو – اتو کالو نجلۍ يې په څنګ کې کېناسته. د بُرقې د جــالۍ غارونه يې لږ لوی غوندې وو. په هېنداره کې يې تورې ســترګې د برقې له جالۍ څخه سمې ښکارېدې. څه کافرې سترګې يــې وې. په زړه کې مې لا حول ولله وويل.

تبليغ مې ورته شروع کړ: ګوره بي بي! لمونځ به قايموې. هر لمونځ چې کوې، الله تعالی دې له دې لمانځه نه مخکې ټول کړي ګناهونه در معافوي.

ښځې وويل: خير يوسې.

څو شېبې غلې وه. پښه يې د موټر پر غــولي ترپولــه. خولــه يــې درګرده خوځېدله. يو يو ځل به يې لــه ژاولــې نــه زورور ټــک و ايسته. څو ځله مې په هېنداره کې ور وکتل. دې هم راکتل. سترګې يې را نه نه لرې کولې. په هېنداره کې يې سترګې را پورې ښــخې کړې وې. هر ځل به مې چې ور وکتل، زړه به مې سست شو.

ويې ويل: رښتيااااا، ملا صاب! نه کېږي چې دا زمــا لــورکۍ تــه سبق ووايې؟

حيران شوم چې څه ووايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې وویل: ګوره! دا غرمه ټېم کې ګرمي ډېره وي، سپرلی هم نه وي. نو موټر دې غرمه کې ودروه، هره ورځ رایشه زمونږ کور ته. یو سات، دوه ساته مې لور ته سبق ووایه. چې هوا ماته شوه، بیا ورځه. شکرانه به دېم وي. څنګه؟ خوښه دې نه ده؟

- والله، نه پوهېږم.

د ژاولې ترکا یې وایسته. په خندا کې یې وویل: هم خرما، هم ثواب.

- امممم. بده خو دې والله که ویلي وي.

- نو، راځه. همدا اوس به مې کور در وښیم. سر له سبا به هر ماسپښین راځې. سمه ده؟

په زړه کې مې وګرځېدل چې هسې نه کرایې ته یې چل جوړ کړی وي او ما به په دې خبرو تېر باسي چې کرایه ورته پرېږدم، خو چې کښته کېده، پنځه دانې لس زریز نوټونه یې را ته ونیول.

ومې ویل: دا خو ډېرې دي.

ویې ویل: پروا نه کیي. په تا ورکې نه دي. مخې ته دې رڼا.

یوه پښه یې چې له موټره وایسته، مخ یې راواړوه، ویې ویل: او سبا خو به راځې؟ رښتیا نوم مې ښاپېرۍ ده. ایندغه اول منزل کې مو کور دی.

په لاس یې خپل کور را وښود.

د کور د روغو پاکو ښیښو او رنګېدلو کړکیو نه یې ښکارېدله چې ښه ماړه خلک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څه ښکلی نوم يې و، ښاپېرۍ. نوره خو مې نه وه ليدلې خو سترګې يې رښتيا هم د ښاپېرۍ وې.

چې موټر مې روان کړ، په هېنداره کې لا هم د ښاپېرۍ سترګې را ته ښکارېدې چې د چادرۍ د جالۍ له شا نه را ته ګوري.

کور يې د دريم ميکرويان په يوه بلاک کې و. هلته د پنځو- شپږو پوړونو بلاکونه يو په بل پسې او يو د بل په څنګ کې کتار وو. د هر بلاک مخې او شا ته د ولو دومره دنګې ونې چې سرونه يې د بلاک آخري پوړ ته رسېدل. دلته هوا د نورو ځايونو هومره ګرمه نه وه. خو بلاکونه اوس هغسې منظم او ښايسته نه وو چې تر جنګونو مخکې وو. اوس يې د ډېرو کورونو برنډې په لوګيو تورې وې. په ډېرو کړکيو کې د ښيښو پر ځای پلاسټيکونه لګول شوي وو.

په يوه نيمه برنډه کې د سکرو نغري او د اوبو د اېشولو سماوارونه بل وو. د کړکيو له پاسه د دېوالونو ځينې ځايونه تورو پلنو ليکو چې د بخاريو له نلونو به راوتلې وو، بدرنګه کړي وو.

چې راوګرځېدم، لارې ته مې په ځير وکتل چې را نه غلطه نه شي. د دوی له بلاک سره د عمومي سړک پر غاړه، د بايسيکلو د مستري اوسپنيزه غرفه ايښې وه.

سبا پوره يوه بجه ور ورسېدم. ته وا دا به خبره وه چې همدا شېبه ورځم، تياره د دروازې شا ته ولاړه وه. لا مې ور نه و ټکولی چې دې خلاص کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا چې مې يې تورو سترګو او سرو شونډو ته وکتـل، د لـړزې يوه نرۍ څپه راباندې راغله.

په کټ کټ خندا يې وويل: راځه کنه، ولې ولاړ يې؟

خندا يې لا بله بلا راباندې راوسته. د غرمې په هماغه ګرمـۍ کـې مې يخ وشو.

ورننوتم. دهلېز پاک صفا و. د سنځلو د عطرو نرۍ خوشبويي په کې خپره وه. پر غولي سره غالۍ هواره وه. بوټونه مې وکښـل. د وره په څنګ کې د بوټونو کم سورې ټيټه الماری ولاړه وه. بوټونه مې په کې کېښودل.

ښي لاس ته بل ور پرانيستی و.

ښځې په لاس اشاره وکړه: مهرباني، ښه راغلې.

چې څنګه پر بخملي توشکې کېناستم، هماغه لورکۍ يـې سـيپاره په لاس کې راغله. د مور غوندې ښـکلې وه. د لاس روغبـړ يـې را سره وکړ. مخې ته مې کېناسته.

د ښي لاس په ورغوي يې لوند پيکی تر څادر لاندې پټ کړ.

سيپاره يې پر غالۍ کېښوده.

بالښت يې د توشکې له سره را واخيست، زما مخې ته يې کېښود.

سيپاره يې له وربښمين دسـمال څخـه را وايسـته او پـر بالښـت باندې يې وغوړوله.

پوښتنه مې وکړه: څومره دې ويلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور غږ يې راغی: زرمينې! يو سات صبر وکه چې دمه يې جوړه شي. ملا صاحب، ډوډۍ دې خوړلې ده؟

- هو. خوړلې مې ده.
- که دې نه وې خوړلې چې شرم ونه کې. خپل کور دې دی.
- خير يوسې. خوړلې مې ده.

بېرته ولاړه.

په سبق لګيا وو چې پتنوس په لاس کې راغله. ملا يې کړوپه کړه. پتنوس يې زما مخې ته کېښود.

ور ومې کتل. د سره کميس له ارت ګرېوانه يې هر څه را ښکاره شول.

دا لکه چې پوهه شوه چې سترګې مې ورته نيولې دي. چپ لاس يې ګرېوان ته پورته کړ. کميس يې په ټټر پورې ټينګ ونيو.

سترګې مې ځمکې ته ونيولې. ساه مې بنده وه. خوله را باندې ماته شوه.

له چيني پيالې څخه د شنو چايو تاو د لاچي (هېل) له ورېم سره يو ځای پورته شو.

پر دوو پښو کېناسته. له نکلي لوښي نه يې يو چاکلېټ را واخيست. زېړ پوښ يې، چې د غوا عکس ورباندې چاپ و، خلاص کړ خو بېخي يې ايسته نه کړ. هماغسې د ګوتو په سر يې ما ته را وړاندې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژوند کې چا دومره نه وم نازولی.

چاکلېټ مې خولې ته کړ. داسې نرم چې پخپله کرار کـرار ویـلي شو. کټ مټ لکه هلته چې د انارو دانې او منې په خوله کې ویلـې کېدې.

نجلۍ تکړه وه. دوه وارې مې ورته سبق تېر کړ، نوره پخپله لګیـا شوه.

چای دومره خوندور و چې ټوله چاینکه مې وڅښـله. د دېوالونـو فیروزه یي رنګ داسې روښانه او سوتره و چې ته وا همدا پـرون یې رنګ کړي دي. پر اورسۍ د فیروزه‌یـي رنـګ دوې ټـوکرینې پردې له زري لیکو سره په دوو خواوو کې او په مـنځ کـې یـې د نسبتاً تت فیروزه‌یي رنـګ جـالۍ ځوړنـدې وې. دې رنګونـو، د عطرو نازکې خوشبویۍ او د کوټې آرامـې فضـا عجیبـه سـکون راکړی و. هم مې د پردیتوب احساس کـاوه، هـم د خپلـوۍ. هـم خوشحاله وم، هم وېرېدم. خوشحاله په دې وم چې داسې سکون، آرامي او ښکلا مې په نصیب شوي وو. وېرېدم په دې چې هسـې نه دا هر څه یوازې د یوې ورځې وي. زړه مې غوښتل چـې ټـول ژوند په کې تېر کړم خو په پردي کور کې نو کله کېږي.

نجلۍ ته مې وویل: مور ته دې وایه چې ملا صاحب ځي.

مور یې له بډ وهلو لستوڼو سره راغله. ویې ویل: ځې؟

- ولاړ به شم. د زرمینې سبق خلاص دی.
- سبا ته خو به راځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ان شاءالله.

لاس يې په تور ځادر باندې وچ کړ. ګرېوان ته يې ننه ايست. ځـو دانې لس زريز نوټونه يې راوايستل. ويې ويل: هه، دا در واخله.

ومې ويل: پروا نه کيي. د پيسو په خاطر خو نه يم راغلی.

- ولې به پروا نه کيي؟ زحمت وباسې. د خپل کار و بار نـه پاتې کېږې نو شکرانه خو دې حق کېږي.

- ښه نه ده. پيسې نو څنګه در نه واخلم؟

- که يې وا نه خلې، بيا زه درنه خپه کېږمه. هله، زړګيه!

پيسې مې چې څنې واخيستې، ګوتې مو سره ولګېدې.

بيا هماغسې لړزه را باندې راغله. دې ته مې وکتل. موسېدله.

له کوره يې ووتم خو لکه يو شی چې مې په کـې ورک کـړی وي، ناکراره وم. تر سبا ماسپښينه پورې مې هره ګړۍ د هغې خـبرې يادېدلې: که يې وا نه خلې، بيا زه درنه خپه کېږمه. هله، زړګيه. «زړګيه!» اوه! په دې کلمه کې څه وو چې داسې يې بې واره کړی وم.

هره ګړۍ مې د هغې تودې ګوتې احساسولې چې زمـا پـر ګوتـو لګېدلې وې. ګوتو ته به مې وکتل. ګوتې به مې لمس کـړې. لکـه د هغې ګوتې چې وي، همداسې خوند يې راکاوه. د هغې سترګې به مې سترګو ته درېدلې چې په مينه را ګوري. د موټر په هېنداره کې هم د هغې سترګې را ته ښکارېدلې. دا نه وه خو ما يـې د عطـرو بوی احساساوه. د موټر پر غولي د پښو د ترپولو دربـا مـې يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربېدله. د ژاولې ترکا مې یې غوږونو ته راتلله. ان په لمانځه کـې مې هم سترګو ته ولاړه وه.

د شپې مې ډوډۍ ته چنداني زړه نه کېده. ټول ویده وو خو زه په بستر کې لټ په لټ اوښتم را اوښتم. پوه نه شوم چې کلـه خـوب یوړم خو سهار چې ځنګه راویښ شوم، دا مې په ذهن کې وه.

وروستۍ جمله مې یې په ذهن کې تاوېده را تاوېده: «که یې وا نه خلې، بیا زه درنه خپه کېږمه. هله، زړګیه!»

په ژوند کې چا زړګی نه وم بللی. ان خپلې مور به هم یوازې ګلاب بللم. خو ښاپېرۍ راته ویلي وو «زړګیه».

څومره خوږ آواز یې و.

«زړګیه»

اخخخخ! دا خوندوره کلمه مې له ذهنه نه وتله. په یادولو سره یې بیا بیا خوشحالېدم او په زړه کې مې خوشحالۍ راټوکېدلې.

وخت ولاړ و. هره ګړۍ به مې ساعت ته کتل خو ستنې یې داسـې ورو ورو خوځېدلې لکه د سـاه لنـډۍ ناروغـه بـوډۍ. زړه مـې غوښتل چې په وخت پسې کوټک را واخلم او ویې ځغلوم.

ډوډۍ ته مې زړه نه کېده. یوې بجې ته نه شـوم معطـل. دولـس نیمې ورغلم.

لور یې دروازې ته راغله: څوک یې؟

- ملا صاحب یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بل وره له شا څخه يې د مور تت آواز راغی: زرمينــې! ور ورتــه خلاص که. په کوټه کې يې کېنوه، زه در وځم.

څو شېبې په کوټه کې ناست وم. د کـوټې ور خــلاص و. د اوبــو شرپا راتله. څو شېبې وروسته مخامخ ور خلاص شو. ښاپېرۍ را ووته. سپينه توليا يې پر سر باندې پيچلې وه. په خندا کـوټې تــه راننوته. کوټه د شامپو او صابون په خواږه بوی ډکه شوه.

ويې ويل: وبخښه، زه په تشناب کې وم. گرمي ده، که سړی هــره ورځ ونه لامبي، خوسا کېږي.

په زړه کې مې وگرځېدل چې زه خو يوازې دا جمعــه بلــه جمعــه لامبم.

دغسې بې سينگاره هم پوره ښايسته وه.

- ډوډۍ به دې نه وي خوړلې؟
- ډوډۍ؟ امممـ
- شرمېږې ولې؟ گوره زړگيه! ما خو درته وويل چې خپــل کور دې دی. چې هر څه ته دې زړه وشي، را ته وايې بــه يې. پوه شوې که نه؟ هررر څه.
- ډېره مهربانه يې.
- دا خو ده.

کټ کټ په خندا شوه. سترگې يې را نه نه اړولې. نيــغ يــې را تــه کتل.

زړه مې په ټکان شو. د زړه دربا مې غوږو ته رسېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې مې ټيټې کړې.

خوله مې وچه وه. ژبه مې په تالو پورې نښتې وه. ته وا د اوړي د روژې مازديګرى دى.

پاڅېده. دغسې چې زما له مخې تېرېدله، په ويښتو کې يې ګــوتې را تېرې کړې، ويې ويل: ډېر شرمېندوکى يې.

د غوړيو د سره کولو ځځا راغله. د زېړو غوړيو خوندور وږم تــر ما را ورسېد. وږى وم. اشتها مې نوره هم را وپارېده.

زرمينې دسترخوان راووړ.

مور يې پتنوس په لاس کې راښکاره شوه.

درې دانې هګۍ په چيني هوار قاب کې، مالګه او مرچ پــه ښيښــه يي بوتلونو کې، د کاغذ غوندې سپين دسمال.

هګۍ يې داسې پخې وې چې سپين يې ټينګ پوخ شوى و خو زېړ يې د لمر غوندې په منځ کې اوبلن ولاړ و.

ويې ويل: دا د وطني چرګانو هګۍ دي، فارم والا نه دي. په زېړو غوړيو کې پخې شوې دي.

د هګيو رنګ او خوند دواړه ښه وو. په کراچۍ او لاهور کې مې دا دومره کلونه داسې خوندورې هګۍ نه وې خوړلې.

له کوره يې چې راووتم، په يکه توت سيمه کې نايي تــه کېناســتم چې ويښتان مې جوړ کړي. د برېتونو څوکې مې وربانديې داســې بياتي کړې چې شونډه مې جوته شي. د نايي د دوکان په آخر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې درې څلور واړه يو نفري حمامونه وو. ورغلم او خيري مې له ځانه لرې کړل.

له حمامه چې راووتم، د نايي د دوکان هېنداري ته ودرېدم. په ويښتانو مې گوتې تېرې کړې. ځان راته ښه ښکاره شو. د دوکان ور بېرته شو. لس دولس کلن سپېلنيو والا هلک راننوت. په ټيمگي کې يې سپېلني واچول. دوکان په لوگيو او د سپېلنيو په بوی ډک شو. نايي ورته په غوسه وويل: ووځه! خلک مه په عذابوه.

ما يو زرگون له جېبه را وايست، ومې ويل: مه کوه، وبال دی.

هلک په بېړه زرگون رانه واخيست او ووت.

د واسکټ غاړه مې سمه کړه. نايي ته مې وويل: څو روپۍ درکم؟

ويې ويل: پروا نه کيي.

د اوو اتو کلونو خوارينجوکې نجلۍ په دروازې راننوته.

نايي را ته کړه: هن! چې يوه ته دې پيسې ورکړې، بيا بله درلېږي. ځغله د سپي لورې! ورور خو دې پيسې يووړې.

نجلۍ د جړو خيرنو ويښتو له منځه را وکتل.

ورته موسکی شوم. په لاس مې د راتلو اشاره ورته وکړه. زرگون مې ورکړ.

نجلۍ موسکه شوه او په منډه له دوکانه ووته.

بيا د پل خشتي جومات خوا ته ولاړم. د جومات د دواړو خواوو سړکونه له خلکو ډک وو. پر کراچيو باندې لاسي ساعتونه، راډيوگانې، ټېپونه او د اسلامي ترانو کېسټونه، وړې تېزابي بېټرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او واړه نيون څراغونه چې په بېټـرۍ چـالانېږي، د خيـاطۍ زاړه ماشينونه، کمبلې او د کـور نـور مسـتعمل سـامان پراتـه وو او کراچۍ داسې کتار کتار ولاړې وې چې پر سړک باندې يوازې دوه موټرې څنگ په څنگ تېرېدلی شوای خو دغه تنگ سـړک هـم لـه لارويو داسې ډک وو چې موټروانان مجبور وو پر هـارن بانـدې لاس همداسې ټينگ ونيسي چې خلک ورته لاره وکړي.

د جومات له دېوالونو سره جوخت په پيـاده رو کـې د ښيښـه‌يي سرپوښ والا په هوارو لرگينو صندوقونو کې چا د نسوارو سـپين او ژړ د غميو والا ډبلي خرڅول؛ چـا چـړې، سـاتووې او وطنـي لويې بياتۍ؛ د چا مخې ته لرگينې تسبيح، مسواکونه، دنداسـې او جاينمازونه پراته وو. يو څـو کسـانو عطرونـه خرڅـول. د درې څلور کلن ماشوم د خچې گوتې په اندازه نريو ښيښه‌يي بوتلونـو کې رنگ رنگ عطرونه وو. يوه ته يې ودرېدم. ما وې يو ښه عطر خو راکه.

د يوه بوتل سرپوښ يې لرې کړ. پلاستيکي خلی يـې لـه عطـرو راوايست. ويې ويل: لاس دې را داسې که.

په مړوند باندې يې عطر راته ولگاوه. تېز بوی يې له لرې هم پوره زورور و خو ده وويل چې پوزې ته يې نژدې که.

خوښ مې نه شو.

بل او بل يې راباندې بوی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رښتيا شي، زه په عطرو نه پوهېدم. هېڅ کله مې عطر نه درلود. زړه نازړه وم چې کوم يې واخلم.

سړی لکه چې راباندې پوه شو، يو بل بوتل يې راپورته کړ چې په منځ کې يې د اوبو غوندې بې رنګه خو ټينګ غوندې عطر و. ويې ويل: دا واخله، خالص د ګلابو شيره ده.

دا يو يې په ورمېږ باندې را ته وواهه. بوی يې تېز و خو بد راباندې نه لګېده. پيسې مې ورکړې او بوتل مې په جېب کې واچاوه.

سبا چې د هغې کره تلم، هغه نوي سپين کالي او تور واسکټ مې واغوستل چې نور کله به مې يوازې د جمعې په لمانځه کې اغوستل. د ګلابو عطر مې په کاليو وواهه. تلو ته مې ډېره تلوسه وه. د ميکرويانو چوک ته چې ورسېدم، د طالبانو پاټکيانو ودرولم. لاندې باندې يې را وکتل. راکښته يې کړم. پوښتنې ګروېږنې يې وکړې چې څوک يې څه کار کوې. ما چې وويل ټکسيوان يم، نو يو بل ته يې سره وکتل، ويې ويل: ټکسيوان نو دغسې وي لکه تا؟ کالي خو دې د خانانو دي.

ومې ويل: د چا واده ته روان يم.

ويې ويل: لوی الحمد تېر که بيا ورځه.

ورته شروع مې کړه «الهم انا نستعينک و نستغفرک و نوءمنوبک ...» تر نيمايي پورې مې چې ورساوه، ويې ويل: بس، صحيح شو. ورځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جالبه وه. نور کله به چې خیرن پیرن گرځېدم، هېڅا نه درولم خو نن چې مې سر و صورت او کالي پاک وو، ایسار یې کړم.

ښاپېرۍ چې څنګه ور پرانیست. سر یې لږ شا ته کـړ. پـوزه یـې غونجه شوه، شونډې یې بوڅې کړې. د ټیکري پیڅکه یې پوزې ته ونیوه.

ومې ویل: د عطر بوی درباندې بد لګېږي.

- د هر عطر نه، خو دا مې خوا ګرځوي.
- وبخښه. ما ته معلومه نه وه.
- خیر دی زړګیه! خو که خپه کېږې نه، نور دا د مړي عطر په ځان مه وهه. خلک دغه عطر د مړي پـه کفـن بانـدې وهي چې د مړي بوی په کې ورک شي.

څو پورې چې زه کېناستم، دې د کړکۍ پله خلاصه کړه.

ځان ته غوسه وم چې ولې مې داسې عطر وهلي دي.

زرمینې ته مې زر زر سبق ووایه.

دا ببخي کوټې ته رانغله. ځان سره مې وویل چې زر بایـد پښـې سپکې کړم.

تر سبا یو شواخون راباندې تېر شو. هسې نه چې رانه خپه شوې وي. نه، نه. خدای دې نه کوي. که خپه وي نو بیـا؟ ټولـه ورځ او ټوله شپه له ځان سره لګیا وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا چې تلم، جامې مې بدلې کړې. سپين کالي مې چې وايستل لا هم د هغه مردار عطر بوی هماغسې تېز په کې پـاتې و. واسـکټ مې هم بل واغوست.

چې ويې ليدم، په خندا يې وويل: آفرين زړګيه! دغسې مې خـبرې منه کنه.

زه يې دې خبرې ته داسې خوشحاله شوم لکه ماشوم چې څـوک وستايي.

چې بېرته راتلم، يوه قوطۍ يې راکړه. عطر په کې و. د سـنځلو د ګلو نرم ورږم ترې لګېده.

نور به نو يا هره ورځ يا يوه نه بله ورځ لامبېدم. د ښـاپيرۍ کـره چې به تلم، اول به مې د هغې راکړې عطر پر ځان واهه. کله کلـه به مې ډوډۍ هـم ورسره خوړلـه. چـای، د ماسپښـين لـمونځ او اودس، هر څه مې هماغلته وو. هسې مې هم د تلو لپاره بل ځـای نه درلود. يو مې تره و خو هغه مې هم نه خوښېده. ډېر ظلمونـه يې را باندې کړي وو. مور و پلار مې چې مړه شول، د ده په کـور کې قيامت راباندې تېر شو. زمـا خـو زړه پـرې وسـو کـه نـه د لاسنيوي لايق خو ولله که و. اوس يـې څـه کـوم چـې سـړيتوب راسره کوي، اوس خو نو مجبور دی.

د شپې به له تبليغيانو سره په جوماتونو کې څملاستم. غرمـه بـه مې له ښاپيرۍ سره وه. يوه نيمه ټوکه بـه يـې را سره کولـه. پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهربانوسترګو به یې را ته کتل. ورځ تر بلې مې په زړه کې ورته مینه زیاتېدله.

بله ورځ غرمه چې ورغلم، په کوټه کې یوازې را تــه راغلــه. تــوره اوږده چپنه یې اغوستې وه. د هوډۍ پوښتنه یې وکړه. ومې ویــل چې خوړلې مې ده.

چای یې راووړ.

د زرمینې پوښتنه مې وکړه.

ویې ویل: هغه خو نن د ماما کره تللې ده. کور کې یوازې یمه.

- چې داسې ده نو زه به لاړ شم.
- چېرته ځې. زه خو یم. یوه ګړۍ به سره خبرې وکو.
- سمه ده.
- رښتیا یوه دیني پوښتنه.

لاړې مې تېرې کړې: وایه کنه.

- شرم خو به نه وي؟
- نه. ملایان وایي په شرع کې څه شرم؟
- هغه ده، ما وې، په ښځو باندې غسل کله اوړي؟

له دې پوښتنې سره یې پر شونډو باندې شوخه موسکا تېره شوه. ژبه مې په تالو پورې نښتې وه. په سختۍ سره مې خوله په نــاړو خیشته کړه. ومې ویل: هغه ده، د حیض و نفاس نه وروسته او د کوروالایي نه وروسته.

پر توشکه لږه را وښوییده، لږه رانژدې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل: په څه رقم کوروالايي؟

ګومان مې کاوه چې له مخ نه مې لمبه پورته کېږي. په خوله کې مې ناره وچه وه. نه پوهېدم چې څه ووايم.

لږه نوره هم رانږدې شوه. څنګ ته مې کېناسته. په بنده بنده ژبه يې وويل: مطلب مې ـــ دا دی چې ـــ که سړی ـــ خوند وا نه خلي ـــ نو بيا؟

نور نو د دواړو حوصله ختمه شوه.

شېبه وروسته سست او بې حاله پروت وم.

د دې له مخه تود وږم پورته کېده. د ګوتو سرونه يې د ويښتانو په منځ کې او ورغوي يې غمبورو ته نيولي وو. خوله يې نيمه غوړېدلې غوټۍ ته ورته شوې وه.

په کراره مې له ځانه لرې کړه.

بد بد يې را ته وکتل. ويې ويل: وحشي!

زه د خبرو د کولو نه وم. مړ پړ پروت وم.

پاڅېده. ويې ويل: جګ شه. تشناب ته لاړ شه. په سطل کې مې تودې اوبه اچولې دي. وحشي يې کنه! هسې دې خرابه کړم. وچ په وچه دې غسل را باندې واړاوه.

اوه. دا څه اورم؟ دا خو هماغه خبرې دي چې د هېندارو ښاپيرۍ يې را ته کړې وې.

دا هماغه ښاپيرۍ ده؟ که هغه همدغه ښاپيرۍ ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شا ته مـــې وکتــل. د هېنــدارو د کــوټې ور هماغســـې خــلاص و. ورننوتم. هماغه کوټه وه. چارچاپېره هېنداري، هېنداري، هېنداري وې او زه وم.

سخت غوسه وم، پښېمانه وم، خپه وم.

پیغور مې اورېدلی و. وحشي، یعنې ته په معاملــه نــه پــوهېږې. یعنې ته کمزوری یې. یعنې ته نر نه یې، نارینتوب نه لرې.

په گناه اخته شوی وم. هلته مې خلکو ته تبلیغ کاوه او دلته پخپله د گناه په مرداریو کې لوېدلی وم.

خو خبره همدومره نه وه. نو بیا؟

نور مې هېڅ نه یادېدل، لکه د بل چا کیسه چې اورم یا دا چې فلم گورم. تلوسه مې وه چې وپوهېږم وروسته به څه کېږي. نه، هغه خو تېر وختونه وو؛ تلوسه مې وه چې وپوهېږم چې وروسته بیـا څه شوي وو. بېرته مې د هینداري ور پرانیست. ور ننوتم.

په کابل کې وم. له هماغې ورځې بیا د ښـــاپېرۍ کــور تــه نــه وم تللی. شپږمه ورځ یې جمعه وه. مولانا صاحب له کراچۍ نه راغلی و.

ټوله هفته مې په استغفارو، په توبو تېره کړې وه.

مولانا صاحب چې ولیدم، ویې ویل: جي، ســنگه چــل دي؟ ولـــې داسې خپه غونتې خکارې؟

سترگې مې ټیټې کړې، ومې ویل: هېڅ. نشته څه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل: دا سترګې خو دې بل سه وايي. جي، ما نه به خبره نــه پټوې. زه خو دې يار يم کنه.

دې خوا ها خوا مې وکتل. زړه نا زړه وم چې ور ته ويې وايم کــه نه.

زما ښی لاس يې د دواړو لاسونو په ورغويو کې ونيو. ويې ويــل: ګوره! چې هره خبره وي، را ته کوه يې. په ما بروسه وساته. ســه وساته؟ بروسه وساته. په ما باندې هم ځواني تېره شوې ده کنه. هله نو، د ړه خبره وکه.

په غوړ کې مې ورو ور ته وويل: ګناه را نه شوې ده، لويه ګناه.

تر لاس يې ونيولم. ځنډې ته يې کړم. ويې ويل:

آخر انسان هو مې، فرشته تو نهي

انسان نه کريګا تو خطا کون کريګا

- که ګناه لويه وي نو بيا؟
- چې هر ســه وي. اللــه مهربــان ذات دې. اللــه ســه دې؟ مهرباااان ذات دې. دا مونزونه يې همدې له را نازل کــړې دي چې ګناهونه مو پاک شي کنه.

صفا خبره مې ورته وکړه چې زنا مې کړې ده.

تسلي يې راکړه چې د جمعې په لمانځه کې کبيره ګناهونه معــاف کېدی شي. څو اوراد يې راوښودل چې هره ورځ يې تکرار کړم.

بيا يې را نه پوښتنه وکړه چې: خه نو ته خو را له اووايه چې چــا سره؟ سنګه؟ په کوم زای کې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله کیسه مې ورته وکړه.

بیا یې را ته وویل: نو شابه مام درسره بوزه چې هغــې بي بي لــه هم سه اوراد وخیم.

سبا غرمه ورغلو. ښاپېرۍ یوازې وه.

مولانا مې ور ته معرفي کړ.

مولانا څو دقیقې ور ته نصیحت وکړ. بیا یې را ته وویــل: ګلابــه! بچیه ته خو عیدګاه جومات له ورشه. هغه د ما بېګ درسره راوړه. شابه.

زه ووتم. مولانا پاتې شو.

چې بېرته راغلم، مولانا را ووت. د تورخم اډې ته مې ورساوه.

په لاره کې یې تسلي راکړه: ګوره چې خپه نه شــې. ســومره چــې سړی خدای ته نیګدې کېګي، هغومره شیطان ور لــه زان نیګــدې کیي. اوس نو ته را له اووایه چې شیطان په کفارو باندې ولې کار نه لري؟

زه غلی وم. د ده خوله موسکه وه.

ویې ویل: خو هغوی پخپله بــې لاري دي کــه نــه. ســه دي؟ بــې لااااري دي. کفار خو به هسې هم جهنم لــه ورزي. شــیطان خــو غواړي همدا چې د خدای بندګان دوزخ ته واچوي. چې چېرته یې واچوي؟ دوززززخ ته یې واچوي. نو چې سومره یــو ســوک خــه مسلمان وي، شیطان هماغومره خواري کیي چــې د لارې نــه یــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوباسي. خو الله تعالی لوی مهربان ذات دې. د عفوې ډېرې لارې يې را له خودلې دي.

نه پوهېدم چې څه ووايم.

پر ورانه يې ټس راکړ، په خوند خوند يې ترنم شروع کړ:

هلته په جنت کې بس جانان به وي، مزې به وي

خکلې پېغلې حورې او غلمان به وي، مزې به وي

سه به وي؟

هلته په جنت کې بس جانان به وي، مزې به وي

خکلې پېغلې حورې او غلمان به وي، مزې به وي

مولانا مې په دې انداز کې نه و ليدلی. عجب ښايسته غږ يې و.

په خندا يې وويل: هله نو شابه! تېم راسره اووايه کنه.

دواړه لګيا شوو:

هلته په جنت کې بس جانان به وي، مزې به وي

ښکلې پېغلې حورې او غلمان به وي، مزې به وي

له اړې سره چې کوزېده، د ګوليو يوه قوطۍ يې راکړه.

ويې ويل: هه، دا درواله. که بل وخت شيطان درباندې غلبه اوکړه او د هغې بي بي خوا له ورغلې نو يوه دانه به يې پــه خولــه کــې اچوې. سه به کيې؟ په خوله کې به يې اچوې.

پر قوطۍ د توغول شوي راکټ رسم و چې بره خوا روان و.

ماغزه مې سخت ستړي وو. ګومان مې کاوه چې سر مې پړسېدلی دی. کوټې ته ورغلم. ستوني ستغ وغځېدم. خوب يووړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب وینم چې ښاپیرۍ ته ورځم. کور یې د سړک پــه غــاړه دی. کور یې بل رقم دی، د دوکان غوندې ښکاري. مــوټر دروم. د وره خوا ته حرکت کوم. د کور ښیښې تورې دي. غواړم پر زنګ گوتــه ټینګه کړم. گورم چې د ننه په ښي لاس کې دوه نارینه پر چوکیــو ناست دي او ما ته گوري. زړه نا زړه یم چې زنګ ووهم که نه.

ور پرانیزم. گورم چې مولانا صاحب او د ښاپیرۍ مېړه سره خــوا په خوا ناست دي. د ښــاپیرۍ مامــا او لــوڼې او زامــن یــې ټــول هماغلته دي. دسترخوان وېړ دی. مولانا د دسترخوان بــر سر تــه تېرېږي. ما ته په خپل څنګ کې ځای جوړوي خــو زه وایــم نــه، تاسې مهرباني وکړئ، زه به وروسته راشم.

همدغه ځای کې چې دسترخوان وېړ دی، بل ښیښه یــي ور دی. د ښاپیرۍ د کوټې ور. غواړم ور پرانیزم چې هغه پــه منــډه راشي. خوله یې له خندا ډکه وي. لــه مولانــا او لــه خپلــو خپلوانــو سره سترې مه شي کوي، بېرته د وره شا ته ځي او داسې ښکاري چې ما ته انتظار کوي.

زه هم ورځم. لاس راکوي. پر شونډو یې موسکا خــوره ده. ســور کورتي دامن یې په تن دی. د عین رنګ او ډیزاین کالي یــوې بلــې هم اغوستي دي. دواړه څنګ په څنګ ولاړې دي.

ناڅاپه د ښاپیرۍ خندا تښي. تندی یې تریو شي. کورتۍ وباسي، پر ځمکه یې ووهي. راته وایي: تا دومره نه ویل چې پــه دې څــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځو کې به په دې باندې څه تېر شوي وي؟ تــه دا پــوره هفتــه چېرته وې؟

هم خپه کېږم چې هغه مې خپه کړې، هم خوشحاله يم چې داسې څوک لرم چې ورياديږم او ديدن ته مې ناقراره ده.

ګورم چې ښاپيرۍ تر کورټۍ لاندې هېڅ شی نه دی اغوستی. خو جالبه دا ده چې ټول بدن يې په لنډو ويښتو کې پټ وي، لکه ږيره چې جګ ماشين شوې يا لکه چمن چې په ماشين رېبل شوی وي.

ان تيونه يې هم همدغسې وړو تورو ويښتانو پوښلي دي. مخ تــه يې ګورم، مخ يې هم عين شی. خو هېڅ بده نه ښکاري. هماغســې د پخوا غوندې ښکلې را ته ايسي.

يو دم وېره رالوېږي چې څوک يې په دې حالت کې ونه وينــي. زه او خورلڼه يې په يوه وار ورته وايو: اول دې کورټۍ واغونده، بيــا به خبرې وکو.

کورټۍ بېرته اغوندي. هغه او خورلڼه يې د باندې وځي. زه يــې د خوب له تخت سره پر ځمکه کېنم. ګورم چې هلته ممپلۍ پرتې دي خو تکې تورې لکه وطني جنغوزي. زه لکه ماشــوم ورتــه کېــنم. پښې مې د ۷ په شکل پرانيستې. يوه يوه دانه ممپلــۍ ســپينوم او خولې ته يې اچوم. لپه مې له پوستکو ډکېږي. وايم دا بــه چېرتــه غورځوم. څنګ ته مې کتابونه او کتابچې پرانستې پرتــې دي. يــو کتاب را اخلم. پوستکي ورباندې اچوم. ګورم چې د کتــابچې پــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ د زرمينې نوم ليکلی دی. ځان سره وايم: ښه نو دا خورلڼه يې زرمينه ده.

حيرانېږم چې زرمينه نو څنګه دومره لويــه شــوې ده او بلــه لا دا چې هغه خو يې لور ده نو خورلڼه يې څنګه شوه؟

بيا وېره راپيدا شي چې که څوک راشي او ما د ښاپيرۍ د خوب په کوټه کې ووينې نو بيا؟

همدې وخت کې د کوټې ور خلاصېږي. مولانا وي. پوښتنه کوي: ښاپيرۍ د کورتۍ لاندې سه اغوشتي وو؟

حيرانېږم چې دی نو څنګه خبر شو. بيا له ځــان سره وايــم چــې زرمينې به ورته ويلي وي.

ځواب ورکوم: نه.

وايي: نو دا به هماغه جامې وي چې ما د کراچۍ نه ورتــه لېګلــې دي.

راويښ شوم. چورت وړی وم چې دا نو څه رنګه خوب و. ګــنګس وم.

بېرته مې سترګې سره ورغلې.

چا را باندې غږ وکړ: راځه! نور دې بس دی.

شا ته مې وکتل. د هېندارو ښاپيرۍ د وره په خوله کې ولاړه وه.

حيران حيران مې ور وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ويل: دا دې څه وکړل؟ ځان را نه هېر و. دنيا را نه هېــره وه. ښه په خوندونو کې ډوب وم. هېڅ مې نه وو په ياد. نو ولې دې دا هر څه را باندې وکتل؟

ويې ويل: ما خو درته ويلي وو چې رازونه مه سپړه. خو ته پخپله راپسې راغلې. رښــتيا يــې ويــلي دي چــې «انســان عجــول دی» هاهاهاها! بنيآدم يې نو په هر څه کې تلوار کوې. خو غم مه کوه. هر څه به سم شي. په ما پسې راشه.

د هېندارو کوټې ته ورغلم.

دې تر لاس ونيولم. روانه شوه.

د هېندارو له سمڅې ووتو.

پر سترګو يې لاس را تېر کړ. سترګې مــې پټــې شــوې. دغــومره پوهېدم چې مخ په بره روان يم او لاس مې د هغې په لاس کې دی.

د اوبو شړپا شوه.

سترګې مې پرانيستې.

بېرته د هماغه چينې پر غاړه وم. شا و خوا ته شنبلي، د ســنځلو د ګلو وږم، پسته هوا.

لکه تازه چې له موره زېږېدلی وم، حافظه مې تشه وه. هېڅ شــی مې نه يادېده.

د هېندارو ښاپېرۍ وويل: ورشه، زړګيه! خوند واخله، بس خونــد واخله او خوند واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پستې ګوتې يې زما پر ګوتو وښــويېدې. لاس يــې زمــا لــه لاســه وايست خو خوندوره ګرمي يې په لاس کې را پاتې شوه.

نيلي سترګې يې زما په سترګو کې ښخې وې. دوه درې ګامه شــا ته لاړه. همداسې يې شا ته ځان خطا کړ. د اوبو شړپا شــوه او دا په چينه کې ورکه شوه.

د چينې اوبه بېرته سره ورغلې، هوارې شوې، هېنداره ځنې جوړه شوه خو يوازې زه په کې ښکارېدم.

په چمن کې ګرځېدمه او ګامونه خوندور وو، هر پل مې خوندور. ساه‌ګانې خوندورې او هر ځل يې خوندور.

چې تلمه تلمه، خوړل او څښل وو، چکر وهل وو. خوب او آرام وو، شراب و، جام و. نه اندېښنې وې، نه ارمانونه؛ نه مې کوم زخم، نه يې دردونه. هره شېبه مې وه خوندوره.

د سنځلو د عطر په وږمو راويښ شوم. د هېنــدارو ښــاپېرۍ مــې سر ته ناسته، زما په ويښتو کې يې پستې پستې ګوتې تېرولې.

له نيلي سترګو يې مهرباني ورېدله. د نريو ګلابي شونډو موســکا يې د مينې په بې پايه سمندر کې ګرځولم.

د ښاپېرۍ د ښــکلي جســم لــه هــرې ذرې څخــه مــې خوندونــه واخيستل.

دا ولاړه.

ما ته خوب راغی.

لمره ورکه شوه. خاموشې تروږمۍ په خواږه خوب ويده کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راویښ شوم. لمره هماغسې نېغه ولاړه وه. وړۍ وم.

سر مې را پورته کړ. د امو ونه مې مخې ته ولاړه وه. چې څنګه مې لاس ور وغځاوه، یو دانه یې را جلا شو. په هوا کې ودرېده. یوه تراړه ځنې ښېله شوه، خولې ته مې راغله. په خوله کې مې کرار کرار وېلې شوه. ورپسې بله او بله تراړه.

عجیبه وه، ام زړی نه درلود، پوستکی یې هم نه و، ټوله غوښه.

بل ام مې وخوړ. بل، بل ... شمېر یې را نه ورک شو چې څومره مې وخوړل خو نس مې هماغسې سپک و.

روان شوم. پښې مې پر شنه ځمکه داسې لګېدلې چې ته وا پر ورېښمین ټوکر یا د سپنج پر تختې ګرځم. د چمن ډکیو مې د پښو تلې تخنول او لکه چاپې چې یې وکړې، دغسې یې خوند راکاوه.

ګرځېدمه. ګامونه چست، وجود لکه ښکه، اندامونه نرم نرم او هوا د خوند ذرې.

الوتمه. د نیلي آسمان تر څوکو، تر ځلاندې لمرې پورې، له سپوږمۍ سره لیدنه.

لامبېدمه. د رڼو اوبو په تل کې، د خوږو اوبو په منځ کې، د خوندونو په بې پایه سمندر کې، له څپو سره مزلونه.

وخت ولاړ او دنیا لویه. آزادي مې بې له حده، هره چاره مې په خوښه او خوندونه بې حسابه.

زما تنده ازلي وه، زما تنده ابدي وه. لذتونه ازلي وو او خوندونه ابدي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب راغی. رڼـا ولاړه. او د خـوب هـره شـېبه مـې د خونـدونو دنیاګۍ وه.

د سنځلو د ګلو عطر.

لویه ساه مې واخیسته. سترګې مې رڼې کړې. د هېندارو ښاپېرۍ مې سر ته ناسته. سر مې را پورته کړ. لړ بره وڅکېدم. سر مـې د هغې پر پاسته ورانه باندې ولګاوه. داسې نرم لکه د بڼکو بالښت. بېرته مې سترګې پټې کړې.

خوږو ګوتو یې زما په ویښتو کې لارې جوړولې. د ګوتو سرونـه یې زما د سر له پوستکي سره لګېـدل او ګـوتې یـې ورو ورو لـه تندي څخه د سر څېرې ته او بیا څټ ته تېرېدلې.

پوښتنه مې وکړه: زه څوک یم؟ دا کوم ځای دی؟ او ته څوک یې؟

مستانه خندا یې وکـړه، ویـې ویـل: تـه د خونـدونو تـږی، دا د خوندونو نړۍ، زه د خوندونو فصـل. هاهاهاهـا. دلتـه درد او الم نشته. خوښۍ ډېرې خو غم نشته. دلته وږي ته خواړه دي، دلتـه تږي ته اوبه دي. دلته خوند دی، دلته ژوند دی. دلته زه یمه او ته یې، دلته بس دغه پیوند دی.

له ځان سره مې فکر وکړ. رښتیا یې ویله. زما نور هـېڅ څـه نـه یادېدل، یوازې خوند، یوازې تنده، یوازې حسن، یوازې مینه.

بیا مې په زړه کې را تېر شول چې داسې به نه وي. دا دومره ارته دنیا، دغه بې پایه نړۍ، دغه پراخه ځمکه، دغه پـه ونـو او ګلانـو ښایسته شوي چمنونه، دا تر هسکو هسکو پورې آسمانونه، دغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی سمندرونه، او د خوندونو دغه لویه دنیا، دغـه هـر څـه نـو یوازې زما لپاره؟

شونډې مې تودې شوې، خوږې شوې. له شونډو څخه مـې دغـه خواږه خوند ټول بدن ته لاره وکړه او لکه وینه مې په رګونو کـې وبهېده. ټول بدن مې په خوندونو کې ډوب شو.

سترګې مې پرانیستې. د ښکلې ښاپیرۍ تـودې شـونډې مـې پـر شونډو وې او خمارې سترګې یې نیم کښې. بدن یې تـود و. ډېـر تود.

زنګون یې زما د سر له لاندې څخه په کراره را وایست. پر ځای یې خپل ځنګل کېښود. پښه یې را باندې واړوله.

ټول بدن مې تود شو. خوندوره تودوخه وه. خوندونه د سـمندر د څپو په شان یو په بل پسې تلل را تلل او زما بې پایه تنده یـې پـه ورو ورو هم زیاتوله، هم یې ماتوله.

پوه نه شوم چې څومره وخت په دې خوندونو کې ډوب وم. زمان ولاړ و. لمره د آسمان په منځ کې نېغه ولاړه وه.

مړ پړ غځېدلی وم. زړه مې غوښتل چې تل تر تله دې همدا ښکلې د هېندارو ښاپیرۍ وي، همدا تنده همدا خوند وي، همدا زه وم.

خو نه پوهېدم چې دا خوند هم ختمېدونکی و. ښکلې پاڅېده. پـه نیلي سترګو کې یې پخوانۍ مهرباني نه ښکارېده. تندی یې تریو و.

زړه مې ولړزېد. داسې نه چې ښکلې را نه مروره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل: ناځوانه!

او همداسې روانه شوه.

اوچت پاڅېدم.

«ناځوانه»، «ناځوانه»! په غوږونو کې مې دغې کلمې انګازې کولې.

ولې يې ناځوانه را ته وويل؟

کومه ناځواني مې کړې وه؟

نه، دې را ته نه دي ويلي.

بل چا، هو بل چا ويلي دي. دغه غږ خو د دې نه و.

خو چا؟

ولې داسې فکر کوم؟

ولې دا کلمه او دا غږ را ته آشنا ښکاري؟

دا خو د هېندارو د ښاپېرۍ غږ نه و. دا څو شېبې مخکې يې چې د خوندونو خبرې را ته کولې، غږ يې دا وړ نه و.

نو دا غږ د چا دی؟

ولټېدم. په ښکلې پسې راون شوم.

هغه بې له دې چې شا ته وګوري يا زما په نارو غوږ وګروي، همداسې روانه وه. داسې چُسته، داسې چابکه چې ته وا په هوا کې ګرځي، نه پر دې ځمکه.

د هغې د هر ګام په ځای کې د سنځلو واړه واړه خړ او ژېړ ګلونه راټوکېدل. او زه ورپسې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګامونه مې چټک کړل.

دا هم تېزه شوه.

منډه مې واخیسته خو هغه چینې ته رسېدلې وه. ځان یې خطا کړ. د اوبو شړپا شوه. هوا د سنځلو د ګلو له لانده وږمه ډکه شوه خو هاغه پخوانی خوند په کې نه و.

د چینې اوبه بېرته سره ورغلې، هېنداره ځنې جوړه شوه.

هماغلته، د چینې پر غاړه کېناستم. چینې ته مې وکتل. یوازې زه په کې ښکارېدم. توره اوږده نرۍ ږیره مې له نریو برېتونو سره لګېدلې وه. رنګ مې سپین و، نوراني وم. شفاف پوستکی، نری مخ، نرۍ پزه. ځیږې وروځې، ځیږه باڼه، سترګې برابرې، نه غټې، نه ډېرې وړې.

خدای خبر چې څومره وخت مې هلته تېر کړ. خو په دې ټوله موده کې مې په ذهن کې یوازې یوه خبره ګرځېده: «ناځوانه».

ډېره هڅه مې وکړه چې دا کلمه هېره کړم خو مه دې شه. دې کلمې له ما نه لاس نه اخیست. د ګناه غوندې را پورې نښتې وه.

پاڅېدم. روان شوم خو نور مې پښو پر شنه چمن له لګېدلو خوند نه اخیست. هوا بې خونده وه. رنګونو خپل ښایست بایللی و.

روان وم خو لکه هېڅ چې نه یم. مخې ته مې ګلونه راغلل، ونې او باغونه، خو هر څه بې روحه، هر څه بې مالګې، هر څه بې خونده. په خوا کې مې د شاتو او شیدو لښتي بهېدل خو تنده نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت ولاړ و، خو دا ځل يې زړه را تنګاوه. زړه مې غوښــتل چــې وخت را باندې ژر تېر شي. که هر څه کېږي، ودې شي خو چې دا حالت نور نو تمام شي.

خو نه، وخت هم د «ناځوانه» د کلمې په شان ځای پر ځــای ولاړ و. ولاړ نه بلکې له ما چاپېر و. دواړو لاسونه سره يو کړی و چــې ما وځوروي. وخت د لېوه يوه ژامه او د «ناځوانه» کلمه يــې بلــه ژامه او زه يې تر منځ د بسمل د غاړې غوندې.

وخت ناځوان، هوا ناځوانه، فضا ناځوانه، هر څه ناځوان. لمره هم په ځوروونکي لمر اوښتې وه. نوره هغه مهربانه لمــره نــه وه چــې تودول يې زده وو خو سوځول نه. د هغې پر ځای لمر راغلی و چې سترګې يې برېښولې او وړانګو يې بدن سوځاوه.

نه مې په ګرځېدو کې زړه ښه کېده، نه په ناسته، نه پــه ملاســته. خوب هم نه راته چې له دې بلا مې وژغوري.

مرمرينه ماڼۍ مې را ياده شوه. ور رهي شوم.

ماڼۍ هماغسې شانداره وه خو ما تــه د خټينــې کــلا د کنــډوالې هومره هم ښکلې نه ښکارېده.

د شرابو د حوض خوا ته کېناستم. جام مې ډک کړ. خولې ته مــې ونيو. ساه مې بنده کړه او په يوه ساه مې له ستوني تېر کړ.

لويه ساه مې واخيسته. بل جام مې را ډک کړ. لا مې جام پــه لاس کې و چې ورو ورو مې بدن تود شو، سر مې دروند شــو. پــه سر کې مې خوندوره ګنګسي پيدا شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جام نه مې وړوکی غړپ وکړ. شراب مې د ژبې پر سر وساتل او لږ لږ مې څاڅکی څاڅکی په کراره تېر کړل. د ژبې هره ذره مې د شرابو له خونده ډکه شوه. دغسې ستونی، مری، معده.

بل غړپ مې وکړ.

بل.

سترګې مې درنې شوې.

خوندور کیفیت مې په بدن کې وغځېد. سستي، ګنګسي، بې غمي، خوښي.

لا هم د «ناځوانه» کلمې را نه لاس نه و اخیستی، خو ځورولم یې نه.

پرېږده یې چې ناځوانه مې وبولي.

څه ناځواني مې کړې ده؟

هېڅ.

نو ولې به زړه ورته خورم؟

ښه خبره ده. خپل عیش به ولې خرابوم؟

د رنډۍ لورې! ته لا څوک یې چې ما ته وایې «ناځوانه»؟

پاتې نیمایي جام مې په یوه وار په سر واړاوه.

لویه ساه مې واخیسته. خوند یې راکړ.

پرېوتم. لاس مې تر سر لاندې بالښت کړ.

ګنبدې ته مې سترګې واوښتې. وه مرمرینه، خو د ښیښې غونډې شفافه. د لمر وړانګې ځنې تېرېدې خو وړانګې یوازې زېړې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې. شنې، زرغـونې، سـپينې، سرې، نـارنجي او نـيلي وړانګــې، ګلابي، بنفشې، زېړې وړانګې. سل رنګونه په کې ګډ وو.

رنګارنګې وړانګــې د ګنبــدې او غــولي تــر مــنځ نځېــدلې. سره ګډېدلې، نوي رنګونه يې جوړول، نوي شکلونه يې جوړول. بېرتــه له يو بله بېلېدلې. بړبوکۍ غوندې تاوېــدلې. د وربېځــو پــه شــان غونډېدلې، بېرته خورېدلې.

وړانګې د سرو شرابو تر ډنډه پورې را کښــته کېــدې، تــر مــا را تاوېدې او بېرته پورته خوا تللې. هره وړانګه جلا عطــر، پــه هــر رنګ کې يوه بېلــه خوشــبويي. د ګلابــو، د ســنځلو او نــارنجو د ګلونو، د شبيو، د چندنو، د لونګو خوشبويي.

د دې وړانګو او رنګونو خوشبويي مې د شرابو په شان پــه ټــول بدن کې غځېدله او زه يې په خوندونو کې ډوبولم.

وړانګې به را کښته شوې. له ما نه به چاپېرې شوې. بړبوکۍ بــه شوې. زه به يې پورته کړم. تر ګنبده به يې ورسولم. بېرته به يــې خوشې کړم.

وړانګې سره تاوې را تاوې شوې. دوه د رنګونو او د خوشبو پړې ور نه جوړ شول. ټال ځنې جوړ شو، زه يې په کې کېنولم. دومره اوږد، دومره لوړ ټال چې ته وا سر يې ان آسمان تــه رسي. ټــال د ماڼۍ له دېوالونو داسې تېرېده را تېرېده چې ته وا دېوالونه هسې رنګونه دي، وربځې دي يا لړې يا د بوډۍ ټال رنګونه. د دېوالونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ځان ته خوشبویي وه. له هرې ټالۍ سره به مې د هووووووو، هیییییییي، نارې کولې.

زه وم او شراب وو، رڼاګانې او عطرونه.

د ښکلې ښاپیرۍ خبره را یاده شوه: مه سپړه رازونه چې خراب به شې. پاتې وي خوندونه، په عذاب به شې.

دا خبره مې بې اختیاره له خولې وتله. ورو ورو یــې د تــرنم بڼــه خپله کړه، لکه خوږه سندره په ښکلي طرز کې. د ټال هره ټــالۍ د طبلې ضربونه وو، په هوا کې تېرېدل یې ټول سُرونه.

تر هغې پورې چې په سد وم، بس همدا سندره مې زمزمــه کولــه: مه سپړه رازونه چې خراب به شې. پاتې وي خوندونه، په عذاب به شې.

د مرغیو په ښکلو غاړو راویښ شوم. څنګل مې تر سر لاندې و او ستوني ستغ پروت وم.

عجیبه وه. مخکې مې مرغیو ته څنګه پام نه و شوی؟

هغه رنګارنګې وړانګې چې له ګنبدې را تېرېدې، په حقیقــت کــې رنګارنګې مرغۍ وې چې سره غاړه غړۍ کېدې، له یوې بلې لــرې کېدې، کښته راتلې، پورته تلې، مختلفې بڼې یې جــوړولې او هــره یوه یې بېله خوشبویي خپروله. د هرې یوې غاړې جــلا خونــد او جلا رنګ درلود. خو ټولو غږونو په ګډه بله ښکلا جوړولــه. لکــه داسې سندره چې شعر او طرز په کې لــه مختلفــو ســازونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه غړۍ وي، هر شی یې جلا جلا اثر ولري، جلا خوند ولري او ټول یې په ګډه د خوندونو بله مجموعه جوړه کړي.

کېناستم. لکه د بړبوکۍ په منځ کې چې ایسار شــوی وم، مرغــۍ چارچاپېره را نه تاوېدې را تاوېدې.

لاس مې ور وغځاوه. څو مرغۍ مې له لاس سره ولګېدې خو لکــه دوی چې رڼاګانې او لاس مې رڼه ښیښه وي، په یو بل کې او لــه یو بله تېرېدل.

لاس مې راټول کړ. حیرت اخیستی وم. لاس مې سترګو ته رانږدې کړ. له ګوتو مې د ګلابو بوی لټېده. مړوند مــې د ســنځلو د ګلــو بوی کاوه. لېچه مې د نارنج ګل له بویه ډکه وه ...

زړه مې نه غوښتل چــې دا خوندونــه یــوازې پرېــږدم. زړه مــې غوښتل چې تل تر تله یې مل وم.

مدهوش ومه، نشه وم. خوندوره مې نشه وه او څه ښکلې تماشــه وه.

خدای زده چې څــومره وخــت بــه دغســې ناســت وم. ســترګې، غوږونه، پوزه، لاسونه، د بدن هر غړی مې د خوندونو په بې پایــه سمندر کې.

غږونه ورو ورو تت شول. رنګونه پیکه او وړانګې کمزورې شوې. لکه د اور په پای کې چې لوګی کرار کرار کمېږي او بیــا یــو مــخ ختمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولټېدم. د باندې راووتم. لا مې په سر کې د خونــدور درونــدوالي تتې څپې پاتې وې.

یو ځل بیا مې د هوا په تنفس خوند واخیست.

وږی وم. په مېوو کې بیا بې پایه خوند پیدا و.

خوړل، څښل، خوند اخیستل.

وګرځېدم. والوتم. ولمبېدم. هر څه بېرته د پخوا غوندې وو.

ښکلې مې را یاده شوه، د هېندارو ښاپېرۍ.

را ورسېده. خو، نیلي سترګې یې نه ځلېدې.

په تندي کې یې ګونځې ښکارېدې.

شونډې یې ځړېدلې وې.

د پخوا غوندې یې د سنځلو د ګلو عطر شینده خو مهرباني یې نه خپروله.

دغسې مې له څنګه ښویه تېره شوه. ته وا زه یې بیخي لیـدلی نــه وم.

غږ مې ورباندې وکړ: د هېندارو ښاپېرۍ!

را ویې کتل. خو کاش چې را کــتلي یــې نــه وای. ســترګو یــې د ملامتۍ ډز را باندې وکړ. وچ پر زړګي یې وویشتم.

بېرته یې مخ را نه واړاوه. داسې روانه شوه چې ته وا په هوا کــې ګرځي.

څه ګناه مې کړې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ نه پوهېدم خو ځان را ته پړ ښکارېده. د ملامتۍ درونـد بــار مې پر سینې ایښی و. ګومان مې کاوه چې زړه مې درېـدلی دی. ساه مې ډوبه وه، سینه مې درنه. ته وا چا مــې پــر مــرۍ بانــدې منګولې ټینګې کړې دي.

ورپسې رهي شوم. خو چې څومره زه چابکېدم، هماغومره دا رانه لرې کېده. منډه مې واخیسته خو خبره لا خرابه شوه. لکه له لــرې چې د غره خوا ته روان وې او چې څومره مزل کـوې، هماغــومره غر هم لرې کېږي او داسې درته ښکاري چې غر به در نه تښتي.

په ټول قوت وځغاستم.

ښاپیرۍ هوا ته ټوپ کړ. کښته ولوېده. د لوېدو له ځایه یې د اوبو جوپې هوا ته پورته شوې، بېرته را ولوېدې.

چې ور ورسېدم، په هغه ځای کې هواره ګرده هېنـداره وه او پــه هېنداره کې یوازې زما تصویر. ویښتان مې ګډوډ وو لکه له خوبه د پاڅېدلي کس ویښتان. تر سترګو مې شنې کړۍ تاوې وې. رنګ مې تور اوښتی و. شونډې مې وچې وې.

تصویر مې وار په وار سره تتېده. آخر ورک شو. خو زه لا پر خپل ځای وم. عجبه وه، هېنداري هم را نه مخ اړولی و.

د هېندارو ښاپیرۍ ولې را نه خپه وه؟

څه مې ورته ویلي وو؟

هېڅ مې ذهن ته نه راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوړند سر روان شوم. ګامونه مې داسې درانه وو لکه د سربو غونډاري چې ورپورې تړلي وي.

بیا هوا بې خونده شوه. سترګې مې له ځمکې څخه نه پورته کېدې. په هر ګام کې د هغې نیلي سترګې را ښکاره کېدې خو قهرجنې، ګرمؤونکې.

سر مې پورته کړ. د ونو په پاڼو کې قهرجنې نیلي سترګې ځلېدې. آسمان ته مې وکتل. ټول آسمان سترګې سترګې و. په هر څه کې د هغې سترګې وې. د پناه لپاره مې هېڅ ځای نه و. له هرې خوا د ملامتۍ بړلۍ را باندې ورېدله.

خو، ولې؟

دا څه رنګه پلیته ده؟

ولې مې داسې ځوروي؟

حال را ته ولې نه وایي؟

له شا څخه مې د زګیروي په شان آواز واورېد: «ناځوانه»

د غږ لوري ته مې وکتل. څوک نه وو.

له بلې خوا چا په لوړ غږ ناره کړه: ناځوانه! اې ناځوانه!

نارې انګازې وکړې. له هرې خوا د «ناځوانه»، «ناځوانه» غږونه راتلل.

ځای پر ځای ودرېدم. غږونه ورک شول.

روان شوم. له هر ګام سره مې له چمنه همدا غږ پورته کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیدو د لښتي څنګ ته کېناستم. شرهارو تــه يــې غــوږ شــوم. شرهار نه و. بل څه و. غوږونه مې ور ته څک کړل، ښه ورته ځير شوم. د شيدو له بهېدو څخه تــت آواز پورتــه کېــده: «ناځوانــه»، «ناځوانه»، «ناځوانه»

آوازونه وار په وار سره تېز شول، چيغې شوې، فرياد شو.

پاڅېدم. منډه مې کړه خو خلاصون مې ځنې نه و. د ونو له پــاڼو، د ګلانو له عطره، د هوا له چلېدو، له ځمکې، له آسمانه، لــه لمــر او سمندره بس همدا غږونه راورېدل: «ناځوانه»، «ناځوانه» ...

په غوږونو کې مې ګوتې کېښودې. له ګوتو مې هــم همــدا کلمــه راوتله.

نه پوهېدم چې چېرته وتښتم. بس منډې مې وهلې. مرمرينې ماڼۍ ته ورسېدم. چې څنګه ور ننــوتم، غږونــه ورک شــول. آه! کــراره کراري شوه.

لويه ساه مې وايسته. مطلقه خاموشي وه. يوازې مې د خپــل زړه دربا اورېدله او بس. داسې هوسا شوم لکه په ځنګله کې چــې لــه هرې خوا زمريان، پړانګان او لېوان درپسې وي، هــر يــوه تېــرې داړې درته نيولې وي او غرهارې وکړي، هر يو يې فقط يو ګام در نه لرې وي او ناڅاپه د امن ځای تــه ورســېږې او چــې شــا تــه وګورې، هېڅ هم نه وي. لکه لــه ســخت وېروونکــي خوبــه چــې راويښ شې او د کابوس اثر درباندې وي، خو د وېرې منبع نوره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرابو ډنډ ته ورغلم. گنبدې ته مې وکتل. نــه رڼاگــانې وې، نــه هغه وړانگې، نه هغه مرغۍ او نه يې سندرې.

بيا زه وم، بيا شراب وو، بيا مستي وه، بې خودي وه، بيا د هر څه هېرول وو، د خپل ذات بيا رغول وو.

بدن مې سپک شو، ذهن تش.

زړه مې غوښتل چې تل تر تله همداسې وپايم. که خوند نه وي نو عذاب هم نه وي. بې غم له خير و شره او نه فکر، نه سودا.

جامونه ډکېدل، تشېدل او شراب مې په رگونو کــې ځغســتل. لاس مې د شرابو ډنډ ته ورکښته کړ چې وروســتی جــام را ډک کــړم. گورم چې په سرو شرابو کې يوه جوړه نيلي سترگې را ته گوري.

ښه ورته ځير شوم. خرمايي ويښتان يې را ښکاره شــول. گــلابي شونډې يې وخوځېدې، په کراره يې وويل: ناځوانه!

نبغ را کېناستم. د سنځلو د عطر خوشبويي وه. خوشبويي وار په وار زياتېدله او په شرابو کې تصــوير ورسره دم پــه دم را نــژدې کېده. د نيلي سترگو په څنگ کې مې خپلې سترگې وليدې.

تت غږ مې تر غوږ شو: ناځوانه!

ښۍ خوا ته مې وکتل. پخپله وه. په ملا کړوپه، زمــا څنــگ تــه وه ولاړه. تر لاسه مې ونيوله.

ويې ويل: چېرې را نه تښتې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه؟ زه در نه نه تښتم. دا خو تــه وې چــې وتښــتېدې. د هېندارو په چینه کې دې ځان غیب کړ. وایه، څه ناځواني مې کړې ده؟
- رښتیا! غواړې چې وپوهېږې؟
- خود.
- مه سپږه رازونه چې خراب به ...

خبره مې ځنې ونیوله: مه سپږه رازونه چې خراب به شې/ پــاتې وي خوندونه، په عذاب به شې. مه سپږه رازونه چې خراب به شې، خو دا ته مې نه پرېږدې. ته مې زړه ته سودا را اچوې. ناځوانــه، ناځوانه. ولې مې ناځوانه بولې؟

غېږه یې خلاصه کړه، په مهربانه غږ یې وویل: راشه، غېږې ته مې راشه.

د ماشوم غوندې یې په غېږ کې ونیولم. د شرابو حوض ته یې ور ټوپ کړ. ما داسې ګڼل چې دغه حوض به د یوه زنګانه قــدر ژور وي خو چې ور ولوېدو، دغسې پســې کښــته روان وو، روان وو، روان وو، تل ته یې هېڅ نه رسېدو. لکه له الوتکې څخــه چــې لــه پراشوټ سره مو ځانونه خطا کړي وي، همداسې پــه مــدار مــدار کښته خوا تللو.

آخر د ځمکې تل ته ورسېدو. بیا مې مخې تــه د هېنــدارو دره وه. پورته مې وکتل. سره شراب نه وو، سره هېنداره وه.

ښاپېرۍ مخته شوه، ویې ویل: راځه ناځوانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې خونې ته ورننوته. زه ورپسې جوخت ورننوتم خــو دا غيبــه شوه. هرې خوا ته هېندارې وې او زه وم. چت له هېندارو جوړ و، غولی هېنداره، دېوالونه ټول هېندارې.

څو شېبې چوپتيا. بيا د يوې هېندارې لــه شــا ښځــه آواز راغــی: «ناځوانه»

د آواز لورې ته ورغلم. هېندارې ته مې لاس ور وړ. هېنداره د اوبو په شان پسته وه او په منځ کې ببله شوه. ورننــوتم. شــا تــه مــې وکتل. هېنداره بېرته د اوبو په شان سره ورغله.

مخ مې واړاوه. د سراچې موټر جلو ته ناست وم. د کابــل هــوايي ميدان په لاره کې سړک سخته ګڼه ګوڼه وه. په يو ساعت کې ايلــه له وزير اکبر خان مېنې ښځه د صحت عامه تر چوکه رسېدلی وم، يعنې تقريباً يو کيلو مټر لاره مې په ساعت کې وهلې وه.

موټرې داسې شا په شا په دريو ليکو کې ولاړې دي چې د تسبيح مرۍ به هم داسې سره جوختې نه وي. پنځه – شپږ دقيقــې چــې تېرې شي، موټرې لږ لږ خوځېږي، يو څو مټره وړاندې ځي او بيا درېږي.

وزير اکبر خان مېنه د کابل د عصري او شــتمنو خلکــو ځــای و. کورونه او کوڅې يې په نقشې برابرې، منظمې. لــوی انګړونــه او دوه پوړيز کورونه، سړکونه او کوڅې کانکرېټي. د هرې کوڅې په سر کې نمبر. د سيمې په مرکزي برخه کې يو لوی ښايسته پــارک له دنګو ونو، ښايسته چمن، سميټي چوکيو سره. د امريکا، جاپان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوریا، جرمني، او ځینو نورو ملکونو سفارتونه ټول همدلته دي، د لویو موسسو دفترونه هم ورسره. پــه همــدې خــاطر یــې دېــرې کوڅې بندې کړې دي. د هرې کوڅې په سر کې یې دنګ ســمیټي دېوالونه درولي دي. یو څو کوڅې چې خلاصې دي، هلته یې هــم دروازې لګولې دي او یوازې کارت والا موټر ور ته پرېږدي.

په پخوانیو حکومتونو کې چا ته اجازه نه وه چې تر دوو پوړونــو لوړ کورونه جوړ کړي خو اوس نو د وزیر اکبر خــان مېنــې پــه څنګ کې په شپږ پور سیمه کې نوي کورونه پنځه - شپږ پوړه دي او هر کور د ګاونډي د کور د رڼا او لمر مخه یــو مــخ نیــولې ده. اکثره کورونه د پېښور د حیات آباد پــه نقشــې جــوړ شــوي دي، ودانۍ ډېره لویه خو د رڼا او لمر درک یې نشــته. د هــرې کــوټې مخې ته دوه – درې متره راوتلې برنډه چې د لیندۍ غوندې نــیم دایره‌یي بڼه لري. د ځینو کورونو پــر دېوالونــو رنګــارنګې وړې وړې ښیښې او هینداري لګېدلې. د کورونــو دروازې غټــې پلنــې اوسپنیزې چې دوه موټره په کې تېرېدای شي.

موبایل ته مې زنګ راغی. ښاپیرۍ وه.

- څه شوې؟
- دا دی په لاره کې یم. لار بندي ده.
- ژر راشه چې را باندې ناوخته شو.
- درځم، درځم. ته ودرېږه چې د دې شین ســترګو مــوټرې تېرې شي، بیا لاره خلاصېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټیلیفون بند شو. د امریکایانو موټرې چې تېرېږي، نه پوهېږم چې څه چل کوي، ټول موبایلونه یو دم بند شي.

شل دقیقې نورې ووتې. د څلورم میکرویان مارکېټ ته ورسېدم.

د هوايي میدان سړک پخوا یو لاین او ډېر کم سورى و، ایلــه لــس متر به یې سور و خو اوس څلور لاینه دي دوه سورور لاینونه په منځ کې چې هره خوا به یې دېرش متره وي او دوه فرعي لاینونه یې په څنډو کې، خو بیا هم کله کله دومره ګڼه ګوڼه پــه کــې وي چې هرې خوا ته یې پنځه شپږ کتاره موټرې پــه یــو بــل پســې د مېږیو د لام غوندې ولاړې وي.

د څلورم میکرویانو سړک یې هم ښه ښایسته رغولی دی. هغســې چې د طالبانو په وخت کې کند و کپر و، اوس هغسې نه دی.

موبایل مې بیا وشرنګېده. پخپله وه. ویې ویل: څه شوې؟

- در ورسېدم.
- د شیریخ د دوکان مخې ته ولاړه یم.

ورغلم. ویې ویل: راځه چې یو شیریخ وخورو.

- بوډا چېرته دی؟
- کور کې. ویده دی. دوا چې وخوري، بیا ګــنګس شي. پــه دنیا نه وي خبر.
- نو زما کار به څنګه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وبه شي. ماښام چې جومات ته ولاړ شي، بیا یــو ســاعت پسې ورک وي. ډاکتر ورته ویلي چې ګرځې به. یــو شــی مې درته اخیستی.
- رښتیا؟ څه شی؟

په دسکول کې یې لاس ورننه ایست. یوه قوطۍ یې را وایســته. د موبایل عکس ورباندې و.

- ما ته دې اخیستی؟
- نو چا ته به مې اخیستی وي؟ ګوره، ښه کامره هم لــري. یو درې ساته یې چارج کې کېده. سبا چې راغلې، بیا بــه یې کمالونه دروښییم.

له یوه دوکانه یې نانځکه واخیسته. سره سپینه ښکلې ناوکۍ. چې سویچ یې ټینګ کړې، ګرد چاپېره تاوېږي او سندره بولي.

نانځکه یې ما ته راکړه، ویې ویل: ماښام چې راغلې، دا زرمینې ته ورکه چې خوشحاله شي. ها بله ورځ چې تــه ولاړې، تنــدی یــې تریو و. ویل یې چې دا ملا صاحب به تر کله داسې وخت نا وخته زموږ کور ته راځي؟

- بوډا ته خو به یې حال نه وي ویلی؟
- نه، نه، نه. هسې خو هوښیاره ده. ډارولې مې ده چــې که پلار ته دې څه ووایې، ما به وژني او بیا بــه تــه بــې موره پاتې کېږې. هسې خو یې له پــلار سره هــم نــه ده جوړه. پلار یې هر وخت ورباندې غالمغال او پټکې کــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هله دا راوړه، هله دا وکه، وه نجلۍ څه شـوې- یـوه خوږه خبره ورسره نه کوي.

- دغه مو په ګټه ده.

❃❃❃

د جمعې له لمانځه نه وروسته مولوي صاحب څنګ ته کړم: ګلابـه بچو! یو سو ورزې به دې موټر همدقلته دروې.

زړې جامې، شکېدلی واسکټ، او خیرنه خولۍ یې له تـور ډبـرین کجکول سره راکړل.

ویې ویل: نور به دغسې خیرن ګرزې، په زان به ګوتې نه وهې. د وزیر اکبر خان په ګلیو کې به ګرزې. کور په کور به یې معلوموې چې سوک په کې اوسېږي، کومه موسیسه ده، کـوم دفـتر دې پـه کې. د کسانو د تګ راتګ وخت به یې رامعلوموې.

موبایل ته مې زنګ راغی. بند مې کړ.

ویې ویل: ټچ موبایل دې؟

- هو.

- ته یې دې خوا که. همممممم! دا خو نورم خـه شـوه. نـو تصویرونه به یې هم الې. ګوره، د تصویرونو د پټولو چل درزي؟

- نه.

چل یې راوښود چې تصویرونه په دغه فولډر کې واچوه، دغســې پسورډ ورکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر فولډر ته مې جلا جلا پسورډونه ورکړل.

ښاپېرۍ ته مې زنګ وواهه چې یو څو ورځې نه شم درتلی. داسې ورسره عادت شوی وم چې بې له هغې شېبه راباندې کال تېرېــده خو څه مې نه شول کولی.

د وزیر اکبر خان د ډېرو کورونو مخــې تــه پیــره داران ولاړ وو. هېڅ چېرې یې درېدو ته نه پرېښــودلم: اې ملګنــه، دلتــه بــه نــه درېږې. ځه ورځه. هله.

هر چا به شړلم.

تر مازدیګره په سپین سترګۍ سره په یو څو کوڅو کې وګرځېــدم خو ډېر څه مې بود نه کړل.

ماښام مولوي صاحب پوه شو چې داسې نه کېږي. ویې ویل: یــو سو ورزې صبر وکه چې د خلقو هېر شې بیا به دې په بله جامــه ور ولېګم.

دا ځل یې بږیره راباندې لنډه کړه. توري غټې عینکې، سپینې جامې او نوې واسکټ یې راکړ. قاتېدونکې سپینه لکړه یې په لاس راکړه. یو دوه ورځې مې د ړندو په شان د تګ تمرین وکړ، بیا مــې کــار شروع شو.

یوه ورځ به په اوله کوڅه کې ګرځېدم، بله ورځ په اخره کې، بلــه ورځ په دویمه ... یو یا دوه واره به په یوه کوڅه تېرېدم خو ډېــر په کراره. هر څه به مې په ځیر څارل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې حالت ته خوښ په دې وم چې ښــاپېرۍ تــه ورتلــی شــوای. جامې مې پاکې وې او مجبور نه وم چې خیرن وګرځم.

عکسونه مې ډېر په چل سره اخیستل. په جېب کې به مې د موبایل موزیک چالان کړ چې ګواکې زنګ راته راغلــی دی. بیــا بــه مــې موبایل مخې ته ونیو او مخکې له دې چې غوږ تــه یــې ونیســم، عکسونه به مې اخیستل.

په عکسونو کې هغه د تورو ښیښو بې نمبر پلېټه تــور کروزینــګ چې دوه سپین لنډ کروزرونه ورپسې وو، د مولوي صاحب په درد لګېده.

بله ورځ یې د نسوارو د غټ ډبلي په اندازه یو ټایمر والا چســپکي بم راکړ. سهار چې تور کروزینګ له کــوره ووت، مخــې تــه یــې ورولوېدم. موټر لږ ګړندی و. تر هغه پورې چې بربېــک یــې کــار وکړي، پمپر یې معمولي راباندې ولګېد. تر موټر لاندې ولوېدم. تر څو پورې چې خلک له موټره کوزېدل، بم مې یې په فــربېم پــورې ونښلاوه.

ټوپک والو راپورته کړم. عینکې مې پر سرک لوېدلې وې. مــا مــې سترګې مخامخ وچې نیولې وې او سترغلي مې ژر ژر رپــول. پــه لاس مې مځکه ټپوله چې امسا مې پیدا کړم.

یو چا مې عینکې را په سترګو کړې، بل مې لکړه په لاس کې راکړه. په توره دریشۍ کې سره نیکټایي والا سړي مې لاس ونیــو، ویــې ویل: ژوبل خو به نه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بېړه مې وويل: نه، نه، بلا وه برکت يې نه و. خــدای را بانــدې ورحمېد.

سړي له جيبه يو زرګون راوکيښ، په ورغوي کې يــې را کېښــود. ويې ويل: دا دربانديې خيرات که. که ژوبل يې، شــفاخانې تــه دې يوسو.

ومې ويل: نه، نه. يو ځای مې هم نه خوږېږي. الله مو ښاد لره.

دوی مې رخصت کړل. په ټکسي کې کېناستم، سيده جومــات تــه ولاړم.

مولوي صاحب په کوټه کې ګوښی ناست و راډيــو تــه يــې غــوږ نيولی و. په لاس يې اشاره وکړه چې څنګ ته يې کېنم. د نهو بجو خبرونه شروع شول. اول خبر يې دا و: «د کابل د لســمې امنيتــي حوزې په مربوطاتو کې د چاودنې غږ اورېدل شــوی دی خــو د پېښې د څرنګوالي او مرګ ژوبلې په اړه کره معلومات نشته.»

د څو نورو لنډو خبرونه وروســته يــې وويــل: «پــه کابــل کــې د چاودنې په اړه تازه جزئيات. زمــوږ خبريــال د پېښــې ځــای تــه ورغلی او د ټيلفون پر ليکه راسره دی.»

خبريال د چارواکو له قوله وويل چې په پېښه کې د يوې ان‌جي‌او مشر او دوه ساتونکي يې وژل شوی دی.

مولانا صاحب په سترګو کې را ته موسکی شو. پر شا يې وټپــولم. ويې ويل: شاباس د نر بچيه! جزاک الله، جزاک الله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

چورت وړی وم. کله مې چې د سړي په موټر کې بم ننښـلاوه، پـه کیسه کې یې نه وم خو اوس مې سترګو ته د سړي څېره درېـدلې وه. څه ښکلي برېتونه یې وو. د عطرو بوی مې یـې احساسـاوه. خبرې مې یې په غوږو کې انګازه کوله: «که ژوبل یې، شـفاخانې ته دې یوسو.» هغه غریب څه خبر و چې زه به یې بلـې دنیـا تـه لېږم. اخخخ، بېچاره! زرګون یې په لاس کې راکړ چـې پـه ځـان پسې یې خیرات کم او اوس به په ده پسې خیراتونه کېږي.
مولوي صاحب پر اوږه وټپولوم: ګوره چې خپـه نـه شـې. د دې خلقو وجل داسې دي لکه ماران او لړمان چـې وجنـې. لکـه سـه شي؟
زه غلی وم.
ویې ویل: لکه ماران او لړمـان چـې وجنـې. دا خلـق چـې دي د لستوڼي ماران دي، د لستوڼي ماران. دا د خدای دخمنان دي. الله فرمایي چې: «ترهبون به عدو الله و عدوکم» د خپلو دخمنانو او د خدای په دخمنانو کې ډار او دهشت واچوئ. اوس به د دې خلقو په زړونو کې سخت ډار ننوتلی وي. سه پوی شوې؟
ومې ویل: له رنګه خو بد سړی نه ښکارېده.
له لاسه یې ونیولم. ویې ویل: رازه چې لګ بهر وګرزو. ته پوهېګې چې دې کس د سه شي کار و بار کولو؟ نه پوهېګې کنه. خلق یې عیسویت ته اوړول. په خپله هم اوړېدلی و، عیسوی شـوی و. پـه شار نو کې یې لویه بنګله کرایه کـړې وه. جـونې او هلکـان یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغونډول، د شرابو او شبابو محفلونه يې جوړول. دنده يې کوله. سه يې کول؟ دنده يې کوله. مسلمانې جونې به يې کافرانو له بوتلې. چا له يې بوتلې؟ کافراااانو ته.

په زړه کې مې تېر شول چې ته يې برېتونو ته وګوره او دا کارونه يې وګوره. برېتونه يې وو د غيرتي سړي خو پراته وو په دوسه خوله باندې.

ومې ويل: نو دی خو سم دم مردهګاو و.

مولانا صاحب ودرېد. پر اوږه يې لاس را کېښود: بالکل بړوا و کنه. الله په سورة التوبه کې وايي: «قاتلوا الذين يلونکم من الکفار و ليجدوا فيکم غلظة». نو الله متعال را ته امر کوي چې هغه کافران ووجنئ کوم چې تاسو ته نګدې دي او په عمل کې ورسره شدت وکړئ. سه وکړئ؟ شدددت وکړئ. نو ته را له اووايه چې عيسوی کافر دی که نه دی؟ دی که نه دی؟

ومې ويل: خود کافر دی.

- شاباس! خه نو چې سوک مسلمان وي بيا عيسوی شی؟
- هغه خو مرتد دی.
- دقسې. او مرتد د کافر نه بدتر دی که نه دی؟
- بدتر دی.
- بس نو. چې سوک د الله په امر عمل وکي او د الله دخمنان اووجني، هغه بايد خوشحاله وي که خپه؟
- خوشحاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کټ کټ یې وخندل. په غېږ کې یې ټینګ کړم. تندی یې راښکل کړ. ویې ویل: آفرین! د تا د جهاد په برکت به دواړه جنت ته زو. ته به زما شفاعت کیې. سه به کیې؟ زما شفاااعت به کیې. شفاعت به مې کیې که نه یې کیې؟

شرم را ته ودرېد. ومې ویل: مولانا صاحب دا څه وایې. ته خو زما استاد یې. شفاعت خو به ته را ته کوې.

ویې ویل: نه، نه، نه! داسې نه ده. د مجاهد مرتبه د هر ملا او مولوي نه زیاته ده. سه پوی شوې.

په ښکلې غاړه یې ترنم کې وویل:

هلته په جنت کې بس جانان به وي مزې به وي

خکلې پېغلې حورې او غلمان به وي مزې به وي

شابه! اوس نو د خوشحالۍ وخت دی. موټر دې واله، سیده جلال آباد ته ولاړ شه یو سو ورزې آرام وکه. هه، دام درواله.

د زرګونو یو بنډل یې را ته ونیو.

موټر مې را وایست. بې اختیاره مې له خولې نه درګرده دغه زمزمه راوتله:

هلته په جنت کې بس جانان به وي مزې به وي

ښکلې پېغلې حورې او غلمان به وي مزې به وي

ښاپېرۍ را یاده شوه. ټېلیفون مې ورته وکړ: جلال آباد ته را سره نه ځې؟

- ولې نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- رښتيا وايې؟
- خود. ها بل تللی پېښور ته. ډاکـتر ورغوښــتی و. درې – څلور شپې به وکي.

دا او زرمينه مې په موټر کې کېنولې. د جلال آبــاد خــوا تــه روان شوم. ښځې او نجلۍ بله دا ګټه را ته کوله چې له تلاشۍ نــه بــې غمه شوم. په هر چک پاينټ کې به چې عسکرو څنګه وليدل چــې په موټر کې راسره زنانه دي، په لاس به يې اشاره وکړه چې ورځه. په لاره کې بېروبار نه و. سړک نو نوی لــه سره پــوخ شــوی و، د ښيښې غوندې هوار.

تېر ځل چې د طالبانو په وخت کــې لــه مولانــا صــاحب سره لــه پېښوره راغلم، داسې بد حال و، سړک ټوک ټــوک و. لــه تورخمــه سهار اوه بجې روان شوو، ايله ماښام کابل تــه ورســېدو. د لارې ټکانونو داسې ځب ځب کړی وم چې ټوله شپه مــې څــټ او مــلا خوږېدل. خو اوس نه دوړې ګردونه وو، نه جمپ و جول.

په مزه مزه مو د ماهيپر په غرونو او ټونلونو کې مزل کاوه. کله د سيند په يوې خوا کله په بله خوا، کله د غرونو په سر کلــه د درې په بېخ کې روان وو. د موټر ښيښې مې ټيټې کړې وې، د سيند له څنګه چې تېرېدو، يخه هوا يې را باندې لګېده.

سروبي ته ورسېدو. د سيند په غاړه د دنګو نښترو او ناجو ونو په څنګ کې ښه رستورانونه جــوړ شــوي وو. پــاک ســوتره، د لاس مينځلو لپاره سراميک دستشوی او ورسره د لاس مينځلــو مــايع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوا په دې لاره کې یو څو سپېره خیرن رستورانونه وو چې پر توشکې به یې کېناستې، ګرد به ترې لټېده. د لاس مینځلو لپاره به یې اوسپنیز وړوکی اودان لګولی و چې څو نلونه ترې راوتلي وو او که صابون به ورسره و هم، د کالي مینځلو خیرن صابون به و چې په سر یې د خیري، ګرېس او موبلایلو تورې لیکې ولاړې وې.

پخوا به تشنابونه نه وو او خلک به د اودس ماتي لپاره د غره ډډې ته کېناستل یا به د سیند په غاړه کندو ته کوزېدل خو اوس عصري تشنابونه د نارینه‌وو لپاره جلا او د ښځو لپاره جلا جوړ شوي وو چې کموډونه یې په کې لګولي وو.

یوه رستوران ته ورغلو. شاګرد یې په ښي لاس کې پرده پورته کړه. د فامیلونو لپاره بېل شوي ځای ته ور ننوتو.

ښاپېرۍ او زرمینه پر تخت کېناستې.

زه بېرته را ووتم.

یوه زلمکي اوږد پیپ په لاس کې نیولی و، پر یوه موټر یې چې د صابون ځګونو پوښلی و، اوبه شیندلې.

ورته کړه مې: ځوانه! چې بیا د ما موټرم ومینځې.

ویې ویل: په سترګو حاجي. بې غمه شه.

هلته مو ماهیان وخوړل.

د ډوډۍ په وخت کې مې زرمینې ته پام شو. غټوکۍ شوې وه. په سترګو ښه لګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې سر کښته و.

سترګې مې يې په ټټر پورې ښخې وې.

د ښاپېرۍ را ته پام شو. ويې سکونډلم. په ټيټ غږ يې وويل: خير خو به وي؟

په غوږ کې مې ورته وويل: بيخي تا ته شوې ده. تا غونډې ښکلې ده.

برند يې را ته وکتل، هماغسې په ټيټ غږ خو په غوسه يـې را تـه کړه: پام کوه! سترګې دې در خپلې کړه. پوی شوې که نه؟

په خندا مې وويل: ما خو څه نه دي کړي. سترګې درياب دي.

په جلال آباد کې مې د دوو کوټو يو کور پيدا کړ. کرايه يې په شپه کې دوه زره. تشناب، دهلېز او پخلنځی هم ورسره. د کور په انګړ کې د خرما دنګې ونې، ښايسته چمن او رات کې راني ګلونه.

په اول مازديګر مې د کامې چکر ورکړ. د پسرلي اولې ورځې وې. وطن شين او هوا مزېداره وه. د بهسود پل نوی کـانکريټي جـوړ شوی و. د پله قبلې خوا ته د سيند په غاړه رسټورانونه کتار وو.

ښاپېرۍ په پزه لويه ساه واخيسته. ويې ويل: اخخخخخخـخ! دا د کبابو بوی څومره ښه لګي.

ومې ويل: غم يې مه کوه. ماښام به يې دربانديې وخورم. اوس به د کامې چکر ووهو.

لس دقيقې وروسته مې د کامې له پله سره موټر ودراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کونړ سیند ډک بهېده. د اوبو شرهار یې له لرې اورېدل کېده. وربښکته شوو. څپلۍ او بوټونه مو وایستل.

ښاپېرۍ اوبو ته ور ودانګل.

ژر مې له مټه راونیوه. ومې ویل: پام! اوبه تېزې دي.

زرمینه د سیند په غاړه پر ډبره کېناسته. پښې یې په اوبو کې څوړندې کړې.

یو ناڅاپه مې پر مخ د اوبو شړک شو. مخ مې واړاوه. ښاپېرۍ په دواړو لاسونو اوبه راباندې شیندلې او کټ کټ یې خندل.

سر مې ټیټ کړ. لاسونه مې مخې ته ونیول. اوبو ته وربښکته شوم. په یوه ساه مې څو لپې اوبه پرې وشیندلې. څادر یې له سره وغورځېد. ویښتان، مخ او ټټر یې خیشته شول. چغه یې کړه: بس، بس! توبه مې ده.

زړه مې و چې ښه یې چاره ور وکړم خو پام مې شو چې پر پله موټرې تېرېږي او ټولې سپرلۍ موږ ته راګوري.

ښاپېرۍ مې تر لاسه ونیوله. له سینده راووتو.

ګرېوان یې سم دم لوند شوی و.

د نریو پنجابي جامو له لاندې یې بدن جوت ښکارېده. خپل څادر مې پرې وګرځاوه.

د سیند په غاړه ګرځېدو. پستو شګو مې د پښو تلې نازول. د سیند له پاسه نرۍ شمال تېرېده او پر لانده مخ مې خوږ خوږ لګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر ته ور وختو. د کامې خوا ته وخوځېدو. نـرى پـوخ سـړک، دواړو غاړو ته يې کروندې او خال خال کورونه. د ځينو پټيو پـر پولو د چنار او کليپټوس ونې ولاړې. په ځينو پټيو کې غـنم يـوه لوېشت جګ ولاړ وو، په ځينو کې ترکارۍ.

يو پنځلس دقيقې مزل به مو کړى و چې د شيريخ دوکـانونو تـه ورسـېدو. د سـړک دواړو غـاړو تـه دوکانونـه وو. شـيريخ مــې وربانديې وخوړ.

د تازه شيدو شيريخ او ورسره وطني پېروى. عجب خوند يې وکړ. لا مو شيريخ نه وو خلاص شوي چې د دوکان شاګرد لويه کاسـه او يوه کاشوغه په لاس کې راغى. ويې ويل: پېروى درته واچوم؟

ومې ويل: نو ورته ګورې. هههه.

چې بېرته تله، يو سلګون مې په لاس کې ورکړ.

بېرته راوګرځېدو. لمر په ډوبېدو و. د بهسودو له پله سره ښي لاس ته تاو شوم. موټر مې د يوه رسټوران مخې ته ودراوه. ښاپېرۍ ته مې وويل: تاسې په موټر کې کېنۍ، زه به هوټلونه وګورم.

يو يو هوټل مې تر سترګو تېراوه. په يو ځاى کې مې وليـدل چــې يو رقم واړه مرغان په سيخونو کې کبابېږي. پوښتنه مې وکړه چې دا څه دي؟

ويې ويل: شى دى شى. مړزان دي.

دخل ته ناست هډور سړي وويل: ځوانه! واده لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سره مې فکر وکړ چې که رښتیا ورته ووایم نو بیا چې ښاپېرۍ او زرمینه وګوري، شک به کوي چې دا ښځه او نجلۍ نو څوک دي.

ومې ویل: واده، هو. واده مې کړی.

ویې ویل: نو راشه چې مرز دربانديې وخورم چې د کوروالایي په خوند پوه شې. قسم دی چې تر سهاره به درنه ویده نه شي. هاهاهاها.

شاګرد یې وویل: پهلوان رښتیا وایي. ده چې د مرزو خوراک شروع کړی، دوې نورې ښځې یې کړې دي. څنګه پهلوانه؟

پر دخل ناست سړي پرې برېچ وهل: ځغله خرکوسه!

په زړه کې مې وویل چې ښه شی په لاس درغلی دی.

ښاپېرۍ او زرمینه مې راسره کړې. د رستوران شا ته د فامیلونو لپاره کوټې وې. ورغلو. د کوټې کړکۍ د سیند خوا ته وه. خوندوره هوا په کې چلېدله. د مرزانو کباب، په سیخانو کباب شوي ماهیان او د پسه د غوښې کړایي مې راوغوښتل.

ډوډۍ مو وخوړه خو ډېر څه را نه اضافه پاتې شول.

د کوټې له څنګه سیند ته کانکرېټي زینې ورکښته شوې وې. یوه ګړۍ د سیند پر غاړه کېناستو.

د سیند اوبه د سپوږمۍ رڼا ته لکه سپین زر ځلېدې. دا ځلا د اوبو له وړو څپو سره داسې کښته پورته خوځېدله لکه پېغله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویده وي او د کمیس په غاړه یې ګنډل شوې اشرپـۍ د سـاه لـه اخیستلو او ایستلو سره کښته پورته شي او رڼا ته وپړقېږي.

د اوبو شرهار لکه ساز او د ښاپېرۍ خوږې خبرې لکـه سـندرې. ګومان مې کاوه چې سر مې سپک دی. لکه دا مې چې د ژوند اوله شپه وي. لکه په ژوند کې مې چې هېڅکله غم او خپګـان نـه وي لیدلي. هر څه مې هېر کـړي وو. یـوازې پـه همـدې شـېبو کـې اوسېدم. په شېبو کې ډوب وم. له هرې شـېبې څخـه مـې خونـد اخیسته.

زرمینې وویل: مورې! خوب راځي. کور ته نه ځو؟

زړه مې غوښتل چې ټوله شپه هماغلته د سیند او ښاپېرۍ په څنګ کې تېره کړم خو ښاپېرۍ وویل: ځه چې ځو. نجلۍ ستړې ده. راولټېدو. په ښار کې د موټرو بېروبار کم شوی و.

کور ته ډېر زر ورسېدو.

ټول انګړ د رات کي راني د ګلونو په خوشبویو ډک و. چـې هـرې خوا ته به تلې، داسې ښه وږم په کې خپور و چې ته وا چا په ټوله هوا کې خوشبویه سپرې شیندلې ده. کوټې هم هماغه مستوونکي وږم په سر اخیستې وې.

زرمینه ویده شوه.

زه او ښاپېرۍ بلې کوټې ته ولاړو.

ښاپېرۍ خپل دسکول ته ټیټه شوه، ویې ویل: زړه مې! زه به مـې غاښونه برس کم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ويل: ما نه خو برسم هېر شوی. خیر دی پــه گوتــه بــه یــې ومينځم.

پر تخت کېناسته. دسکول یې پر ورونو کېښود. یو نوی برس یــې ترې را وایست. په هوا کې یې وښوراوه. ویې ویل: خو ما نه یــې هېر کړی. زنده باد خودم!

ومې ویل: زنده بااااااد!

د غاښ مینځلو په وخت چې دستشوی ته ټیټ شوم، په مــلا مــې نری درد تېر شو. د چپ لاس په څټ مې لږه وسولوله. یو تود لاس وربانديې ولگېد. ښاپیرۍ وویل: خوږېږي؟

- ټوله ورځ د موټر جلو ته ناست یم نو کله کله لږ درد وکي.

تر لاس یې ونیولم: زه به یې چاره وکم.

هماغسې لاس نیولی یې کوټې ته بوتلم. پر تخت یې کېنولم.

په موسکه خوله یې وویل: آفرررررین! همدلته کېنننه.

لکه مور چې د وړوکي ماشوم کالي اوبــاسي، اول یــې د گرېــوان تڼۍ راخلاصې کړې، بیا یې د لستوڼو. را باندې ټیټه شوه. زما لــه شا نه یې لاسونه تېر کړل. د شا لمن یې را ونیوله، را کش یې کــړه. لږ پورته شوم چې لمن مې خوشې شي. ټټر یې پر مخ راولگېد. دې نوره هم ځان راجوخته کړه. ما یې له ورنونو لاسونه تاو کړل.

دا بېرته را نېغه شوه. مړوند یې را ونیو، گوته یې را تــه وځنډلــه: نه، نه، نه! بې ادبي به نه کیې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کټ کټ په خندا شوه. بیا یې زما د ښي لستوڼي له خولې نه ونیو. لاس مې پورته کړ. دې مې لستوڼی وایست. بیا بل لستوڼي او ټول کمیس او بنین را نه وایست. پړ مخې یې پرې ایستلم. پر مـلا یــې لاس راتېر کړ. څه ښه تود را ولګېد.

ویې ویل: همدا ځای دې خوږېږي.

- همم.
- یوه شېبه.

له دسکول نه یې د زیتون غوړي را واخیستل. څو څاڅکي یې زما پر څټ وڅڅول. بیا یې سولول شروع کړل. د مـلا د تیـر د دواړو خواوو غوښې مې داسې شخې وې چې د هغې تر لاس لاندې بــه دې خوا ها خوا ښوییدې لکه کچالان چې ښه نه وي پاخه شوي او چې غواړې ګوله ترې جوړه کړې، په کاسه کې ښوییږي او نیــوی نه درکوي. سوکه سوکه یې په ســولولو د څــټ غوښــې داســې را نرمې کړې چې درد مرد یې ورک شو. بیا یې ولي او تخرګونــه، د ولیو سرونه او مټې یې راکېکاږلې. ټوله ستړیا یې را نه وایسته.

ومې ویل: ګلې! خیر یوسې څنګه ښه چاپې دې کړم. چــې دا دې چېرته زده کړې؟

- وی رښتیا، تا ته خو مې نه دي ویلي. زه خــو پــه مســاج سنټر کې شاګرده وم. خارجیان به مې مساجول.

دا خبره یې را باندې بده ولګېده خو څه مې ونه ویل.

- څنګه غلی شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هسې.

پــه کټ کټ خندا یې وویل: ټوکې کوم. شل کاله کېږي چې هــر وخت حاجي ځان راباندې چاپي کوي نــو خــود بــه مــې زده کېږي. هله نو اوس کېنه چې سر دې درته غوړ کم.

دا مې شا ته پر ګونډو کېناسته. لږ غــوړي یــې پــر سر بانــدې را وڅڅول. د ګوتو په سرونو یې د ویښتانو بېخ را تــه مســاژ کــړ. ټېکونه، تندی، مغــزۍ او د کــوپړۍ ټــول پوســتکی او د غوږنــو پوڅکۍ یې راچاپي کړل. بیا یې پرې ایستلم. وروځې، سترغلي او غومبري یې را وسولول. د بړیرې او برېتونــو بېخونــه یــې را تــه مساج کړل او بیا یې په غېږ کې ونیولم.

د پهلوان خبره رښتیا وه. بل رقم قوت را کې پیدا شوی و.

تر نیمې شپې پورې مو پر یو بل خوندونه اخیستل.

په آخر کې ښاپېرۍ وویل: دا څه یږ درنه جوړ شوی. بس دی نو، د تمامېدو شی خو نه دی. سبا او بل سبا لا دلته یو.

سبا تر نهو بجو پورې ویده وو.

چې را پاڅېدم، زرمینه مې ولیده چې د مور په موبایــل کــې ګــېم وهي.

ورته ومې ویل: ګېم دې خوښېږي؟

سر یې هماغسې موبایل ته ټیټ و، بې له دې چې راوګوري، ویــې ویل: خود.

ښاپېرۍ ته مې کړه: د ډرونټې چکر به څنګه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل: نيکي و پرسش!

اول بازار ته ولاړو. ښاپيرۍ ته مې وويل: ته راځه چې يو شی واخلو.

پوښتنه مې وکړه چې زرمينې ته د ګېم لپاره څه شی واخلو؟

ويې ويل: که پلې ستېشن ورته واخلې، ډېره به خوشحاله شي خو بيه يې زياته ده.

زرمينه د پلې ستېشن په ليدو په ټوپو شوه. ويل يې تاسې چکر ته ولاړ شئ، زه به په کور کې ګېم کوم.

خو مور يې وويل: نه. ته به هم راسره ځې. ژر به بېرته راځو.

ډرونټې ته ولاړو. هوا لږه ګرمه وه خو د ډرونټې د بند هوا چې د ونو له منځه تېرېدله، يو څه به نرمه او سړه شوه. د سړک په غاړه هوټلونه وو. يوه ته ورپورته شوو. شا ته يې انګړ و او د انګړ په بل سر کې کوټې. ماهيان مې راوغوښتل. داسې ښه يې وريت کړي وو چې په خوند يې نه مړېدم.

ښاپيرۍ هم په خوند خوند ماهيان وخوړل خو زرمينې دومره ونه خوړل.

چې څنګه کور ته ستانه شوو، زرمينې د پلې ستېشن لينونه له ټلويزيون سره ونښلول او په ګېم وهلو لګيا شوه.

زه او مور يې بلې کوټې ولاړو او بيا په خوندونو کې ډوب شوو. دا ناسته وه. پېښې يې غځولې وې. ما يې پر ورانه باندې سر لګولی و او ستونې ستغ پروت وم. دې په پستو ګوتو زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویښتانو کې لارې جوړولې. ما یې د غوږ پوڅکۍ ورو ورو سولوله.

سر یې ټيټ کړ. زلفې یې په مخ راولګېدې. د شامپو ښایسته بوی ترې لټېده. لویه ساه مې واخیسته.

ورته مې وویل: کاش دا خوندونه ابدي وای.

- چې زه او ته یو، نو خوندونه به وي.
- نه پوهېږم ولې مې په زړه کې وېره ننوتلې ده. ډارېږم چې هسې نه دا هر څه ختم شي.

سر یې را ټيټ کړ. په ناز یې ښکل کړم.

په خمارو سترګو یې را وکتل. ویې ویل: وېره دې د زړه نه وباسه. خوند واخله، بس خوند واخله.

د ښاپېرۍ لوڅ عکسونه مې واخیستل.

عکسونه یې په خوند سره وکتل، بیا یې وویل: دا به ایسته کوې.

- نه، نه. دا کار به راباندې نه کوې.
- څه پې کوې؟
- چې تا پسې خپه شم، بیا به ورته ګورم.
- زه خو دې هر وخت په خذمت کې یم، نور نو څه غواړې؟

ډېره راته ټینګه شوه چې پاک یې کړه خو ما وویل چې په پس ورډ والا فولډر کې مې اچولي دي، څوک یې نه شي لیدای.

د دویمې ورځې په مازدیګر منډیي ته لاړو. دې او زرمینې ته مې یو څو جوړې جامې واخیستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرمينې په موسکه خوله خپلو نويو جامو ته کتل. کـور تـه چـې ورسېدو، مور يې تشناب ته ولاړه.

دې له کڅوړې خپلـې جـامې راوايسـتې. د هېنـدارې مخـې تـه ودرېده. جوړه يې په غاړه کې ونيوه. يوه شېبه يې ځان ته وکتـل. بيا يې بله جوړه ور واخيسته.

ورو ورو يې خوا ته ورغلم.

پوښتنه مې وکړه: خوښه دې شوه؟

- ډېېېېره.

لاس مې يې پر ټټر کېښود، د پنجابي کاليو پر رخـت مـې لاس ور تېر کړ. ومې ويل: ډېره ښه در سره ښکاري.

څه يې ونه ويل. لاس مې په کراره ټټر ته يې ور ووړ.

لاس يې را پورې واهه.

کالي يې پر ځمکه وغورځول.

په لوړ غږ يې وويل: څه کې؟

د مور چيغه يې پورته شوه: څه خبره ده؟

ور ومې کتل. د دروازې په خوله کې ولاړه وه.

راغله. لور يې دلاسا کړه. بلې کوټې ته يې ور وسته.

څو شېبې ورسره ورکه وه. بيا راغله. تندی يې تريو و.

ويې ويل: سړيه! دا څه ليونتوب دې شروع کړی؟ شرمېـږې نـه، وړه نجلۍ ده.

ورپاڅېدم. په غبرګو لاسونو مې يې متې ونيوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان یې شا ته کړ: لاس راباندې مه وهه.

- خیر دی. ما خو څه نه دي کړي.

- نور به نو څه وکې؟ لږ وشرمېږه خو که شرم وپېژنې.

چې هر څه مې وکړل، ښځه پخلا نه شوه. په دې شپه نــو یــوازې پاتې شوم. دا له لور سره په بله کوټه کې ځملاسته.

سخت پښېمانه وم. خوب نه راته. ځان ته به مې کنځلې کړې چې ولې دې داسې وکړل.

لټ په لټ اوښتلم. پالنګ خوړلم. فکر مې کاوه چې د پاڼ پــر ژۍ پروت یم او که مې سترګې پټې شي، وبه لوېږم.

اوووف! ولې مې داسې بې باکي وکړه؟

ښاپېرۍ مې ولې خپه کړه؟

له ځان سره په جنګ وم.

چورتونو خوب ته نه پرېښودلم.

پاځېدم. د هغوی د کوټې خوا ته ولاړم. ورو مــې د وره دســتګیر تاو کړ.

ور یې قلف کړی و.

په کراره مې ور وټکاوه.

په دهلېز کې دې خوا ها خوا لږ وګرځېدم.

چا ور خلاص نه کړ.

په ټیټ آواز مې ناره کړه: ښاپېرۍ! وه ښاپېرۍ! خیــر دی، دروازه خلاصه که.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ځواب را نه کړ.

پخلنځي ته ولاړم.

له يخچاله مې يخې اوبه واخيستې.

اوبه مې وڅښلې.

بېرته ستوني ستغ پر تخت پرېوتم. سترګې مـې پټـې کـړې خـو خوب رانه تښتېدلی و. خوب هم د ښاپيرۍ غوندې را نه مـرور و. هڅه مې کوله چې پام مې بلې خوا ته شي خو هره ګړۍ به هماغه صحنه را يادېدله چې ښاپيرې ويـل: دا څـه ليونتـوب دې شروع کړی؟ شرمېږې نه، وړه نجلۍ ده.

اوووووف! دې خبرو څومره ځورولم.

خدای زده چې نيم ساعت به هماغسې پروت وم که يو ساعت خـو خوب رانغی. بېرته پاڅېدم. سر مې دروند و او سينه مـې نيـولې. لکه د غوړيو دوه منی ټيم چې مې پر ټټر پروت وي.

انګړ ته ووتم.

هوا د رات کي راني له عطره ډکه وه خو هغه پخوانی خوند په کې نه و. دې خوا ها خوا وګرځېدم. پښو مې سستي کوله. لکه د دوی زړه هم چې نه وي چې ملګرتيا راسره وکړي.

د برنډې پر ژۍ کېناستم. له دهلېـزه پـه قلـف کـې د کـونجي د تاوېدو غږ مې تر غوږ شو. ور خلاص شو.

ښاپيرۍ وه.

څو پورې چې زه پاڅېدم، دا په تشناب ننوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلم.

د تشناب وره ته نژدې ودرېدم.

څو شېبې وروسته راووته. بې له دې چې را ته وګوري، چابکــه د کوټې خوا ته روانه شوه.

له مړونده مې راونيوله.

لاس يې تاو کړ چې له منګولو مې يې خلاص کړي.

پر منګولو مې زور ور وکړ.

دې هم په زوره لاس تاو کړ. په تروه ټنډه يې را وکتل.

دې ډول کاته يې سخت وځورولم. لاس مې سست شــو. پــه يــوه جټکه يې مړوند زما له منګولو وايست. هېڅ يې ونه ويل او په دوو ګامونو يې ځان د کوټې وره ته ورساوه.

ورنژدې شوم. پر اوږه مې يې لاس کېښود.

ومې ويل: خير دی. داسې مه کوه.

اوږه يې کښته کړه. لاس مې ورو راوښويېد. له ولي سره يې ولګېد او همداسې کښته راغی.

غوږونه مې په دواړو لاسو ونيول. ومې ويل: هن! دا دی توبه مې وکړه.

خو هغه کوټې ته ننوته او ور يې په ځان پسې قلف کړ.

خدای خبر چې تر کله پورې ويښ وم خو په آخر کې خــوب وړی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار وختي دربى شو. سر مې جګ کړ. له انګړه د سفري بکس د ټیرونو د ګرځېدو ګړبهار راته.

په بېړه پاڅېدم.

ورمنډه مې کړه.

ګورم چې ښاپېرۍ د بکس لاستی په لاس د حویلۍ د دروازې خوا ته روانه او زرمینه هم ورپسې ده.

ورغږ مې کړ: خیر خو به وي؟

هماغسې چې روانه وه، ویې ویل: موږ ځو.

زورکي خندا مې وکړه. زړه مې ډاډه و چې تلی خو نه شي. په دې چې د وره کونجي زما په جېب کې وه.

دې خپله خواري وکړه خو کله چې پوهه شوه چې ور قلف دی، بېرته راوګرځېده.

ومې ویل: ګوره! بې آبي به نه جوړوې.

ویې ویل: بې آبي خو تا جوړه کړه.

ومې ویل: پربېږده چې له دې ځایه په آب و پرده ولاړ شو. پردی وطن دی. نه ما بې آبه کوه، نه ځان. بیا به په کابل کې خبرې وکو.

موټر مې چالان کړ.

حرکت مو وکړ. په لاره کې ټول غلي وو.

ومې ویل: چای په کوم ځای کې څښئ؟

چا ځواب رانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درونټې د بند له کاسې سره مې موټر ودراوه.

زرمينې ته مې وويل: وګوره، اوبه څومره ښې ښکاري، تکې شنې.

مخ يې بلې خوا ته واړاوه.

حرکت مې وکړ.

تر سروبي پورې مې په چوپه خوله مزل وکړ.

له يوه هوټل سره ودرېدم.

- چای درته همدلته راوړم که کوزېږې؟

ځواب مې وانه ورېد.

کښته شوم. د هوټلي د شاګرد په لاس مې کباب، ملايـي او چـای ورولېږل. پخپله هوټل ته ورننوتم. ډوډۍ مې راوغوښته خو ټولـه را نه پاتې شوه. ايله يو دوه ګولې به مې ورنه کړې وي.

چې موټر ته ورغلم، يوازې د ډوډۍ خامې څنډې او سوې ټوټې له څو ټوټې وازدو سره په پتنوس کې پرتې وې.

زرمينې ته مې د ژاولو پوړۍ ونيوه.

وايې خيسته.

مور ته يې کړه: تشناب ته ځم.

مور يې هغه تشناب ته بوتله. خپله د تشناب د دروازې څنګ کـې ودرېده. پسې ورغلم.

- خپه يې؟

ښاپېرۍ ځواب رانه کړ.

غوړونه مې په ګوتو ونيول: دا دی، توبه مې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مخ سیند ته واړاوه.

- مه کوه، دومره ظلم ښه نه وي.

غلې وه.

زرمینه راووته.

روان شوو.

تر کابله پورې بیا یوازې وم، چا خبرې نه کولې.

د ځلورم میکرویانو له سړکه تېز تېر شوم. د هوایي میدان سړک خوا ته روان وم.

ښاپیرۍ غږ وکړ: ودرېږه، چېرته مو وړې؟

ځواب مې ورنه کړ.

موټر مې لا ګړندی کړ.

- وه سړیه، په سد یې؟ زموږ له بلاکه راتېر شوې، ویې دروه.

اکسلېټر ته مې پښه ټینګه کړه. د سړک جمپونو ته مې هم ونه کتل. د زرمینې سر په ښیښې ولګېد. مور یې په خوا پورې ونیوله. سر یې ور وسولاوه.

- څه درباندې شوي، وه سړیه، دا څه کیې؟ لېونی یې که څه بلا؟

- درې واړه وژنم.

- مه کوه، د خدای د پاره. په کراره، هله چې لارۍ سره لګېږي. وی، خدایه! ته مو وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دواړو د ژړا غږ پورته شو.

موټر مې ورو کړ. د سړک څنډې ته شوم. د برېښک کغهـار شـو.

موټر مې ودراوه: خبرې راسره کوې که نه؟

ژړا یې سوکه شوه.

- تا ته وایم. ولې راسره نه غږېږې؟

په سلګو کې یې وویل: خدای ته وګوره، لږ راباندې رحم وکه. پـه ما خو دې مرګ تېر کړ.

- هر څه دې له خپله لاسه وو.

- بد مې کړي. نوره به داسې نه کوم.

- اوس صحیح شوه.

موټر مې روان کړ. د هوایي میدان خوا ته وګرځېدم.

- چېرته ځې؟

- د غرمې ډوډۍ به په لیسهٔ مریم کې درباندې وخورم.

دوی لا ډوډۍ خوړله چې زه د باندې ووتم. هوټـل تـه مخـامخ د زرګرانو دوکانونه وو.

ښاپېرۍ ته مې د سرو زرو ګوته واخیسته، لور تـه یـې وړوکـې غاړه‌کۍ.

چې بېرته میکرویانو خوا ته تلو، دواړه خوشحالې وې.

زرمینې غاړه‌کۍ په غاړه کې اچولې وه. یو وار یې زنځیر ته کتـل، یو وار یې د پتنګ په بڼه جوړ شـوي زر تـه. خولـه یـې موسـکه موسکه کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور يې وويل: گوره! چې پلار دې يې درنه ونه ويني، ښه.

کور ته يې ورسره لاړم.

زرمينې ته خوب ورغی.

چای مې له ښاپېرۍ سره پر پالنگ وڅښه.

ساعت وروسته لامبېدلی راووتم.

موټر مې هم مينځلو ته ودراوه.

د مولانا صاحب زنگ راغی: بچيه، چېرته يې؟

راياد مې شو چې ما ته يې د يوې هفتې ويلي وو. ومې ويل: جلال آباد کې يم.

- دا شور د سه شي دې؟
- د بهسودو له پله سره يم. د موټرو آوازونه دي.
- شابه چې رانه شې.
- بې غمه اوسه، مولانا صاحب.

موټر مې په يوه سرای کې ودراوه. پخپله د تره کره لاړم. لــه لارې مې يو څه چای، بوره، گوړه، غوړي او وريجې راسره واخيستې.

ډېره موده وروسته ورتلم. د طالبانو په حکومت کې چــې يــو وار تللی وم، بيا خدای زده چې مولانا صاحب څنگه خبر شوی و. مــا ته يې کړه چې څوک به په ځان نه خبروې چې دلته يې. تــره تــه دې ووايه چې بېرته لاهور ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا صاحب راسره منلي وو چې په وخت به د خوړو مرسته ورسره کوي. چندان تره خو مې ولله که و خو زړه مې يې په ښځې او بچيو سوځېده.

دا وار چې ورغلم، قدر مې لا زيات شوی و. همدا چې تيندار مې خبره شوه، د حويلۍ وره ته يې رامنډه کړه. پر مخ يې ښکل کړم. لوښو زامنو ته يې وويل: هلئ، د لالا له لاسه مو کڅوړې واخلئ چې ستړی به وي.

دا مخته روانه شوه. د کوټې په بر سر کې يې پر يوې نيالۍ بالښت ورسم کړ. گردونه يې په لاس سره وڅنډل.

کور يې يو څه بدل شوی و. دېوالونه، کړکۍ او دړې يې رنگ شوي وو. چت ته يې چينايي مسطح ورکړې وه. کړکيو ته ښيښې اچول شوې وې.

يوازې د دوی کور نه و بدل، په کوڅه کې چې تېرېدم هر څه بدل وو. د کوڅې غولی کانکرېټ شوی و او تر پخوا را ته لوړ ښکاره شو. د کوڅې د سر دوکان نوی شوی و. هغه زړه لرگينه دروازه او د خامو خښتو دېوالونه يې نه وو، پر ځای يې سم کانکرېټي دوه منزله تعمير و. لاندې لوی دوکان چې الماری او ويټرينونه يې ښه ډک ښکارېدل. په څنگ کې يې درملتون و او پاس په دوهم منزل کې يې د ډاکټرانو معاينه خانې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوڅې اکثره کورونه دوه او درې منزله شــوي وو او د پخوانــو ورو دروازو پر ځای لويې لويې اوسپنيزې دروازې چې موټر پــه کې تېرېدای شي، لګول شوې وې.

په کوڅه کې ځو ماشومان مخې ته راغلل. پاکې نوې جــامې يــې وې. غوږ غوږ مخونه يې وو او هر څوک چې به مې ليدل، مســت او خوشحاله به راته ښکارېدل.

د اکا اولادونه هم غټ شوي او هم مزي شوي وو.

تينداري مې چای راوړ.

په لور باندې يې غږ وکړ: وه نجلۍ! دا ميرات مړی لږ ټيټ که چې سړی خبرې واوري.

لور يې په ريموټ د ټلويزيون غږ راټيټ کړ.

تينداري مې دعا راته وکړه. ويې ويل: خدای دې ارمانونه پوره که زويه! هغه د طالبانو په پاچهي کې چې راغلی وې نو زموږ حــال خو دې ليدلی و. بيا ته چې پسې ولاړې، د مولانا صيب کســانو د ډوډۍ دوه کارتونه راته راوړل. دلته موسسو نانواييانو ته اوړه او پيسې ورکولې چې ډوډۍ پخې کي. موږ ته يې دانه په زر روپــۍ راکوله، ښې غټې ډوډۍ به وې.

تينداري ښی لاس په هوا کې او چپ لاس يې له ښي مټ سره ونيو، ويې ويل: دومره دومره ډوډۍ به وې. په هر کارت بــه يــې شــپږ شپږ ډوډۍ راکولې. زموږ خو نو شپږ ډوډۍ بس وې، شپږ نورې به مو په پنځه پنځه زره خرڅولې. په هغو پيسو به مــو چــای او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوړه او نور شیان اخیستل. مولانا صیب به کله کله څه غـوړي او وریجې او لوبیا هم رالیږل. خدای دې ورسره ښه وکي.

ومې ویل: آمین! استاد مې ډېر ښه مسلمان دی.

ساعت ته مې وکتل، لمانځه ته لږ وخت پاتې و. اودس مې باید تازه کړی وای.

تشناب ته ورغلم. عصري تشناب یې نوی جوړ کـړی و. غـولي او دېوالونو ته یې کاشي ورکړې وې. کمـوډ او دستشـوی پـه کـې لګېدلي وو. په نل کې اوبه راتلې. د دست شوی په هېنداره کې مې ځان ته وکتل. ځان هم را ته غوړ غوندې ښکاره شو. تازه وم.

کوڅه مې په ذهن کې تېره کړه، د هغو پخوانیـو کنـارابونو هـېڅ درک نه و. په یوه کور کې مې هم هغسې کناراب ونه لید. د خلکو ژوند ښه شوی غوندې و.

تره مې په کور کې نه و. ښځې یې وویـل چـې د شـپې پـه یـوه موسسه کې چوکیداري کوي، د ورځې بیـا دوکـان کـې کینـې. د کوڅې په بل سر کې یې د پرچون دوکان کړی و.

څه کم اته بجې وې چې ډوډۍ تیاره شـوه. ښـې وریجـې یـې د چرګ له زېمنې سره پخې وې.

د تینداري راپام شو چې د چرګ په غوښه مې څکه نـه ده کـړې. ویې ویل: زویه، ونیسه کنه دا غوښه ورسره خوره.

- دا به نو حلاله وي؟
- ولې به نه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته څه خبره یې چې په اسلامي طریقه ذبح شوي دي که نه؟ دا چرګان خو د خارج نه راځي. په ماشین یې سرونه غوڅېږي. نه څوک پرې الله اکبر وایي، نه بسم الله.

اکاناوې په خندا وویل: خدای مې دې نه ګناګاروي، زه خو چې هر شی پخوم، په بسم الله یې پخوم. نو که هلته چا خدای نه وي یاد کړی، زه خو یې یادوم.

ومې ویل: په دې خبرو نه کېږي. د مال د حلالولو شرط دی چې الله اکبر به پرې وایې.

هماغه لورکۍ یې چې مخکې ټلویزیون ته ناسته وه، وویل: د قصابۍ په غوښې نو څه ایتبار. سړی څه پوهېږي چې چا وربانديې الله اکبر ویلي دي که نه؟

- خود به یې ویلي وي. قصاب خو څه کافر نه دی.
- نه، هسې وایم که یې د یاده وتلي وي نو سړی څه پوه شي.

په زړه کې مې وګرځېدل چې ته یې قد ته وګوره او خبرو ته یې وګوره. مکتبۍ ده کنه.

ومې ویل: اودس په شک نه ماتېږي. دا چرګان خو معلومداره دي چې د کافرانو د ملکونو نه راځي.

- نو د دې په کارټن یې هم حلال لیکلي دي. ولې به شک وربانديې کوو.

تینداري خپلې لور ته سترګې برګې کړې، هغه غلې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تینداري وویل: کاشکې پوهېدلای، تا تـه بـه مـې ژونـدی چـرگ اخیستی وای. کلونه پس د موږ کره راغلی یې.

ومې‌ویل: پروا نه کوي.

زه خو هسې هم موړ وم خو هغې گومان کاوه چې خپه شوی یم.

د شپې مې عجیبه خوب لیده. له مولانا صېب سره موټر کې ناست یم. زه جلو ته ناست یم، دی مې څنگ ته. کم‌سـوری پـوخ سـړک دی. داسې را ته ښکاري لکه د قرغې له بند نه چې د پغمان خوا ته ځې. دغسې روان وو چې ناڅاپه مولانا صاحب راباندې غږ وکـړ: پام کوه، پام! دا نو سه بلا ده؟

گورم چې پر سړک د چینجي غوندې یو شی اوږد غځېدلی پـروت دی. له رنگه شین خو په سته غټ. ته وا د ملخ نیکه دی.

زړه مې و چې موټر پرې وخېژوم خو کتل مې چې شـــی ورو ورو غټېږي، غټېږي. اول د کېشپ قدره وي، بیا د تمساح په اندازه شي. دغسې لا پسې غټېږي او لوړېږي. ډایناسور ورنه جوړېږي. یو دم خوله خلاصوي. نژدې وي چې موږ له موټر سره له سـتوني تېـر کړي.

ژر مې موټر ریورس کړ. د بلا خوله دومره لویه وه لکه د مـاهیپر د ټونل خوله.

خو ښه وه چې بلا ډېره درنه وه. ژر ژر خوځېدای نه شوه.

د موټر مخه مې وگرځوله. اکسلېټر ته مې لته ورکړه. چې ښه لرې شوو، موټر مې سوکه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له يو چا مې پوښتنه وکړه چې هاخوا ته بله لاره نشته.

ويې‌ويل: ولې‌نه، دغسې لنډ راتاو شه، ښي لاس ته د کورونـو پـه منځ کې لاره ده.

سبا مې تر مازديگره پورې چورت واهه چې د دې خوب تعبير بـه څه وي خو ذهن ته مې څه نه راتلل.

له تره سره په دوکان کې ناست وم. سرمايه يې ډېره زياته نـه وه خو گوزاره يې پرې جوړه وه. مازديگر يې دوکان بند کړ. د دخـل پيسې يې وشمارلې، پنځه دانې يوازې زرگونونه په کې وو.

د کارته نو تر سړکه ورسره لاړم.

ده يو ژوندی چرگ واخيست. په دوکاندار يې حلال کړ. چرگ يـې زوی ته ورکړ چې کور ته يې يوسي. پخپله نوکرۍ ته ولاړ.

څلور شپې ورځې مې د ده په کور کې تېرې کړې.

د مولانا صېب زنگ راغی چې راځه نو.

تينداري ته مې پنځه‌زره افغانۍ ورکړې چې ماشومانو ته جـامې وکړي.

د تگ په وخت کې مې ورته وويل: دا نجونې دې مکتب نه وباسه، بې لارې کېږي. دلته لنډ، کور ته نـږدې مدرسـه لـرئ. ولـې يـې مدرسې ته نه‌لېږئ.

هېڅ يې ونه‌ويل.

چې روان شوم، غږ يې راباندې وکړ: زويه، کله کلـه راځـه. خپـل کور دې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ته مې ویلي وو چې بېرته لاهور ته ځم چې سبقان مې پاتې دي.

د هوتخېلو په جومات کې مې مولانا صېب ولید. له لرې یې راته وخندل او غېږه یې خلاصه کړه.

نوې سپینې جامې یې راکړې: واله بچیه. کاټن والا دې. دا مې خاص تا له د سعودي نه راغوختې. د کابل د گرمیو چاره به درله وکي.

دوه ښایستوکي ځوانان ورسره ناست وو. ویې ویل: دې ملا صېبانو له مو اوس اوس پگړۍ تړلې. مېرانشاه کې یې مدرسه ختمه کړې.

نرۍ ږیرې، سپین مخونه. ما ته د بل ځای ښکاره شول.

همداسې و. نجم الدین د تخار و، ضیأالحق د بدخشان. فارسي خو یې هسې هم خپله ژبه وه خو پښتو او اردو یې هم ډېره ښه زده وه. داسې وزیرواله پښتو یې ویله چې ان زه پرې سم نه پوهېدم.

د شپې مو تر ناوخته مجلس کاوه. ښه مجلسي هلکان وو.

سهار بیا مولانا صاحب راته وویل چې دوی په کابل کې بلد نه دي او ته به یې په ښار کې درسره گرځوې.

چېرې چې اوسې، هلته هر څه درته عادي ښکاري خو که څوک له بل ځایه ورته راشي نو داسې څه په کې ویني او داسې خبرې درته کړي چې بیا به له ځان سره وایې: «امممم. دا خو رښتیا وایي نو ما ولې په دې سترگه نه وو ورته کتلي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځو کاله مې په کابل کې وخت تېر کړی و او له هر څه سره یې عادت شوی وم خو نجم الدین او ضیأالحق داسې نه وو.

د غازي سټډیم خوا ته روان وو. د فوټبال له سټډیم سره، لــه یــوه بس څخه په ورزشي جامو کې یوه ډلــه پېغلــې نجــونې راکښــته شوې.

نجم الدین وویل: ای بر پدر مو لعنت شه په دې کفري کارونو!

ضیأالحق وویل: لا حول ولله! ته یې تیونو ته وګوره چې بوټ بوټ راوتلي دي.

نجم الدین ورغبرګه کړه: عمداً یې هلکانو ته ښيي چې شهوت یــې وپاربېږي. ورته ګوره! تنګ تنګ پتلونونه یې وګوره چــې کونــاټي یې ترې وتلي دي.

ما په ټلویزیون کې او دې خوا ها خوا ورزشکارې نجونې ډېــرې لیدلې وې خو دا اول ځل و چې دې شي ته مې ورپــام شــو. دوی رښتیا ویل.

تر غرمې پورې مې نیم کابل ورباندې وکوت. دوی به په هر ځای کې داسې بدعتونه او داسې ناروواې لیدلې چې ما هر وخت لیدل خو په دې سترګه نه.

غرمه مې جومات ته ورسول.

جماعت نه وروسته، مولانا صاحب راته وویل: ګاډی دې همدقلتــه ودروه. هن دا چابي واله، هغه ټرک وینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس یې د سړک پورې غاړه کې ولاړې لارۍ تــه اشــاره وکــړه: ټرک چالان که، میکرویانو له یې بوزه. د مسلخ په خــوا کــې چــې هغه ناتمام بېلډینګ دې، هماقلته یې ننه باسه.

په لارۍ کې سمېنټ بار وو.

پوښتنه مې‌وکړه: مولانا صاحب! دې سره څه کوئ؟

ویې‌ویل: هلته چې ورسېدې بیا به پوی شــې. هلــه نــو ورزه لــه خیره؟

موټر مې روان کړ. له درانه تګ نه یې معلومېدل چې ډېــر درانــه شیان پرې بار دي.

د بېلډینګ شاوخوا ته په شین ټوکر پوښلې جــالۍ ګرځېــدلې وه. چوکیدار زما انتظار کاوه. چې څنګه ور ورسېدم، د بېلډینګ مخې ته ولاړ و او د موټر په لیدو یې ژر دروازه بېرته کړه.

وررننوتم.

چوکېدار په بېړه ور بند کړ. کړکۍ ته رانــږدې شــو. ویې‌ویــل: د موټر مخه وګرځوه. لیورس راشه.

د موټر شا مې د بېلډنګ پوړیو ته برابره کړه.

پنځه – شپږ تنه ځوانان له بل چته راکښته شول. د موټر لــه شــا څخه یې د سمیټو بوجۍ لاندې وغورځولې. د سمېنټو بوجې یــې سر په سر سره کېښودې او پوړۍ یې ځنې جوړه کړه. چې ګــورم د موټر په دواړو خواوو کې د سمېنټو د بوجیــو دوه دوه قطــاره لکه دېوال ولاړ دی او تر منځ یې ځای خالي دی. د بوجیو پر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې لرګي او دړې اچولې وې او د دړو د پاسه سمېنټ خــو لانــدې ټوله وسلې. پي کا، راکټ، د مرميو صندوقونه، لاسي بمونه ...

دوی د وسلو او مرميو په خېژولو بوخت شول. چوکېدار راته کړه: ستا کار تمام دی. ورځه له خيره.

لاړم. د هوتخېلو په يوه هوټل کې ډوډۍ ته کېناســتم. ډوډۍ مــې تمامه کړه، چای مې څښل چې د ميکروڼيانو له خوا د ډزو غږونــه راغلل.

د باندې ووتم. ډزې د ميکروڼيانو د پله له خوا کېدې.

دوې امريکايي هيلي کوپټرې د ميدان له خوا راغلې.

بېرته هوټل ته ورننوتم. د هوټل په ټلويزيون کې خبر راغی چــې وسلهوال کسان يوه ناتمام بېلډينګ ته ننوتي، د امريکا پر سفارت او د ايساف پر قوماندانۍ ډزې کوي.

د مولانا صېب زنګ راغی: بچو سه شوې؟

ورغلم. بيا يې پر شا وټپولوم: اوس به د غازيانو کاروايي ګــورې.

ســه بــه ګــورې؟ د غازيــانو کــارروايييييي. شــل – پنځهويشــت امريکنان يې مردار کړي دي.

ومې ويل: د زړه نه؟

- خود. راشه چې درله خکاره يې کم.

کوټې ته ننوتو. کمپيوټر يې چالان و. له يوه لوړ ځايه لانــدې ځايونه ښکارېدل. د ډزو پر له پسې غږونه وو.

د الله اکبر، الله اکبر نارې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته لرې يو ښايسته بېلډينګ ښکارېده.

په غولي کې يې څو کسان پراته وو. تصوير رانږدې شو. دوه سرتورې ښځې په پتلونونو کې پړمخې پرتې وې.

څو امريکايي عسکرو مخامخ ډزې وکړې، ته وا چې د کمپيوټر له شا څخه موږ ولي. دوه نور يې په منډو د پرتو ښــځو خــوا ته ورغلل. په همــدې وخــت کــې دوی هــم دواړه ولګېــدل او ولوېدل.

مولانا صېب چيغه کړه: الله اکبر. دوه نور يــېم ور لــه مــردار کړل.

پوښتنه مې‌وکړه: دا کوم ځای دی؟

په موسکه خوله يــې وويــل: خــو همــدا دې کنــه، د امريکــې سفارت.

ومې‌ويل: دا څنګه ستا په کمپيوټر کې ښکاري؟

ويې‌خندل: هههههههه، بچو! هلته مو کېمره لګولې ده. هر سه په انټرنټ کې به راه راست راځيي. دغه دې خوا ته بېلډينګونه وينې؟ دا د ايساف‌والا دي. اوس به وګورې چې ســنګه ورنــه درز باسي.

په کمپيوټر کې کله د سفارت تصويرونه راتلل، کله د ايســاف، کله د ميکرويانو د سړک او بلاکونو. له هــرې خــوا ډز و ډوز روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپېرۍ مې رایاده شوه. د هغې کور هم په میکرویان کې و. خدای دې خیر کړي. زړه کې مې سل خبرې تېرېدې. هسې نه چې خدای مه کړه د هغې کور ولګېږي. خدای دې نه کوي.

مولانا وویل: بچو، سه سوچ کیې؟

ومې‌ویل: هېڅ. لږ ستړی غوندې یم.

ویې‌ویل: ورزه نو ته دې دمه جوړه که.

په دې څلورو ورځو کې مې دوه درې ځله ښاپېرۍ سره په تیلفون خبرې کړې وې خو تر دې مې زرمینه ډېره یادېدله.

خدای زده چې ولې مې یو ناڅاپه ورپام شو.

دا د مور غوندې جادوګره وه. سحرګرې سترګې یې وې، اثرناکې. زړه یې رانه وړی و. حیران وم چې څنګه یې راخپله کړم.

یوه ورځ مې ښاپېرۍ ته وویل: زرمینه به رضا کوې ګنې هغه لوڅ عکسونه به دې مېړه ته وښییم.

څو شېبې لکه بوت غلې پاتې شوه. ان یې سترګې هم نه ځمبلې. دغسې مخامخ یې راته سترګې نیولې وې. بیا یې په آرامۍ سره وویل: نه. دومره ناځوانه به نه یې.

- قسم دی چې ورښکاره به یې کم. دوکان یې را معلوم دی. تر لاسه یې ونیولم. ویې ویل: راځه ناځوانه! زه به جوړه درسره لاړه شم. ناځوانه!

حاجي مې ولید چې له جوماته راووت. د ښاپېرۍ مېړه یادوم.

ما هلته څه کول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د کور خوا ته روان و. زه هم ورسره روان وم. لمر څرک وهلی و.

د لمر تتې سپينچکې رڼا ته د بلاکونو په دهليزونو کې د بلو څراغونو رڼا لا ډېره تته او ژېړبخونه ښکارېده، لکه د ملامت او شرمېدلي سړي مخ.

حاجي ورو ورو روان و او له هر ګام سره يې امسا پر مځکه لګوله. تر شونډو لاندې يې تسبېح ويله «استغفر الله، استغفر الله، استغفر الله». يا به يې په زړه کې ويله خو ما اورېدله.

- حاجي په خير راغلې.

حاجي له غږه وپېژانده چې د مخامخ کور ګاونډی يې دی.

بې له دې چې ورته وګوري، ويې ويل: خدای دې وبخښه.

ګاونډي غاړه تازه کړه، ويې ويل: حاجي ګله! يوه خبره مې درته کوله.

- وايه کنه.

- امممم. هسې ما وې ته چې نه يې، واړه دې هم چېرې تللي وو که څنګه؟ هېڅ غږ و غوږ يې نه و.

- هو. جالبات ته تلي وو. په قريبانو کې يې مړی شوی و.

ګاونډي ناړې تېرې کړې. څو ګامه چوپه خوله روان و. بيا يې وويل: رښتيا يوه بله مې کوله.

حاجي ودرېد. مخ يې ده ته واړاوه. سترګو ته يې ځير شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډي په ټيټ غږ وويل: والله څه ووايم نو. خلک درپسې خبرې کوي. وايي دی چې په دوکان کې وي، يو ځوان يې کور ته راځي.

اوه! دا څه اورم؟ هغه خو زما خبره ورته کوله. دا څنګه زما په مخکې دا خبره کوي؟ نو ما ته ولې ګوته نه نيسي چې دغه ځوان دې کور ته راځي؟

حاجي په ملامتوونکو سترګو ګاونډي ته وکتل.
ګاونډي سترګې ورنه واړولې.
حاجي په چوپه خوله نېغ ورته کتل.
سړي اېخوا دېخوا وکتل. بيا يې د حاجې سترګو ته وکتل. ژر يې سترګې کښته واچولې.
حاجي وويل: ظالمه! همدا اوس د جومات نه راووتې. تا خو ماشاألله سبقم ويلی. ته خو پوهېږې چې د بهتان ګناه څومره ده؟ ولې په خلکو باندې بد ګومان کوئ. هغه څوک چې ته يې يادوې هغه مې د باجه زوی دی. پوه شوې کنه؟

اوه!
دا يې لا بله. نو دی په هر څه خبر و او هسې يې ځان ناګاره اچولی و. او څه ښه پلمه يې جوړه کړه. زه يې د خپل باجه زوی وبللم. حيران وم چې ګاونډی ما څنګه نهويني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډي د خواخوږۍ په انداز وويل: ته وګوره، دا دلـهګان هســې لګيا دي. هی هی نو! خير دی ته مه خپه کېږه. ما ويــل خــبر دې کړم چې خلک دې پسې شا داسې خبرې کوي.

- خير يوسې. هر چا ته دې خدای انصاف روزي کي. د هر چا خولې ته خو برغولی نه شو نيولی.
- ولله چې رښتيا وايې. خلک خپل هېڅ کار و بار نــه لــري، هسې په نورو پسې خبرې کوي. رښتيا دا هلک مو پخــوا نه و ليدلی. د کوم باجه زوی دې دی.
- ته يې نه پېژنې. مور و پــلار يــې مــړه دي. دی لا بيخــي ورکوټی و چې يتيم شو. تره لوی کړی دی. دا څو کاله په پاکستان کې و.

دواړه د بلاک په دهليز ننوتل. پر زينو چې ختل، ګاونــډي وويــل: حاجي ګله! چې د ما نه يې ونه ګڼې.

حاجي ودرېد. ستمی يې کېده. څو وارې يې ساه سمه کړه، بيا يې وويل: نه، نه. په تا مې باور دی. ګاونډی خو لکه ورور وي. ورور نو کله داسې کار کوي.

ګاونډي وويل: راځه ناشته د ما سره وکړه.

حاجي د خپل اپارتمان د وره په قلف کې کــيلي وګرځولــه. ويــې ويل: کور دې ودان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ور یې پرانیست، د سرو کړیو زیړو غوړیو وړم مو په سپږمو ولګېد.

ورننوت.

ښاپېرۍ له پخلنځي څخه غږ وکړ: راغلې په خیر؟ هګۍ درته څه رقم پخې کړم؟ ستاره‌یي، که بل رقم؟

حاجي لویه ساه واخیسته، ویې ویل: نه یې خورم.

کوټې ته ور ننوت. امسا یې له وره سره پر دېوال تکیه کړه. چې څنګه کېناست، غږ یې وکړ: ما ته یې واېشوه.

نو زه چېرې وم؟ ده نه لیدم، ګاونډي یې نه لیدم، خو ما هر څه لیدل، هر څه مې اورېدل. هسې نه چې زه دی وم یا مې روح د ده په کالبوت کې ننوتلی و.

د زېړو غوړو وړم تېرو وختونو ته یووړ.

د واده د شپې په سبا یې مور په زېړو غوړیو کې هګۍ پخې کړې وې او په پتناسه کې یې د دوی کوټې ته راوړې وې.

اخخخخ! څه دوزخي شپه یې تېره کړې وه.

ده ته خو ځان له پخوا نه معلوم و خو ښه خبره دا وه چې بل څوک پرې نه پوهېده. اوس یې نو ښځې ته هم هر څه ور معلوم شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بده يې لا دا چې په زړه کې يې ورتېر شول چې ناوې يې پــه پټــه ورته پسخېږي. ورپورې خاندې.

کاش مور يې خبره منلې وای. د څلوېښتو کلونو و چې دسمال يې ورته راووړ. پوره شل کاله يې مقاومت وکړ خو په آخــر کــې يــې مور خپل کار وکړ. مور به هر وخت ورته ټينګه وه چې څوک درته وکړم، څوک دې خوښه ده. خو ده به ويل چې نه يې غواړم.

مور يې ويل: شکر تجارت دې شته، خپل کور لرې نــو دا دومــره جايداد به چا ته پرېږدې؟ ولې يې په لوی لاس ميرات کوې؟

ده به ايلې بهانې کولې.

خو مور يې يوه ورځ خپل کار وکړ.

دی بېخي ناخبره وو چې د ښاپېرۍ دسمال يې ورته راووړ.

او ده نو نور انکار نه شو کولی.

واده يو غم، اولاد پيدا کول بل غم.

په هره مياشت کې چې به د ښاپېرۍ جامه شروع شوه، مــور بــه حاجي ته ويل چې ولې دې ښځه ډاکټر ته نه بيايې، علاج يې ولې نه کوې. سبا به مړه يم او د لمسي ارمان به مې ګور ته وړی وي.

آخر يوه شپه حاجي په ټيټ سر ښاپېرۍ ته ودرېد: ګوره! ما خــو واده نه غوښت. مور را ته په زوره وکړې. زه خو د خدای په غضب ککړ يم خو ته خپله چاره پخپله وکه. زما د خوا در تــه اجــازه ده. خو قول راسره وکه چې دا راز به چا ته هم نه وايې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپیرۍ په ناهیلي انداز را ته وویل: ناځوانه! ودې لیدل؟ شل کاله مې دغه راز پټ ساتلی و خو تا بې لوظه کړم. اوس به حاجي تــه په کومو سترګو ګورم؟ ډېر ناځوانه یې، ډېېېېر.

پر حاجي مې زړه خوږېده. څومره سخته ده چې سړی دې داسې خبره وکړي. په خپل کار پښېمانه وم. د ښاپیرۍ سترګو تــه مــې وکتل. غوسه نه وه، خو خپه وه، سخته خپه. خو کاش غوسه وای.

ویې ویل: زما و د تا نو نــوره نــه کېــږي. زه د نــاځوانو سره نــه جوړېږمه. یو وار مخکې دېم ناځواني کړې وه خو ما ویل څه خیر دی په ناپامۍ کې به ورنه شوې وي خو دا وار.

اسویلی یې وکیښ: آآآآآه! نور مو سره نه کېږي. څه پــه مخــه دې ښه شه!

عذر مې ورته وکړ. توبې مې وایستې. یاسین شریف مې له جېبــه وایست، لاس مې پرې کېښود، قسم مې وکړ چې بیا به داسې بد نه کوم.

خو ښاپیرۍ نوره نه پخلا کېده.

ولې مې داسې وکړل؟

او بل وار مې څــه کــړي وو؟ دې ویــل یــو وار مخکــې دې هــم ناځواني کړې وه. کومه ناځواني یادوي؟ هغه په بلا وهه خو دغه اوسنۍ ناځواني به دې څنګه شي؟

ځان ته مې زیاړې کړلې.

را نه ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې پاتې شوم.

د موټر جلو ته کېناستم.

موبایل مې له جېبه را وایست. زنګ مې ورته وکړ.

ټیلیفون یې بند و.

لاس مې د موټر پر کیلي اېښی و خو د چالانولو متره یې را کې نه وه.

څه وکړم؟ چېرته لاړ شم؟

ځمکې ځای نه راکاوه. ساه مې ډوبه وه. پر سینه مې درونــد بـــار پروت و. هېڅ شي خوند نه راکاوه.

«ناځوانه!» «ناځوانه!»

دې کلمې را نه لاس نه اخیست.

رښتیا مې لویه ناځواني کړې وه، نو دا مې حق و چې د «ناځوانه» کلمه مې دې همداسې وځوروي.

موټر مې چالان کړ. فول اکسلېټر مې ورکړ.

د ټیرونو کغهار یې شو.

مخې ته مې لارئ روانه وه.

موټر مې پسې تېز کړ.

نیت مې و چې تر لاندې یې ننوځم او هر څه ختم کړم.

موبایل ته مې زنګ راغی.

خدای دې وکړي چې ښاپېرئ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکسلېټر مې پرېښود. موټر لږ څه سوکه شو. ګېر مې را کـم کـړ. موټر چې ورو شو، د سړک څنګ ته مې ودراوه.

موبایل مې پر له پسې زنګونه وهل.

مولانا صاحب و. ویل یې چې زر راشه په کار مې یې.

ورغلم.

ته وا بزرګ دی. وار له واره یې پوښتنه وکړه: جي سنګه چل دې؟ دومره خفه مې کله هم نه وې لیدلی. ولې خفه یې؟

ومې ویل: نه یم.

- خو سترګې دې داسې نه وایي. په عاشقي کې هـم ګیلـې وي هم جنګونه جانانـه. هههههـه. دنیـا بـه سـه وي او عاشقي به یې سه وي؟ ګوره بچو! حال را ته ووایه. سـه شوي دي؟ هن؟
- دنیا نه مې زړه تور دی. مرګ غواړم.
- خه خه، نووو خبره داسې ده. د خاپېرئ سره خو بــه دې ورانه شوې نه وي؟

په زړه کې مې تېر شول چې دی نو څنګه خبر شوی. لکـه بـزرګ چې وي. دا اول ځل نه و. څو وارې داسې شوي دي چې ما ورتـه خبره نه وې کړې خو دی پرې خبر وي.

ویې ویل: ګوره بچو! ته یې مه وایه خو زه پوهېګم.

ټوله کیسه مې ور ته تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لاسه يې ونيولم. کوټې ته يې بوتلم. ور يې پورې کړ. کوټه کې تياره شوه.

ويې ويل: خه نو! ته که حورې وګورې نو بيا به سه کيې؟ هن؟ دا خاپېرۍ ده که سه بلا ده، د دې او د حورو مقابله خو نو کله هم نه شې کېدی. دنيا به سه وي، خزې به يې سه وي او خوند به يې سه وي. اصلي خوند خو په جنت کې وي. چرته وي؟ په جننننت کې وي.

هلته په جنت کې بس جانان به وي، مزې به وي

خکلې پېغلې حورې او غلمان به وي، مزې به وي

زه غلی وم.

ويې ويل: د تا يادېګي چې ما در ته ويلي وو چې زما شفاعت به هم همدا ته کوې؟ يادېګي دې که نه؟

- هو. يادېږي مې.
- ولې مې دقه خبره درته کړې وه؟ په دې چې د تا په تندي کې مې د جنت نور وليدو. تندی مې دې هماغه وخت کې چپ کړو که مې نه کړو؟
- بالکل. په تندي دې ښکل کړم.
- بس نو. ما ته معلومه وه چې ته به يو ورز افضل الجهاد کوې او د شهادت درجه به ګټې، جنت له به ورځې او بيا به د ما شفاعت هم کوې. الله تعالی په سورة المحمد کې، قربان يې شم، فرمايي چې: «ذٰلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّـهُ لَانْتَصَرَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

> مِنْهُمْ وَلَٰكِنْ لِيَبْلُوَ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ۗ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَنْ يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ» يعنې که الله تعالی وغواړي د کافرانو نه غچ اخلي خو غواړي چې تاسې له يو بـل سره په امتحان کې واچوي او سوک چې د الله په لاره کې وجل کېگي الله به يې اعمال هېسکله نه ضايع کوي.
>
> ځان را ته تکړه ښکارېده. د فخر او غرور نری احساس را کې پيدا شوی و. لکه څوک چې په امتحان کې کامياب شـوی وي. هغه شېبه مې سترگو ته درېدله چې د خدای په امتحـان کـې کامياب يم او خدای پاک مې نازوي.

مولانا صاحب وويل: ته يې نه وينې خو قسم په رب دی چې دغـه اوس ستا له جبـين نـه نـور راوزي نـور. سـه راوزي؟ نـوووور راوزي. دغه کوټه يې داسې رڼه کړې ده لکه زر سراغونه چې پـه کې لگېدلي وي. سو سراغونه؟ زرررر سراغونه. هله نو. همدا يـې موقع ده. داسې کار وکه چې هم گناهونه دې پـاک شي او هـم د جنت حـورو لـه ورسـېگې. داسـې حـورې چـې يـو وار ورسره کوروالايي وکې، د دنيا ټولې خزې او جونې او ټول خوندونـه بـه در نه هېر کي. سه به کي؟ درنه هېېېېر به يې کي. که يـې خونـد وسَکې، په ځان به غوسه شې چې مړه ولې لس کاله مخکې ور له نه راتلې. ځان له به وايې چې ولې مې هسې خوشې چټې په دنيـا کې جوند وکو. د حورې داسې خوند دی چې ويې گورې، بيا کـه دغه خاپېرئ ده که سه بلا ده، هغه که پېغله هم شي، نـه بـه يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړې. او ولې به يې غواړې؟ تا ته خو دوه اويا حــورې مقــررې دي. سو حورې مقررې دي؟ دوه اويا.

څه چې ده ويل، زما سترګو ته درېدل. ځان مې د دوه اويا حــورو په منځ کې ليده.

پر اوږه يې لاس را کېښود، ويې ويل: نو داسې سه وکه چې خرما هم ده، ثواب هم.

بې له دې چې ور وګورم، ومې ويل: څنګه؟

- استشهاد! رسول اکرم صلی الله علیه و سلم فرمايي چــې اَشرُفُ المُوَتِ قَتْلُ الشَّهادَهِ

هر څه تيار و. د يوه ټونېس موټر کيلي يې راکړه.

موټر مې رهي کړ. موټر داسې دروند و لکه د لارۍ بار چې دې په کې اېښی وي. چې څومره رېز مې ورکاوه، موسم يې نه اخيست.

د پل چرخي په سړک روان وم. د ميکرويان له څنګه چې تېرېــدم، د ښاپيرۍ د بلاک خوا ته مې وکتل. په زړه کې مې وويل: د رنډۍ لورې! ما پسې به ارمان کوې.

له لرې د امريکايانو کتار راښکاره شو.

ورنژدې شوم.

نيم کتار تېر شوی.

اکسلېټر مې ټينګ کړ. شټرينګ مې چپ ته تاو کړ. بټن مې ټينــګ کړ. ګړز شو ...

له شا څخه مې د زګيروي په شان آواز واورېد: «ناځوانه!»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غبړ لوري ته مې وکتل. څوک نه وو.

له بلې خوا چا په لوړ غږ ناره کړه: ناځوااااانه!

نارې انګازې وکړې. له هرې خوا د «ناځوانه»، «ناځوانه» غږونه راتلل.

ځای پر ځای ودرېدم. غږونه ورک شول.

روان شوم. هر قدم چې به مې کېښود، له چمنه همدا غبړ پورته کېده.

د شیدو د لښتي څنګ ته کېناستم. شرهارو ته یې غوږ شوم. شرهار نه و. بل څه و. غوږونه مې ور ته څک کړل، ښه ورته ځیر شوم. د شیدو له بهېدو څخه تت آواز پورته کېده: «ناځوانه»، «ناځوانه»، «ناځوانه»

آوازونه وار په وار سره تېز شول، چیغې شوې، فریاد شو.

پاڅېدم. منډه مې کړه خو خلاصون مې ځنې نه و. د ونو له پاڼو، د ګلونو له عطره، د هوا له چلېدو، له ځمکې، له آسمانه، له لمر او سمندره بس همدا غږونه راورېدل: «ناځوانه»، «ناځوانه» ...

په غوږونو کې مې ګوتې کېښودې. له ګوتو مې هم همدا کلمه اورېدله.

نه پوهېدم چې چېرته وتښتم. بس منډې مې وهلې.

بده لا دا چې دا ځل پوهېدم چې ولې مې ناځوان بولي. خپله ناځواني را ته معلومه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چينې غاړې ته ورغلم. ګونډې مې پر ځمکــه ولګــولې. سر مــې ځړېدلی و. نه پوهېدم چې څه ووايم. څنګه بخښنه وغــواړم چــې ومې بخښي.

په نرمه غاړه مې غږ ور وکړ: ښاپېرۍ!

چا ځواب را نه کړ.

ومې ويل: ښاپېرۍ! پوهېږم چې غږ مې اورې. خيــر دی، دا ځــل مې وبخښه!

هماغسې خاموشي وه.

بيا مې وويل: بد مې کړي دي. قسم دی، بيا بــه داســې نــه کــوم. ګوره! دا دی غوږونه مې نيولي دي. توبه! توبه! توبــه! صـــحيح شوه؟

غږ يې نه کاوه.

غږ نه کول يې سخت ځورولم. ان کــه يــې زيــاړې را تــه کــولای، سپکې سپورې يې را ته ويلای، دومره به يې نه ځورولم خو چــې مازې خبرې يې راسره کولای.

توبه مې وکړه، معافي مې وغوښته، نور نو څه وکــړم چــې رضــا شي؟

کېدای شي چې دلته نه وي. هلته په ماڼۍ کې د شرابو په حــوض کې به وي.

هلته پسې ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حوض پر غاړه څملاستم. په ځير مې ور وکتل. شراب داسې راڼه وو چې د حوض تل جوت ښکارېده خو ښاپېرۍ په کې نه وه.

وي به. هغه به په شرابو کې ځان حل کړی وي. چې خبرې ور ته وکړم، را پيدا به شي.

ومې ويل: ښاپېرۍ مې! خدای ته وګوره، نور مې مه ځوروه. هرې جزا ته حاضر يم. جزا راکوه خو خپګان دې نه شم زغملی. خير دی خبرې را سره وکړه. زياړې وکړه. بد رد را ته ووايه. سپک مې کړه. دا مې حق دی. خو خبرې دې را نه مه درېغوه!

چوپه چوپتيا وه.

ان زما خپلو خبرو هم په ګنبده کې انګازې نه کولې، بېرته نه راګرځېدې.

کېناستم. چارچاپېره مې وکتل.

بيا مې په زوره ناره کړه: ښاپېېېېېرۍ!

ګورم چې د ماڼۍ ټولو دېبرو خولې خلاصې کړې دي او زما خبره له ستوني تېروي.

د شرابو څاڅکي په چينجيو بدل شوي وو. زما له خولې به چې خبره ووتله، دوی به پرې حمله وکړه. شل پنځه ويشت اروا وړو چنيجيو به زما د خبرو پر هرې کلمې را چاپېر شول. پر هر توري به پنځو شپږو چينجيو خوله واچوله. توري به يې ذرې ذرې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما به چې څومره خبرې کولې، چینجي بــه هماغــومره چاغېــدل، غټېدل، خولې به یې غټېدې او لا به زما د خبرو په خوړلو کې تکړه کېدل.

اوس پوه شوم. ښاپېرۍ چې مې خواب نه راکوي، وجه یــې دا ده چې نارې مې تر هغې پورې نه رسېږي. گنې دومره زارۍ به مــې بې اثره نه وای.

پر چینجیو مې برید وکړ. د لاس په مخ او څټ مې چینجي ووهل.

- ځۍ! ورک شۍ!

چینجیو هوا ته ټوپ کړ. په هوا کې یې زما خبرې وخوړې.

- لرې شۍ! اې خرکوسانو!

څو چینجیو ان زما شونډو ته راټوپ کړل.

لا مې له خولې نه کلمه پوره نه وه وتلې چې دوی یې یو یو توری په غاښونو وچیچل او ویې ژدویل.

نور مې خبرې نه پوره کېدې. چې خبرې مــې کــولې، بــې معنــا غړونه ور نه جوړېدل.

چینجي دومره اروا وږي وو چې ان زما پر کنځلو یې حملې کولې.

ما به چې هره کنځا وکړه، دوی به خوړله.

په دواړه لاسونو مې له مخې نه چینجي پورې وهل. لکه مچان یــا غومبسې چې شړې. خو دوی را نه لاس نه اخیست.

منډه مې کړه.

له مانۍ نه ووتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینجي ورک شول.

ودرېدم. اسویلی مې وکېښ. شا و خوا ته مې سترګې وغړولې.

راون شوم. بېرته د چینې غاړې ته ورغلم.

ښاپېرۍ د چینې په تل کې ناسته وه. زنګنونه يې پــه ټټــر پــورې جوخت نیولي لاسونه يې له زنګونو چاپېر کــړي وو. سر يــې پــر زنګنو اېښی و. ویښتان يې د مجنون بېد د څانګو غوندې په هــوا کې ځړېدلي وو او دا يې پټه کړې وه.

غږ مې پرې وکړ: ښاپېرۍ!

هماغسې غلې ناسته وه.

- ګوره! ومې ویل چې بد مې کړي دي. توبه مې وکړه. نور مې نو ولې ځوروې؟

ویده خو نه وه ځکه چې ما ولیده چې ځان يې نور هــم را غــونج کړ.

- یو څه خو ووایه! آخر انسان هو میں، فرشــته تــو نهــي / انسان نه کریګا تو خطا کون کریګا

پاڅېده. زانګه وانګه د هېندارو خونې خوا ته روانه شوه.

ناره مې کړه: ښاپېرۍ! ته و خدای که داسې وکې.

پاس يې را وکتل. سترګې يې نه ځلېدې. غوســې او خپګــان تتــې کړې وې.

بېرته يې مخ واړاوه. چابکه شوه.

- ښاپېرۍ مې! ګرانې! داسې مه کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغسې بې پروا روانه وه. د هېندارو خونې ته ور ننوته.

چينې ته مې پسې ور ټوپ کړ. سر مې پر کلکې هېندارې ولگېـد. پر تندي مې څړيکه وشوه.

د چينې اوبه کنگل شوې وې.

تندی مې په ورغوي وسولاوه. درد او سوی سره گډ وو.

سيوري مې را ته کړه: پرېږده چې لاړه شي. دا نو په دومره زارۍ ارزېدله؟

ومې ويل: خود! ډېره راباندې گرانه ده.

- ځه بابا! ولې ځان ورته دومره سپی ســپی کــوې. داســې رنډۍ په زاريو نه ارزي.

- نه. هغه رنډۍ نه ده. هغه مې ملگرې ده.

سيوري مې کټ کټ وخندل. ويې ويل: هسې خو يې نه دي ويــلي چې د ميئن سترگې ړندې وي. دا خو يوازې تا سره نه وه جوړه. تا غوندې يې ډېر انډيوالان لرل.

- خو زه تر هر چاورباندې ډېر گران وم. ما تــه يــې ډېــره مينه راکوله، ډېره زياته.

- هغه د سپي گومان هم درباندې نه کوي، ته وايې مينه يې راکوله. خپل کار يې درباندې سماوه. مېړه يې د کار نه و، ځان به يې په تا سړاوه. داسې خــبرې کــوې چــې تــه وا ببخي پرې خبر نه يې. دا حرامونې لور يې چې د هغې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر په تا باندې نخرې کوي، د هغه ډاکټر لور نه ده چې
دا به يې کلينيک ته ورتله؟

رښتيا يې ويل. کومه بي بي ښځه خو نه وه چې دومره نازونه کوي. لور يې هم حرامونې. په دواړو کې يې ومنډم له دومره نخرو سره.

تمه مې ځنې وخته.

روان شوم. گورم چې نور د «ناځوانه» غږ را باندې نه کيږي.

آرامه آرامي وه.

واه! د تمې په پرې کولو کې څومره لوی سکون دی. تر هغه وخته پورې چې مې ورته تمه وه، يو وار به مې ځان سره ويل چې زارۍ به مې ومني او بخښنه به را ته کوي، بيا به مې ويل «نه، نه به دې بخښي» نو ډېر ناقرار وم، ډېر ځورېدم. خو اوس چې مې لاس ور نه ومينځل، يو دم هوسا شوم. زړه مې ډاډه شو چې خبره نوره خلاصه ده. لکه د مردار دانې زوه چې وباسې او درد يې تسکين شي. کله کله ناهيلي هم بلا خوند لري.

خو د ناهيلۍ خوند هم ډېره موده پاتې نه شوه.

روان وم خو په بې خوندۍ کې ډوب. نور نو د ښاپېرۍ يادونو نه ځورولم خو خوندونه هم را نه تښتېدلي وو.

رښتيا، مخکې له هغې چې په موټر بم کې ځان والوځوم، يوه بله پېښه هم شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرمينه په پلې سټېشن کې په ګېم لګيا وه. زه ورته مخامخ د کوټې په بل سر کې ناست وم.

لاسونه يې په هوا کې خوځول: وا وا! مېشن مې پوره کړ.

ورنژدې شوم. د ټلويزيون پردې ته مې وکتل. رنګ رنګ پوکانې پورته خوا تلې. په انګليسي يې څه ورته ليکلي وو.

زرمينې وويل: دا ډېر سخت مېشن و، خو پوره مې کړ.

ومې ويل: آفرين! پنجه که!

د لاسونو ورغوي مو سره وجنګول.

- يو بل ګېم نوی راغلی دی. وايي ډېر ښه ګېم دی.
- در ته وا يې خلم؟

مور ته يې وکتل.

مور يې د نه په معنا سر وخوځاوه.

ما زرمينې ته سترګه ووهله.

کله چې يې له کوره وتلم، زرمينې غلې يو ټوټه کاغذ د واسکټ په جېب کې را واچاوه.

بله ورځ چې ولاړم نوی ګېم مې زرمينې ته ورکړ. رنګ يې وغوړېد. موسکه شوه خو کله يې چې مور ته وکتل، شونډې يې سره ورغلې.

د ښاپېرۍ ورغوی مې په ګوتو ټينګ کړ.

را ويې کتل. په سترګو يې وپوهولم چې دا کار مې بايد نه وای کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرمينه په بله کوټه کې په ګېم بوخته وه. ښاپېرۍ تشناب ته ننوته چې ولامبي.

زرمينې ته ورغلم.

په ټيټ غږ يې وويل: ډېره منته!

څنګ ته يې کېناستم.

- خوښ دې شو؟

- ډېرررر.

لاس مې پر سر ور تېر کړ.

موسکه شوه.

په دوو ګوتو مې يې غومبرۍ ټينګ کړ.

څه يې ونه ويل.

څو ځله نوره مې هم همدغسې ونازوله.

بله ورځ يې چې د ګېم مېشن پوره کړ، ورغوي مو سره وجنګــول.

بيا مې پر مخ ښکل کړه.

سترګې يې کښته واچولې خو بده پرې نه وه لګېدلې.

لاس مې يې په لاس کې ونيو. ګوتې مې يې ونازولې. ورغوی مــې يې ټينګ کړ.

غلې وه.

ورو ورو زړور شوم.

بله ورځ ښاپېرۍ وويل چې ماسپښين به د چا کره ځــي او زه دې يې کور ته نه ورځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیطان وسوسه کړم. را ته ویې ویل چې همدا یې ښه وخت دی. ورغلم. زرمینې ته مې بل ګېم اخیستی و.

د ګېم په خاطر یې دروازه خلاصه کړه خو ویې ویل: مـور ویـلي دي چې دروازه به چا ته نه خلاصوې.

ومې ویل: پروا نه کوي. هغه دومره زر نه راځي او که را هم شي، زما په خاطر څه نه در ته وایي.

دا په ګېم اخته وه.

ما یې بدن نازاوه. ویښتان، غومبري، متې، لاسونه.

بیا مې یې ټټر ته لاس ور وړ. رنګ یې سور اوښـتی و. سـاه یـې تېزه شوه. اول یې په کراره زما لاس پورې وواهه. ما یې څو شېبې اوږدې د ګوتو په سرونو کېکاږل.

بیا مې یې ټټر ته لاس ور وړ. دا ځل یې څه ونه ویل.

څو شېبې وروسته د دروازې د خلاصېدو غـږ شـو. لا لـه ځایـه خوځېدلي نه وو چې ښاپېرۍ را ورسېده او په هماغه حالـت کـې یې ولیدو.

خبره ورانه شوه.

خو څه به مې کړي وای. ښاپېرۍ نوره خوند نـه را کـاوه. زه لا د پنځه ویشتو نه وم او هغه د څلوېښتو نه اوښتې وه. د مجبـورۍ ورځې مې ورسره پاللــه خو په زړه کې مې یې لور ښخه وه.

خو په هغه ورځ مې دواړه له ګوتو ووتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څو شپې مخکې داسې ښه هوسا وم. که مې خوند نه اخیست، ځورېدم هم نه. خــو دا یادونــه مــې بیــا ولــې ذهــن تــه راغلــل. اووووف!

روان وم خو په بد خوندۍ کې ډوب.

د ګلونو وږم داسې ځورولم لکه د اغزیو له څوکو چــې ډک وي او چې بویوم یې په پوزه کې مې چوخېږي، پوزه مې څېږي.

ته وا هوا د تېزابو له څــاڅکو جــوړه ده او پــوزه مــې ســوځوي، ستونی او سږي مې داسې ایشوي لکه د معدې تېزاب چې مرۍ ته را پورته شي او زړه دې وایشوي.

د چمن پر پستو ډکیو چې به کېناستم، لکه د مېخونو پر انبار چې ناست یم او غږونــه، د مرغیــو، د چڼچڼــو، د بلبلــو، د کــوترو، د څارویو، د باد او د باران او د اوبو، ټــول غږونــه بــس د تالنــدې غږونه وو. هر غږ به مې غوږونه را خوړل.

«د خدای ډېر ډېر ذکر کوه چې زړه دې سکون ومومي!»

د بې خوندیو په دنیا کې دا د خوند خبره له کومه راغله؟

چار چاپېره مې سترګې وغړولې خو څوک مې ونه لیدل.

ته را یاد شوې.

وی وی! دا دومره وخت ولې را نه هېر وې؟

پر ما به چې هره سخته راغله، ته به مې یادولې. په تا به ډاډه وم.

څومره ډېره موده تېره شوه؟

وروستی ځل چې مې یاد کړی وې، څه مهال و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نرم گرم ځای کې وم. وينې مې خوراک وو. وينه مې ساه وه. را نه چارچاپېره اوبه وې او زه په کې معلق، لکه په مالوچ کې چې څه را ونغاړې. آرامه آرامي وه، بې غمي وه. مطلق سکون و.

ناڅاپه له هرې خوا را باندې زور راغی. چارچاپېره اوبه له هرې خوا را پورې وهل کېدې. درز شو. کڅوړه وچاودېده، اوبه ولاړې او زه په ميدان داسې پاتې شوم لکه له عسکره چې وسله او زغره واخلې او د دښمن مخې ته يې ودروې.

بيا له درېوو خواوو را باندې زور کېده. د هډوکو تونل ته يې پورې وهلم او شېبه په شېبه يې لا وړاندې ټېله کولم. زه چې په ناز او نعمت پايېدلی وم او کړاو مې نه پېژانده، سخت دردېدلی وم او ته مې هماغه مهال ياد کړی وې.

ستا به يادېږي، که نه؟

ته مې چې ياد کړې، کړاو مې کم شو او شېبه وروسته په بله دنيا کې وم.

همدا سوچونه مې کول او د غړ خوا ته روان وم.

ونې ته ورسېدم. لويه دنګه زړه ونه. هرې څانګې يې بېله مېوه کړې وه. هرې مېوې يې ځان ته وربللم. په هره مېوه کې يې بلا کشش و. د هرې مېوې رنګ تر بلې ښايسته و.

سخت ورته وهوسېدم. د لومړۍ څانګې مېوه مې را وشکوله. خولې ته مې وړله چې په لاس کې مې وچاودېده، منځ يې تش و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ هم په کې نه. له چاودلو سره يې رنګ او بڼه هـم والوتـل او هېڅ ترې پاتې نه شول.

د ونې بلې څانګې ته ور وختم. د هغې مېوه هم همداسې وه. بلې ته، بلې ته، د ونې د ټولو څانګو مېوې مې وازمايلې خو څه تـرې بود نه شول.

لوی جماعت په يوه ملا پسې درېدلی و. زه هم ورګـډ شـوم. مـلا «الله اکبر» وويل. ګورم چې کلمې ور نه تښتي. هره کلمه چې يـې له خولې څخه وځي، په داسې منډه ځنې تښتي لکه بندي مرغــۍ ته چې د پنجرې ور پرانيزې. خو چېرې؟ په کوم لوري؟

د هېڅ خوا ته!

ملا لګيا شو «الحمد لله رب العالمين ...» نورو مقتديانو سرونه ټيټ نيولي وو او سترګې يې په ځمکې پورې ښخې وې او د کلمو منډه يوازې ما ليدله.

«السلام عليکم و رحمة الله» ټولو ښي لوري ته مـخ واړاوه. نيمـه دنيا مې مخې ته راشنه شوه. وښو د دې کلمـو پـه اوربېـدو سره مخونه بلې خوا ته واړول. لکه توند باد چې پرې لګېدلی وي. ونو د خپلو څانګو سرونه په غوړونو ورننه ايستل او سرونه يې پر ټټر باندې لږ ټيټ کړل. څارويو د غوړونو پکې راغـونجې کـړې او د غوړونو سورې يې پرې پټ کړل. وربځې د سپينو او تورو آسونو غوندې وځغاستلې. د سيندونو او سمندرونو اوبو پـه يـوه سـاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې لويې څپې جوړې کړې او داسې په منډه را نــه وتښــتېدې چې سپېره تلونه يې راښکاره شول.

چپ لوري ته مو سلام وګرځاوه. پاتې نيمه دنيا چپ لوري ته را نه په تېښته شوه. موږ او هېڅ يوازې پاتې وو.

ملا زموږ خوا ته مخ واړاوه. تندی يې له ګونځو ډک و. لاسونه يې پورته کړل. دعا يې وکړه.

نه، دعا نه وه. ښېرا يې وکړه. دعا يې ټوله ښېرا وه. په دعا کې يې د ډېرو خلکو تباهي پرته وه.

ټول پاڅېدل او هرې خوا ته سره تيت شول. د ټولو مخونه د مــلا غوندې وو. د ټولو څېرې ترينګلې، ټول ترخه زړي. فضا ترينګلې شوه، تورې لوخړې خپرې شوې او هر څه يې تت کړل. حيران وم چې دا څه وشول.

په لوخړو کې شرنګا شوه. ورته ځير شوم. لنډې ږيرې تــوره پــه لاس په خرييلې ږيرې پسې منډې وهلې او اوږدې ږيرې د لنــډې ږيرې ګرېوان نيولی و.

خولۍ والا سر سر تور سر ته برګ بــرګ کتــل. د پګــړۍ والا سر سوک پورته کړی و چې د خولۍ والا سر چيت کړي. د پګــړۍ والا سر مخې ته دستار والا سر درېدلی و او ګوته يــې ورتــه څنډلــه، ويل يې: دستار همداسې وي لکه تا؟ ولې زما غوندې نه يې؟

دستار هوار او ښوی و او پټونه يې يو د بل پر سر مــنظم راغلــي وو. شمله يې نه وه او څوکه يې هم داسې هواره وه لکه کاغذ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خط کش ورباندې کېږدې او منظم او په مستقیمو کرښو یې قات قات کړې. خو د پګړۍ ولونه لاندې باندې او ټیټ او جــګ وو، او شمله یې درلوده.

د هغه آمین په لاس کې لیندۍ وه چې په لمانځــه کــې تــر الحمــد وروسته په جهر ویل شوی و. په لیندۍ کې یې غشی اېښــی و او هغه بل آمین یې په نښه کړی و چې خفیه ویل شوی و.

پر نامه اېښودل شویو لاسونو هغو لاسونو ته غاښونه چیچل چې پر ټټر اېښودل شوي وو. په ټټر اېښودل شویو لاســونو پــه هغــو لاسونو پسې توره راخیستې وه چې په لمانځه کــې څوړنــد نیــول شوي وو.

«ته کافر یې!»

«ته کافره یې!»

«کافره ته یې!»

«کافر خو ته یې!»

ګورم چې د هر چا له ککرۍ څخه کرکــه راوځــي او چارچــاپېره خپرېږي. کرکه په هر څه کې ګډه شوه. د هر څه رنګ یــې بــوین کړ. ګنده رنګونه پر هر شي کېناستل. ونو، بوټــو، ژوو، مرغــانو، ځمکې او هوا ټولو هڅه کوله چې له ځانه بوین رنګونــه وڅنــډي خو نه پاکېدل، لکه په بنده کوټه کې چې جامې، قالینه، توشــکې، بالښتونه، پردې او دېوالونه ټول په اوړو ککړ ســپېره وي او هــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک ځان وځنډي خو ځومره دوړې چې ځنې پورته کېږي، بېرته د اوړو هماغومره ګردونه ورباندې کېني.

لږ وروسته مې هماغه خلک ولیدل چې په خپلو دعاګانو پسې لالهانده وو. دعاګانې یې لوګي وو او دوی لکه ماشوم چې په کوټه کې لوېدلې رڼا پسې ځغلي، دوی هم په خپلو دعاګانو پسې منډې وهلې. چې لږ به ورنږدې شول، لاس به یې پسې واچاوه خو لوګی به یې د ګوتو له منځه وښویېد او پورته لاړ. دوی ټول ستړي هلاک شول خو لوګیو نیوی نه ورکاوه.

په زړه کې مې راتېر شول چې دا خلک ولې په داسې څه پسې ځغلي چې یې لاس ته نه ورځي او د نیولو نه دي. لوګی نو چا نیولی دی چې دوی یې د نیولو هڅه کوي.

تا را نه پوښتنه وکړه: دعا ولې کوې؟

- دعا؟ دعا ولې کوم؟ خو کوم یې نو.

څه به مې ویلي وای؟ تر اوسه هېچا داسې پوښتنه رانه نه وه کړې. لږ فکر مې وکړ، بیا مې وویل: امممم، په دعا کې خپله ستونزه، خپل مشکل درته یادوم.

- یعنې زه په هر څه خبر نه یم؟
- یې.
- نو ته ولې خپل مشکل را ته یادوې؟
- هسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما يو عمر دعاګانې کړې وې خو دې ته مې فکر نه و کړی چې دغسې دعا ولې کوم.

ومې ویل: په دعا کې هغه څه در نه غواړم چې زما په وس کې نه وي.

ته را ته داسې موسک شوې لکه پلار چې د خپل ماشوم اپلتې اوري خو غوسه کېږي ورته نه.

ودې ویل: ولې يې را نه غواړې؟ زه پخپله نه پوهېږم چې د چا څه شی په کار دي؟ ما ته نه معلومېږي چې چا ته څه ښه دي، څه نه دي ښه؟

رښتيا دې ويل. د هر چا په خير او شر خو ته ښه پوهېږې.

نو موږ ولې په لوګيو پسې منډې وهو.

له دې پوښتنې سره بيا هماغه د بې خوندۍ څپه راباندې راغله.

ځوروونکې خوشبويۍ، خوسا رنګونه، تربتوونکې هوا، تور خوندونه ... هر څه يو عذاب و، يو آفت و او بلا وه. رنګونو هم د «ناځوانه» نارې وهلې، خوندونو هم.

له ځانه مې کرکه کېده.

ځان ته مې ويل چې همداسې بې خوندۍ درسره ښايي. ته يې لايق يې.

سر بداله روان وم چې يو غږ مې واورېد، يو شرنګېدلی آواز:

باز آ، باز آ، هر آن چه هستی، باز آ

گر کافر و گبر و بت پرستی، باز آ

(c) ketabton.com: The Digital Library

این درگۀ ما، درگۀ نومیدی نیست
صد بار اگر توبه شکستی، باز آ

څه مستانه خلک وو. سپین اوږده کميسونه، گردې لوړې خــولۍ، يو لاس پورته او بل کښته، د چمبې دربهار ته گډېدل. گډېدل څــه گډېدل وو، بس پر ځان راڅرخېدل وو، چورلېدل وو، تاوېدل وو.

دومره گڼ کسان په دې ميدان کې گډ وو، لکه په حج کې طوافگر چې له کعبې څخه راچورلي. ټولو په گډه د «باز آ، بــاز آ» ســندره بلله او دې سندرې زه داسې د دوی خوا ته څکولم لکه د ځــړوبي اوبه چې ځان نه شي ټينگولی او خامخا به د گړنــگ خــوا تــه ور درومي. لکه په فضا کې هغه تورې ســمڅې چــې رڼــا هــم تــرې تښتېدلی نه شی او هر شی په ځان کې داسې جذبوي چې په ځان کې يې ورک کوي او د ځان غوندې يې کوي.

يو وخت مې ځان ته پام شو چې نور زه هم دوی يم. نــه، دوی زه وو. هر څوک زما غوندې وو او زه د هر چا غوندې وم.

نه، داسې نه وو. موږ ټول يو کس وو. يوازې په جامو او گډېــدلو او د سندرې په بللو کې نه، په رنگ او په قد او قواره کې هم کــټ مټ سره يو شان وو. لکه دا نــور چــې هېنــدارې وي او حقيقــت يوازې زه يم.

له گډېدلو سره مې وار په وار سره زړه او ذهن داسې سپکېدل لکه لوند خيشت ټوکر چې په هوا کې يــې وڅرخــوي او ورو ورو لــه اوبو څخه تش شي. لکه د سپپلنيو والا په ټيمگي کــې مړژوانــدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکاره چې لوګی ترې خېژي او کله یې چې په هوا کې څرخــوي، اېرې ترې والوځي، لوګی یې وار په وار سره کم شي او بیا یو مخ ورک شي او سکاره یې په سره انګار واوړي. زه هغه انګخــور وم چې اوس را نه سکروټه سازه شوې وه.

زړه او روح مې تازه شوي وو. یو سرور و، خوشحالي وه، څه بې غمه زندګي وه، هم نشه وه هم خمار و، تلوســه وه، هــم قــرار و. داسې کیف و چې په هېڅ شي کې به نه وي.

زمان او مکان را نه هېر وو. نه پوهېږم چې څومره موده ګــډ وم، بلکې ګډ وو. خو دومره پوهېدم چې زړه مې له هــر شي نــه تــش شوی و. نور هېڅا د «ناځوانه» غږونه نه کول.

د چمبې غږ غلی شو. ټول ځای پر ځای ودرېدلو. لاســونه مــې د چلیپا غوندې پر ټټر ولګېدې، ښی لاس پر چپې اوږې او چپ لاس پر ښی اوږې.

ګورم چې ټولو لاسونه همداسې نیولي دي. هره شېبه کې یــو یــو ګام خوځېدلو او چپ لوري ته تللو.

څنګ ته مې ولاړ کس ته وکتل، هغه زه نه وم. بل تــه مــې وکتــل، هغه هم بل کس و. ټول خلک نور وو. زه هغوی نه وم.

ورو ورو خوځېدلو او یو وخت مې پام شو چې د اوږدې لیکې په آخر سر کې ولاړ وم.

بیا نو یو یو ګام مخ ته تلو. معلومه نه وه چــې چېــرې روان یــو. پوښتنه مې هم نه کوله. سره له دې چې نور مــو څېــرې سره یــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان نه وې او هغوی زه نه وم خو بیا مې هم د پردیتوب احساس نه کاوه.

لکه د سیند د اوبو څاڅکي چې په یوه لـوري درومــي او د هــېڅ څاڅکي په زړه کې شک نه لوېږي چې ولې روان دی، زه هــم لــه هغوی سره پر یوه لیکه روان وم. مطلق سکون و. مطمین وم چې پر کومه لاره ځم د پښېمانۍ لاره نه ده. خو دومره اطمینان ولې؟ نه پوهېدم.

لکه تار چې پر گوټک یې وپېچې، کتار وار په وار سره لنډېده. لکه په چینه کې د منگیو کتار چې هر منگی ډکېږي، کتار لنډېږي.

بل شي ته مې پام شو. په کتار کې رنگ رنگ خلــک ولاړ وو، تــور پوستي، سپین پوستي، غنم رنگي، زېړ بخوني او سور پوســتي. د چا پر غاړه صلیب، د چا په لاس کــې قــرآن، څــوک رام رام وایــي، څوک الله یادوي، د چا پر مړوند د بودایانو پنځه رنگه تارونه.

له ځان سره مې وویل چې دا تارونه ولې پنځه دي.

تارونه وخوځېدل. یو یې د شمال خوا ته ولاړ؛ بل یې د جنوب لاره ونیوه؛ دریېیم یې لمرخاته ته ځان ورساوه؛ او څلورم یې لمرلوېده ته ولاړ؛ پنځم تار یې زه شــوم. څلــورو نــورو تــارونو لاســونه سره ورکړل او تر ما په چورلېدو شول. د تــارونو شــین، زېــړ، ســور، نسواري رنگونه په چورلېدو چورلېدو کې سره گډ شول او بیا زما غوندې بې رنگه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړ مخکې چې موږ ګډېدلو، له ځانه تاوېدلو. د چورلېدو محور مو خپل ځان و. ښايي همدا وجه به وه چې په هر چا کې مــې ځــان ليده او ځان مې په هر چا کې لېده.

په ليکه کې تر ما وړاندې دوو ولاړو کسانو پــه خــورا ټيــټ غــږ خبرې کولې خو زما غوږونه تېز وو.

يوه يې ويل: بېګا مې د بې ځايه تقليد حکايت ولوست. سخت مــې ورته وخندل. تا به نه وي لوستی؟

څنګ ته يې ولاړ کس سر وړقاوه.

هغه وويل: نو غوږ شه ورته. يوه سوداګر په کــاروان سرای کــې واړول. خره يې په غوجله کې وتړله او پخپله په کوټه کې دمه شو. څو تنه غله ورپسې وو. ساعت نيم پس د سوداګر کوټې ته ورغلل او څه خواړه ماړه يې هم ورسره يوړل. تر خوراک وروسته، يو غل پاڅېد او په نڅا شو. سندره يې بلله چې «خره مې ولاړه، خره مــې ولاړه، خره مې ولاړه» بل هم ورسره ملګری شو، دريم هم پاڅېــد. څلورم غل غلی له کوټې ووت. د غلو شور او مستۍ پــر ســوداګر هم اثر وکړ. دی هم پاڅېد او له غلو سره مل شو. ټولــو پــه يــوه خوله ويل چې «خره مې ولاړه، خره مــې ولاړه، خــره مــې ولاړه». څلورم غل خره په مخه کړه او له کاروان سرای نه يــې وايســتله. سهار چې سوداګر له کاروان سرايه وته، ګــوري چــې خــره يــې نشته. چوکيدار يې راټينګ کړ چې خره مې څه شوه. هغــه ورتــه وويل چې خره دې ملګري بوتله او ما ته يې وويل چې تــا ورتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه کړې ده. زه درغلم چې درنه پوښتنه وکړم خـو ومـې لیـدل چې ته پخپله ګډېږې او وایې چې «خره مې ولاړه، خره مـې ولاړه، خره مې ولاړه» نو ما فکر وکړ چې تا پخپله اجـازه ورکـړې ده او هغه سړی رښتیا وایي.

بل ورو ورو وخندل. ما ته هم خندا راغله.

هغه کس چې دا کیسه یې کوله، وویل: رښتیا چې په ړنـو سـترګو تقلید سړی خرابوي.

ځان ته مې فکر شو. زه هم له دې ډلې سره همداسې ګډ شوی وم؛ بې له دې چې وپوهېږم دوی څوک دي، ولې ګـډېږي، څـه پسـې غواړي.

ما هم په ړنو سترګو د دوی پېښې کړې وې. نه، زه خو دوی ځان ته ورجذب کړی وم نو زما ګناه څه وه. د جاذبې قوې ته نو څوک ټینګېدی شي؟

پورته مې وکتل. کتار ختم و. وروستی کس په کې زه یم او مخـې ته مې پیر ولاړ و.

پوښتنه یې وکړه: ته څوک یې؟

بې له دې چې فکر وکړم، له خولې مې ووتل: لاروی.

دواړه لاسونه یې پر ټټر کېښودل. پر ملا داسې کـړوپ شـو لکـه رکوع چې کوي. ویې ویل: په خیر راغلې د زړه سره.

ما هم ملا لیندۍ کړه.

ویې ویل: په څه شي پسې ګرځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم بې اختیاره رانه وویل شول: په حقیقت پسې.

اول حیران شوم چې دا خبره ولې رانه وشوه خو چې لږ فکر مې وکړ، خبره همدا وه. له هماغې شېبې چې د «زه څوک یم؟» پوښتنه مې په سر کې پیدا شوه، د حقیقت په لټه کې وم.

پر شونډو یې نرۍ موسکا تېره شوه، ویې ویل: دا خو آسانه خبره ده. سم د لاسه به ور ورسېږې.

گوته مې د هغو کسانو خوا ته ونیوه چې زه ورسره چورلېدم. هغوی چې له دې سپین ږیري سره روغبړ وکړ، بېرته میدان ته ورغلل او بیا په څرخېدو شول. بیا هم په لیکه کې ودرېدل او په وار سره د پیر مخې ته راغلل، لک بوک شول او بېرته په گډا شول. نو ومې ویل: چې دومره آسانه ده نو دا نور خلک څنگه لا ور رسېدلي نه دي؟

- هغوی یې غواړي نه.
- که حقیقت ته رسېدل نه غواړي نو دلته څه کوي؟
- هغوی د حقیقت یوه ټوټه موندلې ده او گومان کوي چې ټول حقیقت همدا دی ځکه ورته خوښ دي او درگرده گډېږي راگډېږي. نو ته چې غواړې حقیقت کشف کړې، والوځه او څه چې وینې، را ته ویې وایه.

والوتم. په هوا کې مې دوره ووهله. بېرته راکښته شوم. ومې ویل: هر څه عادي وو، د پخوا غوندې. په شنه چمن کې د مختلفو مېوو ونې، د مختلفو مرغانو ډول ډول چغهار، دې خوا ته په میدان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګارنګ خلک له ځانه چورلېږي. پاس شینکی آسمان دی او زرین ځلانده لمر.

ویې ویل: بس نو حقیقت همدا دی خو دا حقیقت نه دی.

له ځان سره مې وویل چې دا نو څنګه کېدای شي چې حقیقت دې همدا وي خو دا حقیقت نه وي.

دی ولې داسې وايي؟

ناڅاپه له هرې خوا نه «ولېګانو» راباندې حمله وکړه. ولې؟ ولې؟ ولې؟ ... هره ولې لکه غشی راباندې لګېده. لکه د ځنګله په منځ کې چې ولاړ یې او د هرې ونې هر ښاخ او هره څانګه غشی وي او درګرده د تا خوا ته ګوزارېږي او ته نه ډال لرې، نه زغرې.

زهیر وم، بېچاره وم. یو عمر مې داسې کارونه کړي وو چې نه پوهېدم ولې یې کوم او اوس دغو ټولو ولېګانو ډلهییز برید راباندې کړی و.

ځان ته مې ویل: اووووف! نو تا ته چا ویل چې بحث وکه. ستا یې له دلیلونو سره څه؟ بې غمه به دې خپل خوب خوراک کاوه، خپلې مزې به دې کولې. ولې دې په لوی لاس د غومبسو ځالې ته لاس ور ووړ. ولې دې ولېګانې را وتورولې؟

زه مخکې او ولېګانې را پسې وې. هرې خوا ته مې چې مخ اړاوه، څو ولېګانې به را ته نېغې ولاړې وې او وار به یې نه راکاوه چې ځکهګانې ورته پیدا کړم. لا به مې یوه ځکه نه وه موندلې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولېګانو بله ټولۍ مې مخې ته راشنه شوه. «ربه! ربه! زمــا ربــه! لېونی شوم په فکرونو.»

همداسې روان وم، سرګردان وم.

یو وخت مې سر پورته کړ. ګورم چې ډلې ډلې خلک سره پنډ دي. ته وا په مېلې راغلي دي. څوک یو ځای څوک بل ځای لکه د مېږو او پسونو رمې سره راټول دي.

ورو ورو تر ټولو نژدې ډلې ته ور روان شوم. ښه ورنژدې شــوم. د دوی مخونه، سترګې او بدنونه مې سهي کړل. اکثرو نرانــو یــې اوږدې سپینېږېرې او اوږدې څڼې لرلې. د ځینو خو برېتونه هم دومره غټ وو چې خولې یې په کې پټې وې.

ښځې یې دنګې نرۍ، ګوړګوتي ویښتان. د هر چــا ســترګې کلــه تورې، کله ځرځې، کله شنې، کله نیلي، او کله بیا د ټولو رنګونــو ګډولې.

هر څوک په خپلو خبرو کې پټ. د هر چا جامې لــه خپلــو خــبرو جوړې وې او د هر چا خبرې په بېل رنګ. د هر چا په څېره کې د دریاب شور او د صحرا خاموشي.

اوس نــو بېخــي ور رســېدلی وم. موســکې څېــرې یــې را تــه را واوښتې.

را ته وویل شول: خدای دې راوله! په خیرونه، پلټونکیه پــه خیــر راشې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبرې په مختلفو رنګونو هوا ته پورته شوې وې. رنګونــه زمــا خوا ته راغلل. د ډېرې نرۍ لیکې غوندې را نه تاو شول. ایله اوس مې ځان ته پام شو چې لوڅ لغړ یم او یوازې د رنــګ ډېــره نــرۍ کړۍ مې د پښو له ښنګرو راچاپېره ده.

ژر مې لاسونه د خپلې تناسلې آلې مخې ته ونیول، خو ګټه یې ونه کړه. ته وا لاسونه مې رڼې ښیښې دي، هر څه ترې ښکارېدل.

را ته وویل شول: موږ ستا بدن ته نه ګورو، ستا فکــر تــه ګــورو. پوهېږې؟ دنیا ته ولاړو لوڅ لغړ وو او دلته چې راغلو هم لــوڅ او لپړ وو. نو د بدن لوڅوالی عیب نه دی. که بدن دې په جامو پټ نه وي، پروا نه کا عیب خو دا دی چې په فکرونو پټ نه وي.

دا خلک څه په ګډو وډو سر وو. حیران دریان مې شا و خــوا تــه کتل.

بیا را ته وویل شول: چورت ورته مه وهه. ورو ورو به پــه خــبرو پټ شې.

زړه مې لږ کرار غوندې شو. د هغوی په خــبرو مــې پــوره یقــین وشو. لاسونه مې مړه پړه د بدن دواړو خواوو ته ایلــه کــړل. خــو حیرانۍ بیا په مخه کړم. دوی څــوک دي؟ دا خــبرې ولــې لیــدل کېږي؟ خبرې ولې رنګونه لري؟ انسان په خپلو خبرو او فکرونــو څنګه پټېږي؟ وایي چې دنیا ته لوڅ تللي وو او دلته هم لوڅ راغلي یو، نو دا کوم ځای دی؟ دا دنیا نه ده؟

یوه رنګ پوښتنه وکړه: ښه، پلټونکیه! ته څوک یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما له خولې نه خبرې ووتې: زه، اشرف المخلوقات یم.

عجیبه وه، زما د خبرې رنګ خوسا و. په هر رنګ خبرې مې هلته لیدې خو خوسا رنګ یوازې زما د خبرو و.

لا عجیبه خو دا چې زما د خبرو انداز هم بدل شوی و. ته وا بل څوک زما بدن ته ننوتلی او غږېږي.

راته وویل شول: دا دعوا په څه کوې چې اشرف الخلوقات یې؟

ومې ویل: په دې چې زه خبرې کولی شم.

- خبرې خو غږونه دي. غږ خو له تیږې څخه هم راوځي. باد، باران، تالنده، او د اوبو څپه، ماتېدل او نړېدل دا ټول غږونه نه دي؟ نو، ستا د خبرو تر غږونو خو نور زورور غږونه هم شته.

ومې ویل: هغه غږونه به زورور وي، خو بې معنا دي.

- ولې به بې معنا وي؟ د لوښي د ماتېدو غږ دا معنا نه لري چې نور ور نه کار نه شې اخیستلی؟ د تالندې غږ نه وايي چې زه او برېښنا سره ملګرې یو؟ د باران غږ د تکرار او تناوب معنا نه لري؟ په سیند کې د اوبو شرهار در ته نه وايي چې ځم، ځم، ځم؟

ومې ویل: امممم، ما دې شیانو ته فکر نه و کړی. ګومان کوم اوس پوه شوم چې تاسې ولې پټ یئ او زه ولې لغړ یم.

د نرۍ موسکا رنګ هوا ته پورته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل: ګورئ! زه اشرف المخلوقات په دې یم چې فکـر کـولی شم.

- ډېر ښه! او د فکر نښې نښانې او د فکر نتیجه دې؟

ومې ویل: زه چې هر کار کوم، د یوه فکر نتیجه ده.

- دا منې چې فکرونه هلـه ارزښـتمن وي چـې نتیجـه یـې ارزښتنمه وي؟

ومې ویل: بالکل، منم یې.

- ارزښتمن کوم کارونه دي؟

لږ سوچ مې وکړ، بیا مې وویل: هغه کارونه چې ګټور وي.

- ډېر ښه! اوس به راشو دې ته چې ستا کارونه ډېر ګټـور دي که د ونې.

دې پر له پسې پوښتنو داسې ور خپل کړی وم چې نور خوندونـه یې یو مخ را نه هېر کړي وو. حیران وم چې ولې مې پخوا پـه دې خبرو فکر نه و کړی. سره له دې چې زما هر ځـواب بـه غلـط را وخوت، خو بیا هم پوښتنو او پر پوښتنو فکر کولو خوند راکاوه.

د ونې پر کارونو مـې غـور وکـړ. پـه تشـو تـورو خـاورو کـې زرغونېږي او رنګارنګې مېوې کوي. ونې د ډېـرو مرغـانو ځـالې دي، د مچیو او چینجیو ګوزاره پرې کېږي، لرګي یې خپل کمالونه لري، پاڼې یې خپل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوولس کلن ماشوم غږ مې واورېد: «نباتات هغه موجـودات دي چې زموږ فاضله مواد په مېوو بدلوي. موږ خپل فاضـله مـواد د ونو بېخ ته اچوو او دوی ورنه مېوې جوړوي.»

ومې ویل: رښتیا چې د ونې کارونه ډېر ګټـور دي، خـو ونـې دا کارونه په خپل اختیار نه کوي. ونه فکر نه کوي چې زه بایـد دا رنګه مېوه ونیسم، داسې پاڼې وټوکوم، داسې څانګې او ښـاخونه وکړم.

- نو ونې د چا په اراده کار کوي؟ څوک ورتـه وایـي چـې داسې وکړه، هسې وکړه؟ ونې د چا په فکر عمل کوي؟

ومې ویل: معلومداره خبره ده چـې د خـدای پـه امـر او اراده دا کارونه کوي.

د رضایت د موسکا رنګ مې ولید چې د ټولي له پاسه کړۍ کـړۍ هوا ته پورته کېږي او لکه ورېځ، لکه لوګی ورو ورو زما خوا تـه راځي او بیا پر ما را کوزېږي، نرۍ لیکې را نه ګرځوي او د پښـو خوا ته مې خوځېږي.

را ته وویل شول: ګوره پلټونکیـه! دا خـبره بـه دې نـه هېـروې. وروسته به مو په کار شي. اوس بل دلیل وایه چې ولې فکر کوې چې اشرف المخلوقات یې.

فکر مې وکړ. بیا مې وویل: په دې چې زه په ډېر ښـه ډول جـوړ شوی یم. ښایسته یم. زه تر هر موجود زیات کامل یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښه خبره ده، خو دا هم واوره! ستا تر نظر د شاهین او د ګوربت نظر خورا تېز دی. ډولفین او ماښام ځکالۍ داسې غږونه اوري چې ته يې نه شې اورېدلی. تا کله د مېږيو او موږکانو غږ اورېدلی؟ لېوه او سپي په بويولو کې تر تا سل وارې تکړه نه دي؟ ان میکروبونه وګوره، ځينې میکروبونه بې له هوا پايي، ځينې يې په ډېرو سړو اوبو کې ژوند کوي چې ته په کې يوه شېبه طاقت نه شې کولی. د شاتو مچۍ تر تا ډېرې منظمې دي. ډېر ژوي د ځان په خوندي ساتلو تر تا ښه پوهېږي. او پاتې شوه د ښايست خبره، ښايست خو په هر څه کې شته.

دغه ټول شيان چې دوی ياد کړل، زما سترګو ته ودرېدل. هر يو يې په موسکه خوله راکتل، ګوندې را ته وايي چې څنګه شوې؟

بل فکر مې ذهن ته راغی، ومې ويل: دا خبرې سمې دي، خو زه عقل لرم او دوی عقل نه لري.

- ښه خبره ده. راځه چې په دې باندې سره پوه شو چې عقل دی څه شی.

ومې ويل: عقل د ښه او بد توپير کول دي. عقل سم او ناسم بېلوي او سمه لاره را ته ښيي.

- ښه څه شی دی؟

ومې ويل: ښه، ښه دی کنه. ښه هغه شی دی چې ګټور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو جامونه پورته ونیول. د هر چا جام ته د هغه د خبرو په رنګ شراب ورتوی شول. ته وا د هر چا له پاسه د شرابو جلا جلا داسې نلونه دي چې کله جامونه ورته ونیول شي، دوی اټوماټ خلاصیږي.

زه هم تږی شوم. سخت تږی شوم. تنده مې وار په وار سره زیاتېده. ومې ویل: زه یې هم غواړم.

یو جام په لاس کې راکړل شو. سپک و. تش را ته واېسېده. منځ ته مې یې ور وکتل. د جام په تل کې د څاڅکي هومره شراب پراته وو. د جام شونډه مې پر شونډې کېښوده. نسکور مې کړ. څاڅکی ورو ورو را روان شو. ښه ځنډ وروسته مې خولې ته راولوېد. خو ته وا د اور څاڅکی و. تنده یې لس نه، سل نه، زر ځله را زیاته کړه.

نورو ځوابونو ته مې فکر وکړ. پام مې شو چې هر څومره چې فکر کوم، هماغومره مې تنده لا پسې زیاتیږي خو په عذابوي مې نه، بلکې لا زیات خوند راکوي. تندې داسې خوند راکاوه لکه د تندې ماتول.

را ته وویل شول: که د عقل کار د ګټې او زیان توپیرول وي، نو هغه چا چې تا ته یې عقل درکړی، مطلب یې څه و؟ مطلب یې همدا نه و چې د ګټې کارونه دې زیات وي، بلکې ټول کارونه دې ګټور کارونه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل: همداسې ده. خدای عقل د همدې لپاره راکړی دی چې ځان او نورو ته ګټه ورسوم.

- ډېر ښه. نو د خدای منظور «ښه» یعني «ګټه رسول» دي نو په دې حساب خو ونې د خدای امر تر تا ښه ترسره کوي ځکه چې ټول کارونه یې د ګټې دي. خو ته چې ځان اشرف المخلوقات بولې، ځان عقلمن او د ارادې څښتن بولې، ستا څومره کارونه ګټور دي؟

لا مې ځواب ته ځان نه و جوړ کړی چې را ته وویل شول: ولې ستا ټول کارونه د ګټې نه دي؟ بلکې ډېر کارونه دې تاواني دي. ته هم ځان ته تاوان رسوې او هم نورو ته. دا ولې؟

ومې ویل: دا په دې چې زه خورا لوی دښمن لرم، شیطان. شیطان له ما نه لاره غلطوي. شیطان مې وسوسه کوي چې په غلطه لاره لاړ شم.

دا ځل د موسکا پر ځای د شرنګېدلې خندا رنګ هوا ته پورته شوه. دې رنګ وویل: پوهېږې؟ ما ته دې د کبې او مونوک کیسه را یاده کړه. د زلکیو او پېغلوټو لپاره دې کیسه کې یو زلکی ځیرک نومېږي.

د ځیرک غږ مې تر غوږو شو چې ویل یې: زه به خپله کیسه پخپله درته ووایم. یوه ورځ په مکتب کې استاد وویل چې انسان تر ټولو مخلوقاتو غوره دی، اشرف المخلوقات دی. استاد ویل چې انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه غوره دی چې عقل لري او خدای پاک یوازې انسان ته عقل ورکړی دی او انسان یې خپل خلیفه ټاکلی دی.

ما ورته وویل چې استاده! که انسان عقلمن دی، نو ولې یو بل وژني. هره ورځ جګړه وي، چاودنې وي، بمونه وي، مرمۍ وي چې انسانان وژني. څوک چې عقل لري، نو همداسې کوي؟

بیا استاد وویل چې دا خو د شیطان کار دی، شیطان انسان غولوي.

ما له استاد نه پوښتنه وکړه چې که انسان عقل لري، نو بیا ولې د شیطان مني؟

استاد وویل: شیطان زورور دی، خورا چالاک دی، انسان خطا باسي.

ما بیا وپوښتل: شیطان زورور دی، که خدای؟

استاد ځواب راکړ: دا نو پوښتنه ده چې ته یې کوې؟ ته نه پوهېږې چې خدای هر څه کولی شي او تر هر چا بر دی؟

ما وویل: استاده! دا خو منم. پوهېږم چې خدای پاک هر څه کولی شي. خو انسان چې د خدای خلیفه دی، ولې د شیطان مني؟ څوک چې د شیطان مني، هغه به د شیطان خلیفه وي، که د خدای؟

زما ټولګیوالو کټ کټ وخندل. د استاد تندی تریو شو. مېز یې په سوک وډباوه. ټولګیوال مو غلي شول. استاد زه له غوږه ونیولم. په څټ یې په څپېړه ووهلم. له صنفه یې وشړلم او را ته ویې ویل چې ځه د شیطان بچیه! ستا پلار به د شیطان خلیفه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځیرک کیسه خلاصه شوه. یو ځل بیا د خندا رنګ د ټولي له پاسه په هوا کې را ښکاره شو.

بیا را ته وویل شول: ښه نو، د ونې خبره به بیا را واخلو. شیطان که زر وارې ونې ته ووایي چې مېوه مه کوه، ونه یې خبره نه مني. خو ته که یوه د خدای ومنې، لس د شیطان منې. ونې ته خدای په ازل کې ویلي دي چې دومره وده به کوې، دومره به جګېږې، دومره ځانګې او پاڼې به کوې، په دې وخت کې به غوټۍ کوې، په دې وخت کې به مېوه کوې، مېوه به دې په دې وخت کې پخوې، په مني کې به دې پاڼې تویوې او په پسرلي کې به یې بېرته ټوکوې. ونې د خدای هر امر هو بهو ترسره کوي، خو ته چې د خدای خلیفه یې، اشرف المخلوقات یې، ته داسې نه کوې. اوس ته ګرم یې که شیطان؟

سر مې ټېر ته را ټیټ شو. په زړه کې مې ځان ته وویل چې ستا یې له دې خبرو سره څه. بې غمه به دې عیشونه کول، هسې دې ځان په دې لانجمن بحث اخته کړ.

چې څنګه مې سر پورته کړ، هغه ټولی بېخي ورک و. د هغوی پر ځای ونې ولاړې وې. هېرې ونې، بېخي هېرې ونې. هر رنګه ونې. د انارو، د مڼو، د ناک، د توتانو، د مندتو، د خټکیو، د هندوانو، د هرې مېوې ونې. د مېوې د هرې ونې په څنګ کې یوه بې مېوې ونه ولاړه. داسې راته واېسېده چې د هغه ټولي ښځې د مېوو په ونو اوښتې وې او نران یې په چنار، نښتر، او ولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې نو څه معنا؟ نو دا ټولې ونې وې چې تر اوسه پورې یــې را سره خبرې کولې؟ دوی د ونو د ګټې خبرې په همدې وجه کــولې چې پخپله ونې وې؟

ګنګس وم. سر مې نه خلاصېده چې څه کیسه ده. خو هغوی کـه ونې وې، که انسانان، خبرې خو یې سمې وې. د انار ونې ته مــې لاس ونیو، خو نه یې څانګه را ټیټه شوه او نه یې انار په لاس کــې را ولوېد. لاس مې پسې ور اوږد کړ، خو څانګه پورته وه. ورغلــم چې ور وخېژم.

په کوچنیوالي کې به هر وخت ونو ته ختلم. ونو ته ختل را ته هېڅ هم نه وو. زموږ کور ته نژدې پټي وو او د پټیــو پــه مــنځ کــې د ویالې په غاړه د توت ونې. د توت د ونې له پاسه د لاندې ځمکــې نندارې به ډېر خوند راکاوه.

یو مازدیګر مور را ته په څه خــبره پــه غوســه وه. جــارو یــې را واخیسته چې ومې وهي. په یوه منډه ترې وتښــتېدم او ونـــې تــه پورته شوم. څو پورې چې دا د سرای له دروازې را وتلــه، زه پــه ونه کې ناست وم. هغې به فکر کړی و چې د دېواله شا ته پټ یم، سوکه سوکه د دېوال کونج ته ورغله، جارو یې تیار پورته نیولی و چې ځنګه له هغې خوا راشم، وار را باندې وکړي. ما به لــه پاســه ورته کتل او پټ پټ به مې خندل.

په هغه ورځ کور ته نه ولاړم. د ماښام اذان وشو. پلار او تره مــې راپسې ګرځېدل او ما ځان غلی کړی و. تیاره شوه. وډارېدم. ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ښکته شوم. په دې وخت کې مې پلار لاټين په لاس تــر ونــې لاندې تېرېده چې ما د ونې له آخرې څانگې نه ځان خطا کړ. درب پر ځمکه ولوېدم. پلار مې چيغه کړه: وی! وی!

او دې سره په منډو شو. لا يــې دوه گامــه نــه وو اخيســتي چــې وغورځېد. لاټين يې له لاسه په وياله کې ولوېد. سخته خندا راغلې وه خو له ډاره مې ونه خندل. غږ مې وکړ: آغا! مه ډارېږه، زه يم.

دا چې نور څه وشول، تاسې به پخپله پوهېږئ.

خو د دې انار ونې ته ختل هغسې آسانه نه وو. پښې مې له ځمکې نه بېلېدې. پښې مې داسې درنې وې لکه د اوړو بــوجۍ چــې دې ورپورې تړلې وي يا لکه په ځمکې پورې چې مېخ شوې وي. پــه ډېر تکليف د ونې هغې ټيټې څانگې ته وختم. انار مې را وشکاوه. له څانگې نه مې په يوه لاس ځان راځوړند کړ او بيا مې لاس ايلــه کړ. څانگه ډېره لوړه نه وه خو داسې کلک پر ځمکې ولگېدم چــې ته وا د دوهم چت له بامه رالوېدلی يم.

انار مې مات کړ. دانې يې داسې کلکې ورپورې نښتې وې چې ته وا چا په ايلفي سرېښ نښلولې وي.

ډېر زورونه مې ووهل، ايله چې يوه دانه ترې بېله شوه. دانه مــې خولې ته واچوله. خوله مې پرې ډکه شوه. چې هــر څــه بــه مــې ژدويله، نه خلاصېده. ډېر ځنډ وروسته مې له ستونې تېره شــوه، خو معدې ته نه، داسې را ته ابېسېدل چې سر ته مــې خېــژي. لــږ وروسته مې وليدل چې په ماغزو کې مې د برېښنا غونــدې تېــزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا پړکېږي او چټکه له یوه ځایه بل ځای ته ځي، له بله بل ځای ته. ټول وجود مې له پوښتنو ډک شو. بې شمېره پوښتنې. داسې پوښتنې چې هېڅ کله مې یې په اړه فکر نه و کړی.

پوښتنو ځوابونه غوښتل او ځوابونو سفرونه. رهي شوم. ګورم چې تر زنګانه پورې په رنګونو کې پټ یم. د فکرونو، د پوښتنو، د خبرو په رنګونو.

روان وم خو نه پوهېدم چې په کوم لوري ځم او ولې ځم. له پوښتنو داسې ډک وم لکه شپه چې په ستورو ډکه وي. لکه د هر ستوري پړکا چې دې د ځان لیدو ته وربولي، همدغسې هرې پوښتنې به هڅه کوله چې زما پام ورخپل کړي. د پوښتنو تر منځ سیالي وه. بالاخره یوې پوښتنې تر نورو ځان را نږدې کړ: د خلقت راز. کاینات ولې هست شوي دي؟

د دې ځواب مې په ذهن کې تیار و: زموږ لپاره. موږ پر ځمکه د خدای خلیفه یو، نو هر څه ځکه پیدا شوي دي چې زموږ په خدمت کې وي.

یوه شرنګېدلې خندا نه، بلکې د شرنګېدلو خنداګانو ټولۍ په هوا کې وپړکېده. لکه تنبور، رباب، ستار، دوتار، ګیتار، ویولن او غیچک چې په ګډه سره وخاندي.

په دې خنداګانو کې یوه خبره نغښتې وه: «دوه شیان حد نه لري: کاینات او د انسان حماقت او زه مطمین نه یم چې دا خبره دې د کایناتو په اړه سمه وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

جالبه وه. لکه چې د دوی د بحث موضوع هم هماغه زما پوښــتنه وه.

ورنژدې شوم. یوه کړۍ نوراني کســان چــې د یــوې دایــرې پــه شاوخوا کې ناست وو، پاڅېدل. ټولو زما خــوا تــه مــخ واړاوه او تعظیم یې را ته وکړ. دا خلک را ته ډېر پــوه، ډېــر نــامي ښــکاره شول. داسې را ته ایسېده چې هر یو تر سلو، تر زرو، تــر لکونــو پادشاهانو ډېر مهم دی. چې دومره لوی او مهم خلک دي نو ما ته یې تعظیم څنګه وکړ؟

یوه یې وویل: ځکه چې ته پلټونکی یې. ته د پوښتنو په ځوابونــو پسې را وتلی یې او هر څوک چې لټه کوي، موږ د هغــه درنــاوی کوو. هر څوک چې تیار ځوابونه نه غواړي، بلکې غواړي هر شــی تجربه کړي او ویې ازمایي، یا یې د خپل فکر په زور پیــدا کــړي، هغه د احترام وي. زه ابو ریحان بیروني یم.

دا یې بل عجیب کار! دوی زما فکر لوستلی شو.

بل یې وویل: ته پوهېږې چې بیروني ستا وطندار دی او په غزني کې ښخ دی؟

ومې ویل: هلته خو ډېر اولیا ښخ دي، خو د ده نــوم مــې لا نــه و اورېدلی.

نرۍ خندا او بیا: جالبه ده! دی د منځنیو پېړیو د نــړۍ تــر ټولــو لوی عالم و. ده د ځمکې د محیط او شــعاع انــدازه ډېــره دقیقــه معلومه کړې وه، په هاغه وخت کې چې وسایل او امکانات هم نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. یوه جالبه کیسه به یې زه درته وکړم. البیروني به ویــل چــې علم له تجربې پرته علم نه دی. یوه ورځ د سلطان محمود غزنوي په دربار کې د شیخ عبدالرحمن په نوم یوه عالم پاچا ته وویل چې که انسان یا حیوان د الماس یوه وړه ټوټه هم تېره کړي، ځای پــر ځای مړ کېږي او د زمردو رنګ د مار ســترګې ړنــدوي. خــو ابــو ریحان دا خبره نه مني.

سلطان محمود پاچا بیروني ته مخ واړاوه چې څنګه چل دی؟

بیروني وویل: خبره آسانه ده. تجربه به یې کړو. یو ســپی او یــو مار راولئ. ده د الماس یوه ټوټه په غوښه کې ونغښته او په ســپي یې وخوړه او د پادشاه د زمردو ګوته یې د مار مخې تــه ونیولــه. پوره انتظار یې ورته وکړ خو نه سپی مړ شو او نه مار ړوند شو. پاچا شیخ عبدالرحمن ته غوسه شو.

خو هغه عذر وکړ او ویې ویل چــې مــا دا خــبره د پخوانیــو پــه کتابونو کې لوستې وه او فکر مې کاوه چې سمه به وي.

د کیسې په اوربېدو سره چورت را ولوېد چــې مــا پخپلــه څــومره ډېرې خبرې په پټو سترګو منلې دي.

بدل شوی وم. پخوا دا خبرې هېڅ را ته مهمې نــه وې، خــو اوس دې بحثونو داسې خوند راکاوه لکه له ښاپیرۍ سره نزدېکت.

هغه کسان چې هلته را ټول وو، داسې پوهان وو چې ټــولې دنیــا پېژندل، خو ما یې لا نومونه هم نه وو اورېــدلي. ســوکرات، عمــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیام، ابن سینا، نیوټن، اډیسن، آینشتاین، سټیفن هاوکینګ، نیل ټایسن او ډېر نور.

ما وویل: خو ځینې پوښتنې په تجربې نه ځوابېږي.

- مثلاً؟

- مثلاً همدا پوښتنه چې ورپسې ګرځم. کاینات د څه لپاره خلق شوي دي؟ د دې ځواب خو ښکاره ده چې د انسان د خدمت لپاره پیدا شوي دي نو دا خو په تجربه نه ځوابېږي.

هاوکینګ وویل: او ته همداسې فکر کوې؟

ما وویل: هو.

هغه وویل: راځه چې اول وګورو چې ستا ځواب سم دی که نه. راځه چې زه او ته له ټایسن سره یو چکر ووهو.

ټایسن په نریو برېټونو کې موسکی شو. درې واړه د هاوکینګ پر ویلچییر سپاره شوو. هاوکینګ پر ویلچییر ناست و، زه او ټایسن د ویلچییر پر پېډلونو ودرېدو. ویلچییر د سترګو په رپ کې په هوا شو.

عجیبه شیان مې ولیدل. ما یوازې یو لمر پېژانده، خو په دې سفر کې پوهېږئ چې څو لمرونه مې ولیدل؟ سل نه، زر نه، لک نه، دومره ډېر لمرونه مې ولیدل چې څوک یې په حساب پسې نه رسېږي. داسې به یې درته ووایم چې که څوک یو لک اوښان درته ودروي چې د ټولو ویښتان یو په یو وشمېره، دا کار به وکړای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شئ؟ یا که دې سمندر ته کېنوې چې یو یو ځاځکی یې را واخلــه او دې خوا ته یې واچوه او حساب ورته وکړه چــې څــو ځــاځکي کېږي، نو دا به دې په وس پوره وي؟ لمرونه تر دې هــم ډېــر وو. ځینې لمرونه زموږ تر لمر په کراتو لوی، په کراتو روښانه، په کراتو سره. تر هر لمر ګڼې سیارې چورلېدې.

او زموږ ځمکه څومره وه؟

داسې وګڼه چې د ځمکې سمه او غر، وچه او اوبه ټــول پــه ونــو پوښلي دي او هره ونه لک لک پاڼې لري؛ دا کاینات وګڼــه. زمــوږ ځمکه په کې د یوې پاڼې یوه نقطه ده. لا به تر دې هم کمــه وي، خو زه یې د قیاس لپاره بل مثال نه شم پیدا کولی.

همدومره پراخ کاینات مو په څو شېبو کې ګز او پل کړل. ټایســن او هاوکینګ د کاینات د هرې برخې په باره کې داســې معلومــات راکول چې ته وا خپل کور یې دی او هر ځای بــه یــې پــه کراتــو لیدلی وي.

داسې لمرونه مو ولیدل چې نــوي زېږېــدلي وو او لکــه نــوزېږی ماشوم چې ډېر کم او ورو ورو لاس او پښې خوځوي، هغوی هم کله په یوه خوا کله په بله خوا کې تتې لمبې کولې.

داسې لمرونه مې ولیدل چې خاپوړې یې کولې، ورو ورو خوځېدل او څرخېدل او لمبه او رڼا یې هم همداسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې لمرونه بيا چست و چابک لکه زلمکي ماشــومان پــه غورځــو پرځو، تېزې لمبې، چټک خوځښت، او لکه تکــړه ښــکلې اتڼچيــانې چې د ډول درز ته د بوړبوکۍ غوندې چورلېږي.

ځينې نور لمرونه داسې وو لکه بوډا چې په لوړه وخېژي او ستمې يې وشي. د دې لمرونو له تتو لمبو نه د زګېروي ورږم راته.

ځينې لمرونه بيا لکه مرګي حاله بوډا چې د ځنکدن په وخــت کــې ډېره شېبه وروسته يوه ساه وباسي او بيا مړ پړ پروت وي.

داسې سيارې مې وليدې چې يــو مــخ لــه کنګلــو جــوړې وې، د سکروټې غوندې سرې سيارې، د ځمکې په شان شنې سيارې چې سيندونه او سمندرونه په کې وو. داسې منظــومې چــې دوه درې لمرونه په کې وو او سيارې به يې پــه وار سره تــر دواړو يــا درې واړو لمرونو څرخېدې.

چې بېرته راغلو او د پوهانو کړۍ ته ورننوتو شوو، له پاســه مــې وليدل چې هغه دايره چې دا پوهان ترې چاپېر وو، ټــول کاينــات هماغه دايره وو. وبه يې منئ؟

آينشتاين وويل: سفر دې څنګه و؟

ومې ويل: فکر يې را بدل کړ. که هر څه زموږ لپــاره پيــدا شــوي واى، نو يوازې يوه ځمکه، يوه سپوږمۍ او يو لمــر بــه بــس و. دا دومره ارت و بېرت کاينات چې د ځمکې او لمر غوندې لکونه لکونه لکونه لکونه سيارې او لمرونه په کې دي، د څه لپــاره؟ د هــر څــه لپاره به وي خو د انسان لپاره نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرونو يوه ټولي وويل: خو موږ فکر کوو چې لا په ډېرو شيانو نه پوهېږو. سړی څه خبر، کېدی شي دا ټول کاينــات لــه ځمکــې سره رابطه ولري. کېدی شي د دې لپــاره چــې ځمکــه د اوســېدو شي، دغه بې شمېره ستوري، لمرونه او سيارې په کار وي. کېــدی شي يو وخت ځمکه نور د ژونــد کولــو لپــاره مناســبه نــه وي او انسان بلې سيارې ته کډه شي، له بلې بلې ته، او همداســې ډېــرو نورو سيارو ته خپاره شي. کېدی شي د انسان نسل دومــره ډېــر شي چې په ځمکه کې نور ځای نه شي او بيا نورو سيارو تــه لاړ شي. کېدی شي داسې رازونه پــه کــې وي چــې مــوږ هــېڅ کلــه ورباندې فکر نه وي کړی. نو موږ همدومره ويلی شو چې په دې نه پوهېږو چې دا خورا ستر کاينات د څه لپاره جوړ شوي دي.

سوکرات وويل: بله به وکړو. نور کاينات به پرېږدو، د ځمکــې پــه اړه به څه ووايې، ځمکه د انسان لپاره پيدا ده؟

ومې ويل: خود. ځمکه خو خاص د انسان لپاره جوړه شوې ده.

ويې ويل: ډېر ښه. په دې پوهېږې چې انسان کله پيــدا شــو او د ځمکې عمر څومره دی؟

غلی وم.

ابو ريحان ته يې اشاره وکړه او ويې ويل: دی په محاسبو کې ډېر تکړه دی.

ابو ريحان وويل: زموږ تر زمانې زر کاله وروسته ساينسپوهانو د هر شي د عمر د اندازه کولو دقيق وسايل پيدا کړل. هاغــه مهــال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه څه باندې څلورنيم ميلیارډ کلنه وه او د انسان د پیدایښــت ټول ټال دوه میلیونه کاله کېدل. څلورنيم ميلیارډ ډېر لوی عدد دی خو که د ځمکې عمر يو کال وګڼو، انسان د دې کال په وروســتۍ ورځ، په وروستي ساعت، په وروستۍ دقيقه کې پيــدا شــوی دی. اوس نو فکر ورته وکړه چې توپير يې څومره زيات دی.

سوکرات وويل: له دې خبرې څه نتيجه اخلې؟ کــه دا خــبره هــم ورسره يو ځای کړو چې ډېر نور ژوي تر انسان مخکې پيدا شوي او ختم شوي دي. تر انسان شپيته ميليونه کاله مخکې ډایناسوران او ډېر نور ژوي اوسېدل.

حيرت اخيستی وم. نه پوهېدم چې څه ووايم. فکر مې وکــړ چــې که ځمکه د انسان لپاره پيدا وای، نو د انسان له پيدا کېدو سره هم مهاله يا لږ وړاندې بايد پيدا شوې وای. موږ فکر کوو چــې ټــول حيوانات او ونې بوټي، حشرات او هر څــه چــې دي زمــوږ لپــاره هست شوي دي. دا خو به ومنو خو هغه حيوانات چــې تــر مــوږ مخکې وو او اوس نشته او د هغوی هېڅ اثر په موږ باندې نشــته نو دا څنګه وبولو؟

آينشتاين وويل: بله واوره! که فرضاً پــه بلــه ســياره کــې داســې ژوندي ساري ووينې چې تر تا هوښيار، تر تا ښه او تر تــا ګټــور وي، نو بيا به څه ووايې؟ ابن سينا! ته څنګه موسک شوې؟

ابن سينا وويل: حی ابن يحيان مې را ياد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آینشتاینوویل: واه! واقعاً چې ډېره په زړه پورې کیسه دې لیکلې وه. تخیل دې عالي دی او ما هر وخت ویلي دي چې تخیل تر پوهې زیات مهم دی.

ابن سینا وویل: همداسې ده. ستا هره خبره د کاڼي کرښه ده. ښه نو، پلټونکیه! نه غواړې چې دا ځل زه یو چکر درکړم؟

ومې ویل: ولې نه!

د ابن سینا له دواړو ډېو وزرې راووتې، د بودۍ ټال غونډې رنګونه یې وو خو خورا زیات رنګونه، لس نه، سل نه، زر رنګه رنګونه.

زه یې تر لاس ونیولم او دواړه په هوا شوو.

ما یې د وزرو پوښتنه وکړه.

ویې ویل چې ښی وزر یې د تخیل دی او چپ وزر یې د تفکر.

خورا ډېر مزل مو وکړ.

بیا یوې بلې سیارې ته ورسېدو.

خورا شنه، خورا سمسوره، خورا ښکلې. په هوا کې یې د ونو بوټو د ګلانو خوشبویي ګډه وه. هلته ساه اخیستل داسې خوندور و لکه د شهوت په اوج کې چې دې پوزه له حمامه راوتلې مستې محبوبې پر اوږه وي او له هر ځل ساه اخیستلو سره د هغې د زلفو خوشبویي دې سږو ته ننوځي او په ټول بدن کې دې خپرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ورنژدې شوو، ومې لیدل چې زرگونه خورا لوی لوی نا آشــنا حیوانات لکه عسکر په منظمو لیکو کــې ولاړ دي. هــر یــو یــې د غونډۍ هومره لوی او پر هر یو یې یو وړوکی خوځېدونکی شــی سپور و.

چې لا نور هم ورنژدې شوو، ومې لیدل چې هغه وړوکي شــیان د بنيآدمانو غوندې وو خو تر موږ درې چنده غټ.

د ابن سینا یوه وزر را ته وویل: دا غټ غټ ژوي چې وینې، د دې سیارې ډایناسوران دي.

سیالي شروع شوه. ټولو ډایناسورانو منډې پیل کړې. داسې چټک ځغستل چې په همدومره وخت کې چې تــا دغــه جملــه ولوســته، هغوی د سیارې چارچاپېره دوره ووهله.

ته به وایې چې سیاره به یې وړوکې وه.

نه، تر ځمکې لویه وه، ډېره لویه.

دوی ته غر او سمه، وچه او اوبه، لوړه او ژوره، دښته او ځنگل یو شان وو.

درې ډایناسوران تر نورو لږ وړاندې را ورسېدل. سپاره کسان یې له شا څخه را ټوپ کړل، شور او مستي یې وکړه، یو بــل تــه یــې غېږه ورکړه او خپل ډایناسوران یې ونازول.

په سر مې څه شی ولگېد. پاس مې وکتل. د ونې په څانگه کې یوه عجیبه مېوه ځړېدله. زمــوږ مېــوې معمــولاً گــردې وي خــو دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صندوق غوندې مکعبي وه او رنګ يې شېبه په شېبه بدلېده رابدلېده. لاس مې ور ووړ چې ويې شکوم.

ځانګې ځان را نه لرې کړ.

يوه غړ وويل: نه، نه، نه! چا ته بايد زيان ونه رسوو.

د غړ لوري ته مې وکتل. هماغه کس و چې ډايناسور يې تر نورو وړاندې رسېدلی و.

ما وويل: مېوه خو وي د خوراک لپاره.

ويې ويل: ستاسې په سياره کې به همداسې وي، خو دلته نه. موږ هېڅ ژوندي ساری نه خورو او هېچا ته زيان نه رسوو. ابن سينا آشنا! همداسې نه ده.

ابن سينا موسکی شو، را ويې کتل او ويې ويل: رښتيا وايي.

پوښتنه مې وکړه: نو تاسې څه شی خورئ؟ په څه شي پايئ؟

هغه يوه ګوته جګه کړه، لکه شاګرد چې په صنف کې د اجازې اخيستلو لپاره ګوته جګوي، په ګوته يې پورته خوا اشاره وکړه.

پورته مې وکتل. رنګارنګې کرې په هوا کې تاوېدې، وړې، لويې، بېخي لويې، شنې، زېړې، نارنجي، سرې، ګلابي او د زرګونو نورو رنګونو کرې. دغه کرې د همدې کس له سر څخه وتلې او په هوا کې خپرېدلې.

په خندا يې وويل: څنګه حيران شوې؟ حيرانېږه مه! دا فکرونه دي. دلته د هر چا خوراک فکر دی. موږ پنځان يو. موږ فکر توليدوو او د دې سيارې هر ژوی، هر بوټی فکرونه خوري. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيالي چې اوس وشوه، د همدې لپاره وه. هــر پنځــان چــې ډېــر فکرونه او ښه فکرونه په سر کې ولري، تر نــورو چټــک وي او د سيارې دوره ژر وهي. دا ځل موږ وګټله او دغه فکرونه چې ته يې وينې، موږ درې واړه پنځان يې په ګډه توليدوو.

ومې پوښتل: پنځان؟

موسک شو. ويې ويل: ته انسان، زه پنځان يعنې د پنځولو والا.

د پنځان غړ داسې پوست و لکه زما هغه ورېښمنې جــامې چــې د کيسې په سر کې مې په تن وې. د پنځان فکرونه هم دغسې پاسته ماسته وو خو ما نه شواى خوړلى.

ما چې د ابن سينا د تفکر وزر ته وکتــل، رنګونــه يــې کــټ مــټ همداسې وو لکه د پنځان د فکرونو رنګونه.

په ټوله سياره کې جشن و. ونو، بوټو، ډايناسورانو او نــورو ژوو فکرونه خوړل او ورو ورو نځېدل.

زه چورت يووړم چې موږ انسانان هر څه د ځان لپاره استعمالوو، بوټي خورو، د ونو مېوې خورو، څاروي حلالــوو، کبــان نيســو، وحشي ژوي ښکار کوو، د مختلفو حيواناتو غوښې خورو، ونې د خپل کور د کړکۍ او دړې د جوړولو لپاره پرې کوو ... خو پنځان بيا برعکس، د خپلې سيارې ټولو موجوداتو ته خــواړه برابــروي، هغه هم فکرونه.

د آينشتاين خبره مې راياده شوه چې ويل يې که په نورو ســيارو کې تر ځان هوښيار او ګټور موجود ووينې، نو بيا به څــه وايــې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه رښتیا ویلي وو. پنځان تر موږ ښه دي. زه هسې په ځان غَره وم چې انسان یم او اشرف المخلوقات یم او هر څه زما لپاره پیدا شوي دي.

ابن سینا وویل: انسانه! ته لـه پنځـان سره خوالـه وکـړه. زه بـه وروسته درپسې راشم.

په زړه کې مې ډېرې پوښتنې وې چې له پنځانه مـې بایـد کـړې وای. دوی په قوم څوک دي؟ په کوم دین دي؟ د چـا پـه مـذهب دي؟ ...

خو د حیرانۍ خبره دا وه چې هغه په دې شیانو بېخي نه پوهېده.

ما چې د دین پوښتنه ځنې وکړه، پنځان وویل: ته دا راتـه ووایـه چې دین دی څه شی؟

دین خو دین دی. نو ما به څه ویلي وای؟

ومې ویل چې موږ انسانان څوک مسلمانان یـو، څـوک یهـودان، څوک نصارا، څوک هندو ... همدا مو دینونه دي.

ویې ویل: دا را ته ووایه چې دین د کوم درد دوا دی؟

لږ مې چورت وواهه. بیا مې وویل: دییییین، دین مو پوهوي چـې چا پیدا کړي یو، ولې یې پیدا کړي یو، چې مړه شـوه بیـا چېـرې ځو، بیا څه را باندې کېږي، دغسې خبرې.

- نور؟
- نور دا چې حلال او حرام وپېژنو. وپوهېږو چې خدای په څه شي خوشحالېږي او په څه شي ناراضه کېږي. جنـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه ګټلی شو او په کومو کارونو دوزخ ته اچول کېږو. امممم دین را ته وایي چې څه ښه دي، کوم کارونه بد دي ...

- ډېر ښه. او ستا دین تا ته څه وایي؟

ومې ویل: زما دین د حق دین دی. را ته وایي چې موږ واحد خدای پیدا کړي یو. هغه خدای چې یوازې هغه لایق د عبادت دی. زموږ خدای د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره پیغمبران استولي دي.

زما خبرې یې پرې کړې: ښه نو، معنا دا چې له تاسو لاره ورکه وه او خدای مو پیغمبران درولېږل چې لاره در وښیي، همداسې ده؟

- هو. موږ لمر خدای ګاڼه، باد، وربځ، توپان، تندر، سېلاب، اور ... هر څه را ته بېل بېل خدایان ښکارېدل خو هغه بیا سمه لاره را وښوده چې خدای یو دی.

- نور؟

- نور نو دا چې موږ باید د خدای امر ومنو. پس له مرګه بیا ژوندي کېږو او بیا تل تر تله ژوندي پاتې کېږو. که ښه کارونه وکړو، جنت ته به ځو او که مو د خدای نافرماني کړې وي، که مو پر چا ظلم کړی وي، که مو د چا حق خوړلی وي، که مو څوک ناحقه وژلي وي، بیا نو دوزخ ته ځو او د خپلو بدو کارونو جزا ګالو.

- مطلب دا چې د دواړو احتمال شته؟ یعنې تاسې انسانان پر نورو ظلم کوئ، د چا حق خورئ، خلک وژنئ ...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ومې ویل: داسې ده چې په موږ کې شیطان دی. هغه مو دې کارونو ته هڅوي.
- یعنې کوئ یې؟
- هو.

پنځان را ته موسکی و، ویې ویل: ته په دې حیران شوې چې په پنځستان کې دین ولې نشته او زه حیران وم چې انسان ولې دین لري. ما د خپلې پوښتنې ځواب پیدا کړ. اوس نو ستا وار دی. ته په پنځستان کې وګرځه او د خپلې پوښتنې ځواب پیدا کړه.

د پنځستان ټوله سیاره مې ګز و پل کړه. رقم رقم بوټي، ونې، مرغان، او ژوي مې ولیدل خو متفاوت. ونو به د بوټو لاس نیوه چې له خاورو یې را پورته کړي. ژویو نه بوټي خوړل او نه یې یو بل سره داړل. نه د هوسۍ غوندې مظلوم په کې و، نه د پړانګ غوندې ظالم په کې و. نه په چا کې د لېوه خوی و، نه د مېږې. نه چا د ګیدړې غوندې چرګان تېر ایستل، نه چا د مار غوندې چیچل زده وو. هېچا په چا کار نه لاره.

پنځانان ټول سره یو شان وو. د ټولو کار یو شی و، د فکر تولیدول. بد، خوسا او بد بویه فکرونه چا نه جوړول، د ټولو فکرونه ښکلي وو، خوشبویه وو او هر چا به هڅه کوله چې لا زیات ښایسته فکرونه وپنځوي. که به چا ډېر فکرونه پنځول نورو به ورسره رخه نه کوله او که به څوک د فکر په تولید کې پڅ و، چا به نه رټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خبرې چې د انسانانو په منځ کې دي، غلا، لوټ، تالا، دروغ، غیبت، بهتان، تېری، ظلم، قتل ... هلته نه وې. هغوی د دې شیانو نومونه لا اورېدلي نه وو. نه یې غلا پېژندله، نه ظلم او نه قتــل و قتال.

په چکر کې وم چې د یوه غره له څوکې تــورې لــوخړې او سرې لمبې هوا ته پورته شوې. غړمبهار شو، د سرو اورونو سېل د غــره له سره را روان شو. اورشیندونکی فعال شوی و.

فکرونه په منډه ورغلل. یوه ډله یې د غره پر سر پــه آســمان کــې معلقه ودرېده. لوخړې به چې څنې تېرېدې، پاکې صافې به شوې او هوا یې نه ککړوله. د فکرونو بله جوپه د اورني سېلاب مخې ته ورغله. له ځانه یې ناوه جــوړه کــړه او ســکروټې چــې پــه کــې وبهېدې، سړې شوې.

دغه ځای را نه ډېر لرې و خو سترګو مې داسې واضح لیــده لکــه تر منځ مو چې یوازې لس ګامه واټن وي.

زه لا د دې پېښې له حیرانۍ نه وم راوتلی چې د ســیارې پــه بلــه خوا کې سخت توپان والوت. فکرونو ورمنډې کــړې. لاســونه یــې سره ورکړل او جال یې جوړ کړ. توند توپــان چــې لــه دې جالــه تېرېده، په نرمه معطره وږمه بدلېده.

همداسې تلم تلم تلم چې تورې ورېځې راغلې. آســمان وغورپــده. شړکنده باران شو. سېل راغی. فکرونه یې مخې تــه ودرېــدل. زر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښتي يې له ځانه جوړ کړل او د سپل اوبه يې د سيارې هرې خوا ته وبهولې.

لږ نور مزل مې وکړ. د ځنګل په منځ کې روان وم. ناڅاپه په ځنګل اور پورې شو. د تېښتې لاره مې کتله چې فکرونه راورسېدل او لاسونه يې سره ورکړل. لويه دايره يې جوړه کړه، تر اور چاپېر شول. ورو ورو د اور د مرکز خوا ته روان شول. وار په وار سره فکرونه وړاندې تلل او اور تتېده. په څو شېبو کې اور مړ شو. لوګي يې تصفيه شول او په پاتې ايرو کې يې نوي بوټي وبوټېدل.

نو داسې نه وه چې په دې سياره کې دې ستونزې نه وي؛ ستونزې وې او ډېرې وې خو فکرونو د هرې ستونزې چاره کوله. پنځان ته مې کړه: په تاسو کې مرګ هم شته؟

ويې ويل: نه پوهېږم چې مرګ څه ته وايې خو دلته مرګ يعنې نه فعاليت. هغه پنځان چې فکر نه شي توليدولی، هغه تجزيه کېږي. د بدن برخې يې د نورو پنځانانو بدن ته ور جذبېږي. يوازې زړی يې پاتې کېږي. بيا دغه زړی هغه کسان چې ډېر فکرونه توليدوي، په خوا پورې نيسي او پالي يې. هغه په خپلو فکرونو تغذيه کوي او ستروي يې. بيا له هغه څخه نوی فکروال پنځان جوړېږي.

د دې سيارې هر څه عجيب وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ځان سره مې فکر وکړ چې هلته چې ظلم نــه وي، شر نــه وي، تېری نه وي؛ بلکې لاسنيوی وي، همکاري وي او مينــه وي؛ چــې هره ستونزه په کې په فکر هوارېږي؛ نو هلته به دين څــه کــوي؟ موږ چې په دين پورې نښــتي يــو، وجــه يــې دا ده چــې خپلــې ستونزې پخپله نه شو هوارولی. موږ مطلق عدالت نه شو راوستلی نو د سزا جزا کيسې خدای ته پرېږدو چې په بله دنيا کــې عــدالت وکړي. نو پنځستان کې چې دغه کيسې نشته، دين خو بايد چې نه وي.

ومې ليدل چې زما له دېو څخه هم وزرو ټېغونه وهــلي دي. لاس مې ور ووړ، ډېر نري او خورا تنکي وو. حيراني مــې وار پــه وار سره زياتېده.

د ابن سينا غږ مې تر غوږو شو: بې خوبۍ دې مبارک شه!

- بې خوبۍ؟

ويې خندل: هههههه. هو بې خوبۍ.

زما په دېو پورې نويو زېږېدليو وزرو ته يې اشــاره وکــړه، ويــې ويل: دا پالنه غواړي، خوراک غواړي او تا به په نيمو شپو کې لــه خوبه راويښوي. دا د دې سيارې د اوسېدونکو په شــان فکرونــه خوري. نو لکه مور چې په نيمه شپه کې بايد راويښه شي او خپل بچي ته تی ورکړي، ته به هم په نيمو شپو کې له خوبه راجګېږې او فکرونه به توليدوي چې دا يې وخــوري او غــټ شي. نــو بــې خوبۍ دې مبارک شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بل غړ وویل: ښه به دا وي چې درته ووایو چــې ویښــتیا دې مبارک شه!

د غړ لوري ته مې وکتل، آینشتاین و.

هغه او ابن سینا وخندل.

آینشتاین وویل: خو چورت مه ورته وهه. که خوب در نه اخلي، په بدل کې يې بل شی درکوي. الوت! د الوتلو ځواک. وزرې دې چې ستړې شي، بیا نو داسې الوت کولی شې لکه ابن سینا.

ابن سینا وویل: خوښه مو نه ده چې بېرته ولاړ شو؟

آینشتاین هوا ته لاس واچاوه. له هوا څخه يې يو تار راکښته کـړ، لکه د آزادۍ شوې باډېوې تار چې نیسې.

ویې ویل: ځو؟

ابن سینا ما ته کړه: ور وخېژه.

ګورم چې آینشتاین د تار منځ راسپړلی دی. مخکې نری تار و خو اوس تر بېلر لوی نل ځنې جوړ شوی و. نه، نل و، ټونل و چې په منځ کې يې څوکۍ ایښــې وې. درې واړه ور وختــو. پـر څوکیــو کېناستو. څوکۍ د تار په مــنځ کــې داســې وښــوېيدې لکــه پــر ښویېندوکۍ چې ځان خوشی کړې. د سترګو په رپ کــې هماغــه ځای ته ورسېدو چې ور نه راغلي وو.

ابن سینا وویل: دا د فضا – زمان تار دی. ده کشف کړی و.

ګوته يې د آینشتاین خوا ته چې تر مــوږ مخکــې کــوز شــوی و، ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وار د دوی ډله ډېره لويه وه. ډېر کسان تر يوې گنبدې لانـدې راټول وو او بحثونه يې سره کول. په گنبده کې ټـول کاينـات پـه حرکت کې وو. هر چا چې به د هر ستوري يا هر کهکشان پـه اړه خبرې کولې، هماغه ستورى يا کهکشان به په گنبده کې لوېدېده او را نژدې کېده به.

ورو ورو مې د دوی ژبه زده کړه. ژبه يې هماغه وه چې زمـا زده وه خو مخکې يې په خبرو نه پوهېدم. اوس لږ لږ پوهېدم چې څه سره وايي.

د ابن سينا خبره رښتيا وه. بې خوبۍ را پورې ښخې شوې. هـره ورځ به مې د نويو شيانو په باره کې فکر کـاوه. نيمـه شـپه بـه هماغه فکر راوبښ کړم او په ځان پورې به يې داسې بوخت کـړم چې د وخت تېرېدلو تـه مـې پـام نـه و. خـو دغـه بـې خـوبۍ ځورونکې نه وې. نه به د ورځې گنگس وم، نه خوبولی، نـه بـه مې په سر درد و.

وزرې مې ورو ورو لوېېدې. د آيشنتاين خبره مې يـاده وه: «خـو چورت مه ورته وهه. که خوب درنه اخلي، په بدل کې يې بل شـی درکوي. الوت! د الوتلو ځواک. وزرې دې چې سترې شي، بيا نـو داسې الوت کولی شې لکه ابن سينا.»

د الوتلو هوس را ولوېد. وزرې مې ورپولې خو هوا ته ايله دومره پورته شوم لکه چرگ چې الوځي او بيا بېرته پر ځمکه ولوېدم.

«وار وکړه، تلوار مه کوه!»

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا غړ د چا و؟

غړ و خو غړوالا نه و.

هماغه غړ وويل:

صوفي نشود صافي تا در نكشد جامی

بسيار سفر بايد تا پخته شود خامی

غړ كه د هر چا و، و به، خو زه يې وپوهولـوم چـې الوتلـو تـه لا وخت شته.

د فكرونو په جوړولو او پېيلو داسې بوخت وم چې د وزرو غځېدلو ته مې پام نه و. يو وخت مې وزرې خلاصې كړې، گورم چې زمـا تر ونې درې چند لويې دي.

- اوس يې وخت دی.

شا ته مې وكتل. ابن سينا او ابو ريحان ولاړ وو.

والوتم. آسمان له ستورو ډک و. لرې او نژدې، راڼه او كمځـل. پـه دې منځ كې يوه رڼا را باندې ښه ولگېده. په زړه كې مــې را تېـر شول چې دا ښكلې رڼا به د څه شي وي.

د ټايسن غړ مې واورېد: د هېڅ شي.

لاندې مې وكتل. ټايسن سېگرېټ په شونډو نيولی و.

پوښتنه مې وكړه: د هېڅ شي؟ دا نو څنگه كېدی شي چې رڼا يــې وي خو پخپله نه وي؟

- كه يې نه منې نو ورشه پخپله يې وگوره.

لايټر يې بل كړ او سېگرېټ ته يې ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هوا کې د رڼا خوا ته ور روان شوم. په لاره کې مې له ځان سره ویل چې دا نو عجیبه خبره ده چې ډېوه نه وي خو رڼـا یــې وي. ډېر مزل مې وکړ او د رڼا آخر سر ته ورسېدم.

خبره یې رښتیا وه. دا رڼا داسې وه لکه د کاغذ باد تار چې په هوا کې وي خو کاغذ باد ور پورې نه وي تړلی. رڼا له هېڅ ځایــه نــه راتله. رڼا د هېڅ شي نه وه. رڼا په فضا کې معلقه وه خو منبع یې معلومه نه وه. شا ته مې وکتل. دا وار رڼا ډېره لنډه شوې وه.

بېرته را وګرځېدم. همامغــه ځــای تــه ولاړم چــې ټایســن ولاړ و. سګرېټ یې په شونډو ایښی و او لایټر یې ورته لګولی و. زه چــې څنګه ور ورسېدم، د لایټر لمبه بنده او سګرېټ یې بل شو.

ومې ویل: سېګرېټ ډېر زیات نه څکوې؟

- نه، دا مې اول دی. نن مې بل نه دی څکولی.
- دا څه وایې؟ یو دانه خو دې هغه وخت ولګــاوه چــې زه والوتم.
- دا خو همامغه دی. ته ډېر ژر بېرته راغلــې. رښــتیا د رڼــا منبع دې پیدا کړه؟
- نه. ته را ته وایې چې ډېر ژر بېرته راغلې خو ما ډېر اوږد مزل وکړ. ډېر وخت مې په دې سفر کې تېر شو.

ویې خندل: هههه. لا ډېر نور شیان بــه دې حیــران کــړي. د دې پوښتنې ځواب به د آینشتاین په فکرونو کې پیدا کړې خو اوس دا را ته ووایه چې رڼا د څه شي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د هېڅ شي. ستا خبره سمه وه.

بیا یې وخندل: هههههه. زما خبره هره وخت سمه وي. ګوره! تا د هغه ستوري رڼا لیدله چې څو میلیونه کاله مخکې مړ شوی دی.

- څو میلیونه کاله!

نور نو خبرې مې د میلیونونو او میلیاردونو کلونو کولې. په لویو فورمولونو به مې لویې محاسبې کولې.

نور به نو زه وم او فکرونــه وو، نــوي ســوالونه وو. پــه یــو شي حیرانېدل وو، په بل شي خوشــحالېدل وو. نــوې پوښــتنې، نــوي سوالونه، نوي ځوابونه، نوي حلونه. د هرې معما حل بــه داســې خوند راکاوه چې نور ټول خوندونه به یې را نه هېر کړل.

آه! زه د خوندونو تږی او دا د خوندونو نړۍ.

خو لکه هر څه دغه خوندونه هم ختمېدونکي وو.

دې حالت ډېر دوام ونه کړ. په اول سر کې هر څه را تــه پــه زړه پورې وو، هر څه خوندور وو، فکر کــول، پلټنــه، الوتــل، د نویــو کهکشانونو کشفول، د نویو رازونو راسپړل ... خــو ورو ورو یــې خوند په کمېدو شو.

ابن سینا، ابوریحان، آینشتاین، هاوکینګ، ټایسن ... ټولو لا هم لــه دې هر څه نه هماغسې خوندونه اخیستل خو زما لپاره نور هغسې خوندور نه وو. د دوی خبرې را باندې غمېدلې. بې خوبۍ مې وار په وار سره کمې شوې. بې خوبي کمه وه خو ځوروونکې. وزرې مې ورو ورو مړاوې شوې، بیا ورژېدې او بیا یو مخ ورکې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځل بيا نو هغه زه وم، ځورېدل وو. هره خوا منډې وهل وو. په څه ورکې پسې تلل وو. د خوندونو لټول وو.

رڼا، رنګونه؛ غرونه، سيندونه؛ بوټي، ګلونه؛ څپې، موجونــه؛ ټــول ښايستونه؛ هر څه پخوا غوندې وو خو زه بدل وم.

نور نو رڼا را ته يوازې د مختلفو څپو ټولګه ښکارېده، نه د خوند اخيستلو منبع. د رڼا په ليدو به مې يوازې په دې خبرې فکر کولی شو چې د رڼا هره څپه ځانته اوږدوالی، مختلفــه انــرژي او بېــل رنګ لري.

رنګونه را ته بې معنا ښکارېدل. رنګونه ښايستونه نه وو، بلکــې د هرې مادې خپل خاصيت و چې د رڼــا کــومې څپــې جــذبوي او کومې منعکس کوي. رنګ اصلاً زما له ذهنه د باندې نه و. دا زما د سترګو او مغزو خاصيت دی چې مختلف رنګونهويني، ګنې رنګ له سره نشته نو څه چې نه وي، خوند به په کې څنګه وي؟

بر او بحر، سمه او غر، هــر څــه را تــه يــوازې د مــاليکولونو او اټومونو ټولګې ښکارېدې او ښکلا له هر شي نه کډه کړې وه.

د ګلونو وږم را ته يوازې هغه ماليکولونه ښکارېدل چې له ګلانــو تښتي او زما پوزې ته را ننوځي او که زما پــه پــوزه کــې د بــوی مخصوصې آخذې نه وي، بوی له سره نشته.

د مېوو او خوړو خوند يوازې زما د ژبې او ماغزو کمال و. که مې په ژبه کې د خوند د څکلو آخذې کار ونه کړي يا مې ماغزه د دې آخذو سيګنالونه تفسير نه کړي، نو خوند به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه يې منې؟ که داسې نه وي نو کله چې زوکام را پورې وي، ولې په خوند نه پوهېږم؟ که خوند مستقل وي نو هر وخـــت بايــد وي. اصلاً هر څه په ما کې دی. رنګ، بوی، خوند، ښکلا ... ښايي ټوله دنيا يوازې زما د درک محصول وي.

له هرې خوا غږونه پورته شول:

«د آدم د نظر تول دی

که دا تور دی که دا سپين

د آدم د ژبې خيال دی

دا سپلمۍ او انګبين»

دا غږونه له ونو بوټو او ګلونو راتلل. دوی ټولو په ګډه دغه شــعر په ترنم کې ويل.

ښه نو، که زه يم نو هر څه شته دي او که نه يم، هېڅ هم نشته؟

نه. داسې هم نه ده. زه هم وم او هر څه هم وو خو په خونــد نــه پوهېدم. پوزه مې بنده نه وه خو په بوی نه پوهېدم. په ژبــه مــې هېڅ نه وو شوي خو خوند مې نه احساساوه.

په خوندونو دې اور پورې شي يوازې د خوند خبره خــو نــه وه، مهمه خبره دا وه چې زما باورونه پوچ شــوي وو. هغــه باورونــه چې راسره يو ځای زېږېدلي وو او ورسره يو ځای لوی شوی وم؛ «زه اشرف المخلوقات يم، ټوله هستي زما لپاره هسته شــوې ده او ...» فکر کول او پوهې دغه ټول باورونه داسې راته ړنګ کړل لکــه واورين سړی چې د اوړي لمر ته يې ودروې او شېبه وروسته هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي يا چې د شوتلو پر تنيکو بوټو اوبه بندې شي او د اوړي لمر پرې را شي.

آه! زه د خوندونو تږى، خو کاينات هغه کنجوسه ابۍ چې له بچي نه پټاسې پټوي.

زه د خوندونو تږى، خو کاينات هغه ناځوانه جينۍ، هغه د ښکلي بدن پېغله جينۍ چې ښايستونه په جامې پټوي.

زه د خوندونو په اوبو پسې راوتى تږى خو دا دنيـا هغـه صـحرا چې صرف سراب پېژني.

ښاپېرۍ بايد پيدا کړم.

هغه سکون چې د هغې په غېږ کې يې احساسوم، په هېڅ شي کې نشته. هغه دنيا او مافيها را نه هېروي.

رهي شوم.

يوه کور ته ورسېدم. د کور له شمالي دېوالـه سره جـوختې دوې ځنګ په ځنګ کوټې وې. مخې ته يې چوتره. د چوترې مخـې تـه انګړ يو متر ژور و او د انګړ په منځ کې د اوبو ځاه وه.

يوه سپين ږيري له کوهي نه اوبه راوايستې، پـه کـوزه کـې يـې واچولې. پايڅې يې ورپورته کړې او لستوڼي يې بډ وهل. اوداسه ته کېناست.

نيمه شپه وه. زه د کانکريټي چوترې په پوړيو کښته شوم. د انګړ په بل سر کې وطني تشناب (کناراب) و. د تشناب خـوا تـه روان شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپین ږیري غږ مې واورېد: «دا څه رقم مسلمان دی چې روژه نه نیسي، لمونځ نه کوي، کلمه نه وایي خو په خوله وایي چې مسلمان یم.»

دا خبره یې چا ته کوله؟ څوک یې یادول؟

په زړه کې مې وویل: ښه ده چې زه خو د پېشلمي په وخت کې پاڅېږم او د کوټې څراغ بلوم. دی چې بل څراغ ویني، بیا فکر کوي چې زه هم پېشلمي ته راویښ شوی یم او روژه نیسم.

د چوترې په سر کې دوې خوا په خوا ختیځې کوټې وې چې لویې لرګینې کړکۍ یې د چوترې خوا ته خلاصېدې. د دواړو کوټو تر منځ یو کوچنی دالان و چې ختیځې پوړۍ ورنه دوهم چت ته ختلې وې.

د دوهم چت کوټې ته چې ورسېدم، ګورم چې بام یې نشته. په دېوالونو کې د لاړو (تیرانو) ګردي ګردي سوري ښکاري او د دېوالونو سرونه رژېدلي دي. لکه د جهادیانو په وخت کې چې د کابل د کورنو سرونه یې لوڅ کړي او تیران یې غلا کړي وو. ښاپېرۍ مې څنګ ته ولاړه وه. ما یې پر اوږه لاس ایښی و او دې مې پر تخرګ سر لګولی و.

دا کټ مټ هماغه ځای و چې هاغه بله شپه مې په خوب کې لیدلی و.

ښاپېرۍ وویل: هو. هماغه ځای دی. ما هم په خوب کې لیدلی و. ور وټکېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلم. نجيبه وه. لاسونه يې زما له غاړې نه چاپېر کړل. ښکل يې کړم. ويې ويل: زړه مې! څنګه يې؟

ما يې لاسونه له غاړې ايسته کړل. په اشــاره مــې وپوهولــه چــې ښاپېرۍ دننه ده.

غږ يې لوړ کړ: زما يې څه؟ ته زما يې زما. پوه شوې که نه؟

ما يې پر شونډو لاس کېښود چې غلې شه.

احساس مې وکړ چې ښاپېرۍ د وره شا ته راغلې ده او له چــولې څخه موږ ته ګوري. شا ته مې وکتل. څوک نه و.

دې بيا په لوړ غږ وويل: چې يو ځل مې ګوتو ته راشي، بيا به زه د دې ښاپېرۍ خوښه شم.

بېرته کوټې ته ورغلم. ښاپېرۍ ســتوني ســتغ پــر کــټ پرتــه وه. سترګې يې آسمان ته نيولې وې.

ما ويل اوس به لانجه کوي، بې عزته کوي به مې چې نجيبې ولــې داسې ويل. خو هېڅ يې ونه ويل.

غلی يې له څنګه تېر شوم. پر غولي کېناستم.

هماغسې غلې وه. نه يې پوښتنه وکړه چــې «څــوک وو، څــه يــې ويل؟»، نه ښه، نه بده. د هغې چوپتيا لا ځورولم.

غږ مې پرې وکړ: ښاپېرۍ!

مخ يې راواړوه. سترګې يې سرې وې، نرې نرې سره رګونه په کې جوت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه څنګ په څنګ ناست وو. د اورسۍ پر تاخ پتنوس ایښـــی و. په پتنوس کې د شنو چایو یوه پیاله زما مخې ته او یوه د ښاپیرۍ مخې ته ایښې وه او تر منځ یې په یوه بشقاب کې غوزان او شــنه ممیز. ښاپیرۍ مې پر زنګانه سر ایښی و او سترګې یې پټې کــړې وې. ما یې په ګوړګوتو ویښتانو کې ګوتې تېرولې راتېرولـــې. پــه انګړ کې هماغه سپین ږیري له کوهي نه اوبه را ایستلې. د کــوهي په څنګ کې خټینه کوزه ایښې وه. ده له څا نه بوکــه را وایســته، کوزه یې ډکه کړه. اوبه څه کوزې ته تویېدې او څه یــې شــاوخوا ته. تویې شوې اوبه په کانکرېټي ناوه کې لاړې او د ګندنې په پټي کې وبهېدې.

ښه شوه چې هغه بله پېښه رښتیا نه وه. هغه مې پــه خــوب کــې لیدلې وه. که په ویښه کې وای، تباه به وم. پورتــه مــې وکتــل. د کوټې بام جوړ و. لاړې یې په خپل ځای کې و او سر یې هم پــټ و. نو په خوب کې مې ولې لوڅ لیدلی و؟

رښتیا، نجیبه څوک ده؟ نجیبه خو زه نه پېژنم. له رنګه خو را تــه آشنا وه، لکه زه یې چې له ډېر پخوا نه پېژنم. رایــاده مــې شــوه. هغه نجیبه نه وه، د هېندارو ښاپیرۍ وه.

ښاپیرۍ سترګې پرانیستلې، زما له زنګانه نه یې سر لږ هسک کړ، ویې ویل: د هېندارو ښاپیرۍ خو زه یم.

ومې ویل: زه یې نه باوروم.

- ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ولې، امممم. ستا سترګې خو تورې دي.
- نو څه؟
- د هېندارې د ښاپېرۍ سترګې نیلي وې، د آسمان په رنګ.

که ګورم چې د سترګو رنګ یې نیلي شو او ویښتان یې خرمایي.

له سترګو یې داسې نیلي رڼا را وتله چې سترګې یې را وبرېښولې.

زما په غاړه کې یې لاس واچاوه. سر یې نور هم پورته کړ.

زما سر یې د ځان خوا ته راکښته کاوه.

فکر مې وکړ چې ګوندې غواړي پر شونډو مې ښکل کړي خو سترګې یې سوکه سوکه غټې شوې، ډېرې غټې شوې، لکه د زمري خوله چې خلاصه شوې وي او غواړي د هوسۍ مرۍ ونیسي.

شا ته مې زور وکړ چې سر مې ورنه لرې کړم خو د هغې لاس کښته خوا زور کاوه.

یو لاس مې یې پر سینه کېښود او لاندې خوا مې ټېله کړه خو خاشه ونه خوځېده، بلکې لا را نژدې شوه.

په بل لاس مې یې مړوند ونیو چې له غاړې نه یې ایسته کړم. خو لاس یې دومروه زورور و چې زما سر یې لا پسې ټیټ کړ.

په یوه لاس مې یې سینه تکیه کوله او په بل د هغې لاس خو د هغې د را نژدې کېدو مخه مې نه شوه نیولی.

له ډېر زوره مې پر دواړو مټو سخت درد و. ته وا هډوکي مې کړس کړس ماتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې غټې سترګې وار په وار را نژدې کېدې چې سر مې له کومې تېر کړي. لا مې هم زورونه وهل، خو ګټه يې نه کوله.
راويښ شوم، خو له ځايه نه شوم خوځېدلی. ستوني ستغ پروت وم او دواړه لاسونه مې تر سر لاندې کرخت شوي وو. داسې ستمی مې کېده لکه لوړې غونډۍ ته چې په منډه وخېژې. سوکه سوکه مې لاسونه د سر له لاندې نه را وايستل. داسې وچ وو لکه د بل چا لاسونه چې وي. کېناستم. ګوتې مې وښورولې. په سترګو مې ليدلې چې ښوري خو حس کولې مې نه.
آه! دا نو څه رقم خوب و؟ څومره ډېره موده وروسته ويده شوی وم. هېڅ مې نه يادېږي چې وروستی ځل کله او چېرته ويده شوی وم.
بيا هم زه وم، بې خوندي وه. بې مطلبه ګرځېدل وو، پاڅېدل او کېناستل وو. ونې ګڼې، مېوې ډېرې؛ د ګبينو او شيدو څه کمی نه و، د شرابو خواري نه وه. د رنګونو ننداګانې، د عطرونو الوتل وو. خو دا هر څه د ښکلاوو بدرنګي وه، د خوندونو بې خوندي وه.
زه څوک يم؟
دا کوم ځای دی؟
ولې هر څه را نه تښتي؟
ولې خوندونه له بې خوندۍ ډک دي؟
ولې ښايست په بدرنګۍ اوړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې ته ګناهکار یې!

دغه سپین غر د چا دی؟

ویونکی یې نه معلومېږي خو غږ یې وینم.

پوښتنه مې وکړه: ګناه مې څه ده؟

سپین غر مخامخ راغی او ویې ویل: هېره دې ده که هسې ځان ناګاره کوي؟

ومې ویل: د هېندارو ښاپېرۍ خو ویل چې دلته ګناه نشته، دلته هر څه بس ثواب ګڼه.

سپینه خندا مې واورېده: هاهاها، هغه ځای خو نو جنت و.

شا و خوا ته مې وکتل. دا خو هم هماغه ځای و چې د هېندارو ښاپېرۍ سره وم. ونې، بوټي، چمن، ګلونه، د شاتو او شیدو ویالې، هغه مرمرینه ماڼۍ چې د شرابو ډنډ په کې و ... ټول کټ مټ هماغه پخواني وو.

نو سپین غر ولې وایي چې هغه ځای خو جنت و؟ یعنې دا بل ځای دی؟

ویې ویل: هو. دا بل ځای دی. دا دوزخ دی.

دا مې نه شو باورولی چې دا دې دوزخ وي.

په دوزخ کې خو اورونه وي، لمبې وي. ماران وي، لړمان وي. سوځېدل، اېرې کېدل وي. عذابونه وي، دردونه وي.

ویې ویل: نو دا در ته عذاب نه ښکاري چې هر خوند له بې خوندۍ ډک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتیا یې ویل. لوی عذاب و. شات، شیدې، شراب؛ ګل او بلبل؛ غر او غونډۍ، ماڼۍ، باغونه؛ اوبه، هوا، نری شمال، خوشــبو او وږم ... هر څه را ته تیار وو خو ما له هېڅ شي نه خوند اخیســتلی نــه شو.

نو ګناه مې څه وه چې دغه عذاب ګالم؟

سپین غږ مې پر سترګو لاس را تېر کړ.

غوړو لوګیو آسمان پټ کړی و. یو موټر چې سر په ځېږۍ اوښتی و، په لمبو کې سوځېده. څو موټرې سورۍ سورۍ وې او ښېښــې یې ماتې وې. د یوه بل موټر یوازې د فرېم یوه لویه ټوټه پر سړک پرته وه. غرېو او شور وو. چا نارې وهلې چې لرې شئ، دې خوا ته مه راځئ. چا ژړل، چا بوغارې وهلې او چا زګیروي کول. د چا خرهار پورته و، او څوک غلي پلي غځېدلي وو.

د چا پښې نه وې، د چا لاسونه. د چا سر خــچ پــچ و، د چــا ټټــر سورۍ سورۍ و. محشر و، محشر.

هرې خوا ته مړي او زخمیان پراته وو. هرې خوا ته د بدن غړي او اندامونه او د غوښو ټوټې. زه هم د هغوی په منځ کې خو یــوازې سر او د ستې نیمایي مې هلته وو، هغه هم ټوک ټوک او پــه وینــو لژند.

ځای مې سهي کړ. دا هماغه ځای و چې څو شېبې مخکې ما موټر بم په کې چوولی و.

سپین غږ وویل: اوس پوه شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ولاړ او زه يې يوازې پرېښودم. تنــدې اخيســتی وم. د شــيدو لښتي ته ورغلم. د شيدو رنګ سور اوښتی و. لپه مــې تــرې ډکــه کړه. چې خوله مې ورته ونيوه، داسې بوی مې په ســپږمو ننــوت لکه اوسپنه چې زنګنه وي. په نه زړه مې خولې تــه واچــولې. ژر مې بېرته تو کړې.

اخخخخ، توف.

د وينو خوند په کې و.

ژبه مې د لاس په څټ باندې تېره کړه چې پاکه شي خــو پــه لاس کې مې هم د وينو بوی او د وينو بې خوندي وه.

څو ځله مې نارې په خوله کې واړولې او تو کړې. خو د وينو بوی او خوند مې په خولې پورې هماغسې نښتي وو. له معــدې او لــه سږو نه مې د وينو وږم را وته.

يو بل کس راغی. د سرو شيدو ويالې ته کېناست، لپــه يــې ورتــه ونيوه.

ومې ويل: مه يې څښه! د وينو خوند لري.

ده لپه ځنې ډکه کړه.

ومې ويل: تا ته وايم! دا شيدې نه دي، وينې دي. نه يې وينې چې رنګ يې سور دی؟ د وينو رنګ په کې نه وينې؟

ده لپه خولې ته ورنژدې کړه، ويې ويل: دا خو تکې سپينې شيدې دي. وينه په کې له کومه شوه؟

پوزه يې وسوڼله، ويې ويل: واه! څه خوندور وږم يې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه شوم چې خبره څه ده.

لږه لاره مې ووهله. هوا د غــوړو لوګيــو بــوی کــاوه او ورسره د انسان د وريتې شوې غوښې بوی ګډ و.

خوا مې وګرځېده.

کېناستم.

کانګې مې شروع کړې.

وينې مې قی کړې. خو يوازې وينې نه وې. لږ وروسته د وينو په منځ کې د ماشوم د ګوتې بندونه هم را ووتل.

سترګې مې رډې ختلې وې. ما ويل اوس به مې سترګې له ژورغالو راوځي او کښته به لوېږي.

ساه مې نه شوه اخيستی.

بيا مې له معدې څخه د کانګو داره را ووته.

په وينو کې يوه سترګه هم وه.

بيا مې په مرۍ او ستوني باندې سخت زور راغی، د ژامې هډوکي مې ارتې شوې، ستونی مې بهر خوا ته پورې وهل کېده. ما ويــل اوس به شکېږي. خوله مې لويه شوه، يو ورغوی مې له خولې نــه راووت او پر ځمکه ولوېد. بيا پوره لېچه، ورپسې يو سر، بيــا يــو لينګی ... د انسانانو د بدنونو مختلف غړي مې له معدې څخه قی کړل. د هر غړي قی کول دومره په عذابولم لکه د لنګون درد چــې ګالم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت بې سېکه شوی وم. پړ مخی پروت وم. له پـوزې او خـولې نه مې د وینو ډومبکي څړېدل.

هغه بل سړی مې له څنګه تېر شو. لویه ساه یې واخیسـته. ویـې ویل: واه! عجبه خوشبویي ده.

په لستوڼي مې خوله پاکه کړه. په دوو ګوتو مې پوزه ټینګـه کـړه چې د وینو ډومبکي ترې وڅڅېږي.

را ولاړ شوم. لکه له اوږدې تبجنې ناروغۍ چې تازه رغېدلی یـم، بدن مې سست او کمزوری و.

ګومان مې کاوه چې پښې مې د ستې د وړلو تاب نه لري.

سوکه سوکه روان شوم.

هره خوا د وینو بوی، د سـوځېدلو غوښـو وږم، د غـوړو لوګیـو وریځې.

له هرې خوا د چاودنې غږونه راتلل. هر ګام به مې چې پر ځمکې ایښوده، یو درز به یې کاوه. داسې درز چې ځمکه یې لړزولـه او غوږونه یې را کڼول. تر هر ځل کڼېدو وروسته، بـه مـې غوږونـه بېرته ښه شول او له بل ګام سره به بیا کڼېدل.

په غوږونو مې د لاسونو ورغوي کېښودل خو د چاودنو تندرونـه لا زورور شول. بېرته مې لاسونه لـرې کـړل. منـډه مـې کـړه. د مرمرینې ماڼۍ لاره مې ونیوه. د چاودنو غږونـه لکـه د خیـاطۍ ماشین چې ښه یې تېز وچلوې، پر له پسې شول: درز، ټنـګ، ډم، بم، ګړمب ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماڼۍ ته چې ځنګه ننوتم، غرونه ورک شول.

پر ملا کړوپ شوم. لاسونه مې پر زنګنو کېښودل. ساه مـې تېـزه وه. د وينو او سوځېدلو غوښو بوی نه و. شا و خوا ته مې سترګې وغړولې. هوا رڼه وه، د غوږو لوګيو وريځې نه وې.

بېرته نېغ شوم. لويه ساه مـې واخيسـته. چـې بېرتـه مـې سـاه وايسته، له سرو مې يو تت غږ راووت. غوږونه مې ورته ځک کړل، ويل يې: قاتله!

ساه مې د مرمرينې ماڼۍ د ګنبدې خوا ته پورته لاړه. پـه ګنبـده کې تاوه شوه را تاوه شوه، بچې يې وکړل او يو لښکر ورنه جـوړ شو. قاتله! قاتله! قاتله!

ډېر بد شور جوړ شو.

د ماڼۍ له دېوالونو، له ګنبدې، له ښيښو، له غولي او ان د شرابـو له ډنډه همدغه ناره پورته کېده او پر ما يې حمله کوله.

ما مې مخې ته د لاسونو ورغوي ونيول خو د «قاتله!» ناره به مې د ورغوي د هډوکو له منځه تېرېدله او پر مغزو مې کلکه لګېدله.

د وره خوا ته مې منډه کړه. د «قاتله، قاتله!» غږونه را پسې شول. د توربېدلو مچيو غوندې يې له هرې خوا راباندې حملې کولې.

ډېره موده په دې بد خونډۍ کې لالهانـده وم او هـرې خـوا تـه تښتېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنت را ته دوزخ شوی و. دومره يې عذاب راکړی و چې مرگ تــه مې راضي وم خو چې د دې غړونو له شره خلاص وای. خــو نــه مرگی و، نه له عذابه خلاصی.

نه پوهېږم چې څومره وخت همداسې را باندې تېر شــو. ښــايي د هغو وينو د ټولو څاڅکو په اندازه چې زما په وجه تــويې شــوې وې.

بيا ورو ورو هر څه بېرته سم شول. د وينو بوی، د انسان د ورېتو شويو غوښيو وږم او لوگي ختم شول.

د شيدو سوروالی ورک شو.

هوا پاکه صافه شوه.

د «قاتله!» نارې هم وار په وار سره کمې شوې، سوکه شوې، تتــې شوې، ورکې غوندې شوې خو لا هم پاتې وې.

د غږ لوری نه را معلومېده چې له کومه راځي. هرې خوا تــه مــې غږونه څک کړل، خو پته يې ونه لگېده.

گورم چې خپل زړه مې دغه غږونه کوي، له هر درز سره وايي: قا – تل، قا – تل، قا – تل.

په اول سر کې خوښ وم چې ځورونکي غږونه تــت شــول خــو وروسته بيا همدغو تتو غږونو دومره ځورولم لکه هغه جگو نارو چې په عذابولم.

اوس به نو له زړه سره څه وکړم؟

کاش دغسې بوټ مې را ايستلی شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا دی ولې د قاتل، قاتل غړونه را ته کوي. ما خو هر وخت د ده منلې وه. هر څه مې د ده په خوښه کړې وو نو اوس مې ولې ځوروي؟

خو ښه خبره دا وه چې زما په گومان نورو دا غړونه نه اورېدل. نور نه پوهېدل چې زه په دوزخ کې یم او دوی په جنت کې دي.

نو ما به هم داسې ښودله چې هر څه سم دي.

یوه ورځ چا منې خوړلې. د منو د خوند صفتونه یې کول.

ما هم یوه دانه را واخیسته. چې ځنگه مې چک پرې ولگاوه، خوله مې له تور او خوسا خونده ډکه شوه. خو په خوله مې وویل: واه! عجب خوند یې دی.

بل خرپ مې ترې وایست او په وچ زور مې له ستوني تېر کړ.

چې یوازې شوم، خوا مې وگرځېده. کانگې مې وکړې. په کانگو کې مې له وینو سره د انسان د غوښو ټوټې را ووتلې.

مرمرینۍ ماڼۍ ته ولاړم. د شرابو له حوض نه ډېر کسان چاپېر وو. هر چا به ورنه جام ډکاوه. جامونه به یې سره کړنگول او په سر به یې اړول.

ما چې جام ډکاوه، ومې لیدل چې د شرابو په منځ کې څوک گرځي. بدن یې ټوک ټوک او په وینو لت پت و. یوه پښه یې د حوض په یوه څنډه کې پرته وه. هغه یې پورته کړه. په سرپښنې پورې یې ولگوله. څو گامه ها خوا ته یې خپل له ځنگله غوځ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ومونند. بیا په حوض کې کېناست. د حوض په تــل کــې یــې گوتې وهلې.

ښه ورته ځیر شوم. ومې پېژاند. دی هم په هاغو کسانو کې و چې زما د موټر بم په چاودنه کې وژل شوی و.

خو هغه دلته په شرابو کې څه کول؟

گورم چې د حوض له تله یې څه پیدا کړل. بیا یې په مینځلو لگیــا شو.

سترگې مې تنگې کړې، گورم چې په ورغوي کې یې خوټې نیولې دي او په شرابو یې مینځي.

شا و خوا مې نورو ته وکتل. هر څوک په خپل مجلس لگیا وو.

تر ټولو نژدې کس ته مې وویل: دا سړی د شرابو په حــوض کــې څه کوي؟

حوض ته یې وکتل. ویې ویل: کوم سړی؟

په لاس مې هغه ځای ته اشاره وکړه چې هغه سړی په کې ناســت و.

ویې ویل: زه خو څوک نه وینم.

بل ته مې دغه خبره وکړه.

ویې ویل: سد دې په سر کې دی؟ سړی له کومه شو؟

سر مې چټک دې خوا ها خوا وخوځاوه. ســترگې مــې څــو وارې وځمبلې. ما ویل زما په نظر کې به ستونزه وي خو چې ور ومــې کتل، بیا مې هم په شرابو کې ناست سړی لیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر مې وکړ چې دا نور به یې ځکه نه وینې چې نشئه دي. یو بل کس چې ماڼۍ ته تازه را ننوتلی و، د ډنډ خوا ته روان و. په منډه ورغلم، هغه مې تر لاس نیولی د حوض غاړې ته راوست.

ومې ویل: هغه ځای ته وګوره، څوک درته ښکاري؟

ویې ویل: لکه چې ډېر دې ځښلي دي.

هېڅ هغه نه لیده، خو ما ته ښکارېده.

ټولو جامونه پورته کړل.

دې خوا ها خوا مې وکتل.

څو کسانو غږ را باندې وکړ: پورته یې کړه! تـل دې وي جنـت او شرابونه یې!

ناچـار جـام مـې پورتـه ونیـو او د دوی لـه جـامونو سره مـې وکړنګاوه.

چې غوړپ مې ورنه وکړ، سږمې مې د خوټو په بوی ډکې شوې.

په منډه له ماڼۍ نه ووتم.

په یوه ګوښه ځای کې کېناستم.

کانګې مې وکړې. له خولې نه مې خوټې را ووتې.

پاڅېدم. په چمن کې وګرځېدم.

ناڅاپه شور ما شور شو.

دېرش پنځه دېرش کسانو دې خوا ها خوا منډې وهلې. د هر چا له بدنه وینې روانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه پښه له زنګونه پرې وه. هغه خپله غوڅه شوې پښــه پورتــه پورته غورځوله او خوشحالي يې ورته کوله. ما ته يــې پــام شــو. پښه يې زما خوا ته وار کړه. پښــه يــې پــه هــوا کــې څرخېـدلې څرخېدلې راغله. نږدې وه چې پــه سر مــې ولګېــږي خــو بېرتــه وګرځېده او د خپل څښتن خوا ته ورغله.

د یوې ښځې له نسه کولمې راوتلې وې. هغې د خپلو کولمو له دوو سرونو نه نیولی و او د رسۍ غوندې يې تاوولــه او ټوپونــه يــې وهل. ما ته يې چې وکتل، کولمې يې را پســې خطــا کــړې. کــولمې راغلې او له غاړې نه مې چاپېرې شوې. سختې را پورې ونښــتې. راکش يې کړم. په ځټ ولوېدم.

هاهاهاها. ټولو وخندل.

بېرته را پورته شوم.

د بل چا سر نه و. ګورم چې سر يې تر تخرګ لاندې نیولی و.

په بل باندې يې غږ وکړ: واليبال کوې؟

هغه چې يوه سترګه يې مخې ته غورځېدلې وه، خپله ســترګه يــې پورته کړه، ويې ويل: راځه!

پرې سري خپل سر ور واچاوه. دواړو واليبــال ور بانــدې شروع کړ.

څو دقيقې يې واليبال وکړ او بيا يې سر زما خــوا تــه ډېــر کلــک شوټ کړ. سر په چټکۍ زما خوا ته راغی.

منډه مې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سر کټ کټ خندا مې اورېدله چې وار په وار را نږدې کېده.

منډه مې تېزه کړه. له شا را پسې شور جوړ و.

مخ مې واړاوه. د چا سترګه، د چا غوږ شوی لاس، د چا پرې شوې پښه، د چا سر، د چا کولمې ټول را پسې وو.

هر یوه نارې کړې:

- ویې نیسئ!
- را ټینګ یې کړه!
- مه یې پرېږده!
- هلئ!

زه مخکې او دوی په منډه را پسې وو.

ځغله ځغله ځغله، یوې سمڅې ته ورسېدم.

ورننوتم. څو پورې چې مې سترګو کار کاوه، منډې مې په کې وهلې. بیا نو تیاره زیاته شوه.

ودرېدم.

غوږونه مې څک کړل.

شور ما شور نه و. یوازې خپله ساه او د زړه دربا مې اورېدله.

شا ته مې وکتل. سر او پښه او سترګه او کولمې ... را پسې نه وو.

ساه مې بنده بنده کېده. حلق مې وچ و.

کېناستم.

د سمڅې ډډې ته مې تکیه وکړه. خولې را باندې ماتې وې. شېبه وروسته لوند خیشت وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ورو مې ساه سمه شوه.

اوس څه وکړم؟

بېرته له سمڅې نه وځم که همدلته پاتې شم؟

د باندې مې څه دي نو چې ورشم؟

نور نو د زغملو نه و.

دا څه حال دی چې هر څه نورو ته نعمت دی خو ما ته عذاب دی. که په دوزخ کې وای نو زغمل به یې آسانه وو ځکه چې ټولــو بــه زما غوندې يو شان عذاب ګاله. خو اوس هر چا خوندونه اخيستل خو ما بد خوندي.

زما دوزخ که په دوزخ کې وای نو باک به يې نه و خو غم دا و چې زما دوزخ په جنت کې و. بلکې جنت پخپله زما دوزخ و.

پاڅېدم.

په سمڅه کې وړاندې روان شوم.

په اول سر کې څه نا څه رڼا وه. د پښو د اېښودلو ځای مې سهي کولی شو. څومره چې وړاندې تلــم، رڼــا هماغــومره کمېــده. نــه پوهېدم چې ګامونه مې پر څه شي ږدم او مخې ته مــې څــه دي، بس روان وم.

لاسونه مې د ړندو غوندې مخــې تــه نيــولي وو. د هــر ګــام پــه اېښودلو سره ډارېدم چې تيندک ونه خورم يا مې سر په څــه شي ونه لګېږي خو بيا هم روان وم.

همداسې تلم تلم تلم او په مطلقه تاريکي کې ډوبېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بالاخره په تیارو کې پسې ورک شوم.

پای

۲۰۲۲ د مارچ ۳۰

بامبرګ، جرمني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**